د کانو او پطرولیمو وزارت

د افغانستان اسلامی جمهوریت

Afghanistan Watch
دیده‌بان افغانستان



# د طبیعی سرچینو
# د راویستلو لپاره تیاری

د طبیعي سرچینو د سوله ییزو او شفافو راویستلو په منظور

د افغانستان د مدني تولني لپاره د زده کړي لارښود

فهرست


د افغانستان څار موسسې په اړه ........ ۹

د نړيوال حقوقي ارګان (ګلوبل رايټس Global Rights) په اړه ........ ۹

اجرايوي مهم ټکي ........ ۱۰

سريزه ........ ۱۱

هدف ........ ۱۲

ځمکه ........ ۱۵

اوبه ........ ۱۵

کانونه ........ ۱٦

د عينکو د مسو کان ........ ۱٦

حاجيګک ........ ۱۷

نفت او ګاز ........ ۱۹

د امو د سيند نفتي حونزه ........ ۱۹

د افغان-تاجيکستان نفتي سيمه ........ ۲۰

دولت ........ ۲۲

مرکزي دولت ........ ۲۳

ملي شورا ........ ۲٤

ولايتي او سيمه ييز حکومت ........ ۲٤

غيردولتي لوبغاړي ........ ۲٤

بهرني هېوادونه ........ ۲٥

د دولت د بشري حقونو مکلفيت ........ ۲٥

پلي کوونکي ........ ۲٦

د کانونو او نفتو د راويستلو شرکتونه ........ ۲٦

پانګه اچوونکي ........ ۲۷

د ژوندانه د چاپيريال د اغېزو ارزوونکي او نور حرفه يي سلاکاران ........ ۲۸

د خدمتونو د وړاندې کولو تړون کوونکي او نور سازمانونه ........ ۲۸

امنيتي شرکتونه ........ ۲۸

پلي کوونکي ........ ۲۹

د کانونو او نفتو د راويستلو شرکتونه ........ ٢٩

پانگه اچوونکي ........ ٣١

د ژوندانه د چاپېريال د اغېزو ارزوونکي او نور حرفه يي سلاکاران ........ ٣١

د خدمتونو د وړاندې کولو ترون کوونکي او نور سازمانونه ........ ٣٢

امنيتي شرکتونه ........ ٣٢

د شرکتونو په اړه کليات ........ ٣٢

عام، دولتي او خصوصي سهامي شرکتونه ........ ٣٣

اغېز منونکې ټولنې ........ ٣٥

مدني ټولنه او رسني ........ ٣٥

مدني ټولنه ........ ٣٥

کانونه ........ ٣٨

په کم مقياس او ابتدايي بڼه د کانونو استخراج ........ ٣٩

د کانونو صنعتي استخراج ........ ٤٠

د کانونو د استخراج له پاره "لوړ " مراحل ........ ٤١

دکانونو د لوړ صنعت مراحل يا (Upstream Industry) ........ ٤٢

نفت او گاز ........ ٤٣

د نفتو د صنعت دسته بندي ........ ٤٣

د نفتو او گازو اکتشاف يا لوړ مراحل (E&P) ........ ٤٣

د اکتشاف او توليد مرحله: (E&P) ........ ٤٣

٢ –د نفتو د اکتشاف او توليد په برخه کې د ځاگانو کېندنه: (E&P) ........ ٤٤

٣-د اکتشاف او د نفتو د توليد مرحلې (E&P): ........ ٤٤

بالقوه اغېزې ........ ٤٥

ځمکه ........ ٤٦

د مالکيت د سلب او نورو ضررونو په اړه د خساراتو جبران ........ ٤٦

د ژوند چاپېريال ........ ٤٨

اوبه ........ ٤٨

بېکاره او باطله مواد ........ ٤٩

د کان د اسیدونو تخلیه ........ ۵۰
د کان ترل ........ ۵۰
........ ۵۰
گاز ........ ۵۰
د گازو اور اخیستنه ........ ۵۰
ضایعات ........ ۵۱
امنیت ........ ۵۱
د خلکومهاجرت ........ ۵۲
فرهنګي او تاریخي سیمې ........ ۵۲
روغتیا ........ ۵۲
صنعتي استخراج ........ ۵۲
په صنعتي ډول د کانونو استخراج ........ ۵۳
اقتصاد ........ ۵۳
بالقوه ګټې ........ ۵۳
لا ډیرې پیسې ........ ۵٤

د استخدام په اړه د ژمنو نه عملي کېدل ........ ۵٦
محلي ظرفیتونه ........ ۵۷
د "محلي" ټکي مفهوم څه دي؟ ........ ۵۸
د خدماتو وړاندې کول او زېربناوي ........ ۵۸
قانوني چوکاټ ........ ۵۸
منځپانګه ........ ۵۹
د فاحش توازن نشتوالي ........ ۵۹
ځمکه ........ ٦۰
قانوني چوکاټ ........ ٦۰
د اجارې او ملکیت ډولونه ........ ٦۰
ملي قانون ........ ٦۰
اسلامي قوانین ........ ٦۱

اداره ............ ٦١
ملي قانون ............ ٦٢
په زور سره نيول............ ٦٢
اسلامي قانون ............ ٦٣
نړيوال معيارونه ............ ٦٣
اوبه ............ ٦٤
قانوني چوکاټ............ ٦٤
اسلامي قانون ............ ٦٥
اداره ............ ٦٥
د اوبو د کارونې لومړيتوبونه ............ ٦٥
ملي قانون ............ ٦٥
اداره ............ ٦٦
عامه ګډون او معلومات ............ ٦٨
ملي قانون ............ ٦٨
د نفتو او کانونو راويستنه ............ ٧٠
قانوني چوکاټ............ ٧٠
اداره ............ ٧١
د جواز ورکولو پروسه............ ٧١
د جوازونو ډولونه............ ٧١
د کانونو د کشفولو جواز............ ٧١
له کانونو د ګټې اخيستنې جواز............ ٧١
د کار د ترسره کولو د وړتيا مطالعه............ ٧٢
د ټولنې پرمختيايي هوکړه ليک ............ ٧٣
د جواز فسخ کول............ ٧٣
د کانونو له راويستنې ترلاسه شوي عايد ............ ٧٤
کار............ ٧٥
قانوني چوکاټ............ ٧٥

ساتونکې تګلارې ........ ٧٦
قانوني چوکاټ ........ ٧٦
بشري حقوق ........ ٧٧
قانوني چوکاټ ........ ٧٧
د خنډونو مدیریت ........ ٧٩
سناریو ........ ٧٩
د سیمه ییزو ټولنو پیاوړې کوي ........ ٨٢
د سیمه ییزو ټولنې تنظیمول ........ ٨٢
د ټولنې د اراضي حقوقي پیاوړتیا ........ ٨٢
د سیمه ییزو معلوماتو د یوه مرکز جوړول ........ ٨٣
د ټولنې د پیوستون اړتیا ........ ٨٤
د ټولنې د سلا ورکولو د پروتوکول په اړه ........ ٨٥
د ټولنې د پروتوکولونو ارزښتونه ........ ٨٦
د اجتماعي اغېزو د ارزونې آسانتیا ........ ٨٧
د ټولنې تر مشري لاندې د اغېزو ارزونه ........ ٨٨
د ټولنې تر مشري لاندې د اغېزو د ارزونې ارزښت ........ ٨٨
د ټولنې تر مشري لاندې د اغېزو د ارزونې د پروسې څرنګوالي ........ ٨٨
د ټولنې تر مشري لاندې د اغېزو له ارزونو استفاده ........ ٨٩
د ټولنې د پراختیا د هوکړې په اړه مشوره ........ ٨٩
د مذاکرې وړ هوکړو په اړه ........ ٨٩
د CDA په اړه موضوعات: ........ ٩٠
له ټولنو څخه ملاتړ ........ ٩١
انفرادي که جمعي نظارت ؟ ........ ٩٢
د یوې ابتدایي مطالعې تر سره کول ........ ٩٣
د اطلاعاتو ډولونه ........ ٩٤
د اغېزو ډولونه: ........ ٩٦
معلومات ورکونکې پالیسي، د د ولت کړنلاره او رکنونه ........ ٩٧
امنیت ........ ٩٨

د لاربښود د خطوطو او د زده کړې د موادو وده يا انکشاف ........ ۱۰۰
سيمه ايز ظرفيتونه ........ ۱۰۱
ځواب ويل ........ ۱۰۲
د پروژې او شرکت څېړنه ........ ۱۰۳
ارګانونه او د فشار مقامونه ........ ۱۰۵
تاکتيکونه ........ ۱۰۵
يوه شکايت پاڼه يا عريضه وړاندې کړئ ........ ۱۰۶
ليدنه اومذاکره ........ ۱۰۶
د عامو خلکو په وړاندې سوله ييز لاريونونه ........ ۱۰۶
رسنۍ په جريان کې واچوئ ........ ۱۰۷
د دولتي چارواکو تر فشار لاندې راوستل ........ ۱۰۸
ضميمه ........ ۱۰۹
تعريفونه ........ ۱۰۹

**د چاپ حق د افغانستان ښار او ګلوبل رایټ (یا نړیوال حقوق): او د عدالت لپاره د مرستندویانو لپاره محفوظ دي.**

**لومړي سمونه یا ایډیټ:** جون ۲۰۱۴

**د پوښتي انځور:** لیـــن ډي برویکر (Lien De Brouckere)

**موږ هغه چا ته چې د دې کتاب کومه برخه د سیمه ییزو او کلیوالي اړتیاوو لپاره بیا چاپوي او یا یې ترې اخلي ښه راغلاست وایو. د خپرونو لپاره په کتابي بڼه د دې کتاب بیا چاپول محفوظ دي او دا کتاب نه باید د پلورلو لپاره ووېشل شي. هر سازمان یا کوم کس چې د سوداګري لپاره د دې کتاب د کومې برخې او یا ټول د دویم ځلي خپرولو او یا اقتباس غوښتنه لري باید چې له خپروونکو سره یې خبرې وکړي.**

د افغانستان ښار موسسې په اړه

د افغانستان ښار یو مخکښ مدني، خپلواک، نادولتي او غیر سیاسي ارګان دي چې د افغانستان د جمهوري اسلامي دولت په اقتصاد وزارت کې ثبت شوي دي. دغه ارګان د یوې ولسواکې، آرامې، بردبارې او عادلانه ټولنې په هیله دي چې په هغې کې ټول ښاریان د انساني پوټنشیل د ترلاسه کولو لپاره له یو ډول فرصتونو څخه ګټه واخیستي شي.
د ارګان ماموریت هغو فعالیتونو ته ژمن دي چې سوله، عدالت، یو د بل فرهنګ منل او په افغانستان کې انسانانو ته د درناوي د دودولو لپاره ترسره کوي. دا ارګان په پیاوړې توګه د بنسټیزو ارزښتونو په عنوان سره د ولسواکي، عدالت، حقوقو او د هېواد متوازنه ثبات لرونکې پراختیا، بې طرفي، خپلواکي او نور یې د فعالیتونو لارښوونکي دي.

د نړیوال حقوقي ارګان (ګلوبل رایټس Global Rights) په اړه

په ۱۹۷۸ م کال د دې ارګان بنسټ کېښنودل شو. ګلوبل رایټس یو د بشري حقوقو سازمان دي چې په افریقا، آسیا او لاتینه امریکا کې په هغو خوځښتونو په لټه کې دي چې هغوي د هغو حقوقي ټولنو لپاره کار کوي چې د جنسیتي، قومي، نژادي، اقتصادي او اجتماعي وضعیت، جنسي هویت او یا هم د معلولیت له امله څنګ ته شوي دي. موږ د هغو سازمانونو په منځ کې چې په دې برخه کې کار کوي، د کاري لارې لایحې له مخې او دا چې د ټولنې له منځ څخه لوړه اغېزه لري، د زده کړې او روزنې ټلواله، د کسانو او سازمانونو تر منځ د مشارکت رامنځ ته کول چې اوږدمهاله روښوالي او تلپاتې بدلون راولي رامنځ ته کوي او تر فرد پورې تړلي یو.
ګلوبل رایټس د خپل بنسټیز فعالیت له امله چې همکاران یې د بشري حقوقو د تر پښنو لاندې کوونکو د څرګندولو او مستند جوړولو، د ډله ییزو خدمتونو ترسره کول او همغږې کول، د قانون او سیاست د بهتره کولو ملاتړ، د قانوني او حقوقي خدمتونو برابرول غښتلي کوي.

اجرايوي مهم ټکي

دا لارښود د افغانستان د مدني ټولنو لخوا ترتيب شوي او هدف يې په سوله ييزه توګه د کانونو سم او ګټور راويستل دي. په سريزه کې مو د دې لارښود اړتيا ته په دې توګه اشاره کړې ده: د افغانستان اسلامي جمهوريت غواړي چې له کانونو څخه په سمه، قانوني او شفافه توګه ګټه واخيستل شي. د دې کانونو عايد به په نظامي او ملکي برخو کې لګېږي. افغانستان به د دې کانونو د بې شمېره عايداتو په مټ په دې وتوانېږي چې په نورو هېوادونو باندې له متکي کېدو څخه خلاص او خپل لګښتونه په خپله تر لاسه کړي. افغان دولت او هغه شرکتونه چې د کانونو د استخراج کاروبار کوي، دواړه بايد په سمه توګه دا پلان پلي او عملي کړي. په دې توګه به د سيمې پر امنيت، پووالي، کرنې، مالداري. .. مثبته اغېزه وکړي او هغو کسانو ته به ګټور وي چې د کانونو په درلودونکو سيمو کې ژوند کوي.

۱_ برخه: د افغانستان د طبيعي شتمنيو لکه ځمکې، اوبو، کاني زېرمو ( عمده برخې يې د مس عينک او د حاجيګک د اوسپنې کانونه دي) په اړه بحث کوي.

۲_ برخه: يې هغو کسانو ته ځانګړې شوې ده چې په کان پورې اړونده کارونه پر مخ بيايي، په دې برخه کې د دوي رول او مسوليت ته اشاره شوې. دا برخه د کان په اړه څلور اړخونو ( دولت، اجراکونکي ( شرکتونه او راويستونکي) اغېزمنې ټولنې (مدني ټولنې او رسني) مسوليتونه، په تېره بيا د بشر د حقوقو په اړه مکلفيتونه را نغاړي. )

۳ برخه: دا برخه د کانونو پر راويستنه او د راويستنې پر بهه خبرې کوي. په دې برخه کې هغه کارونه را اخيستل شوي دي چې د کان په راويستنه پورې اړه لري، د بېلګې په توګه: دا برخه د کان د راويستنې ټول پړاونه په ځنګ کې نيسي، په دې برخه کې د نفت او ګازو يادونه هم شوې ده. دا برخه په دقيقه توګه هغه ستونزې رانغاړي چې د کان له استخراج سره تړلې دي. د کان استخراج پر روغتيا، چاپېريال، زراعت، مالداري، د اوبو پر زېرمو، ښځو، ماشومانو او ټولو ژونديو موجوداتو منفي اغېزې تر بحث لاندې راولي. له بل لوري د کان له استخراج سره ځيني کسان اړ کېږي چې خپلې سيمې پرېږدي، تاريخي او فرهنګي ځايونه هم د کانونو په استخراج پورې تړلي دي چې بې اغېزې نه پاتې کېږي. خو دا برخه له دې سره سره د کان د سيمې له پاره ګټوره هم ده. په سيمه کې کار پيدا کېږي، خلک عايد تر لاسه کوي او دا د دوي په اقتصاد کې مثبت رول لري. د کتاب په دې برخه کې په ټولو هغو منفي او مثبتو اړخونو خبرې کېږي چې د کان په استخراج پورې تړلې دي.
۴ برخه: دا برخه د کان د استخراج قانوني اړخونه تر څېړنې لاندې نيسي. په دې برخه کې به د دافغانستان او بين المللي قوانيونو له مخې پر دې خبرې وشي چې د قانون له اړخه د ځمکې، چاپېريال، د نفتو او نورو کانونو د استخراج د کارکوونکو، د هغوي د حقوقو، د بين المللي حفاظتي سېستمونو، د بشر د حقوقو او د کان د راويستنې په صورت کې د قوانينو له مخې نور کوم ټکي مهم دي چې بايد په پام کې ونيول شي.
۵ برخه: په دې برخه کې د مدني ټولنو له پاره هغه ټول وسايل او د اړتيا وړ مواد په پام کې نيول شوي چې د لومړي او څلورمې برخې د موضوعاتو له پاره اړين دي. دا برخه د فعاليتونو له پاره يو زماني جدول په پام کې نيسي، په دې برخه کې په دې هم خبرې کېږي چې د سيمې اوسيدونکي څنګه پياوړي شي؟ له کانونو نظارت په څه ډول کېداي شي او د دولت او کمپنيو ( استخراج کونکو ) د کار طريقه او حساب ورکونه په څه ترتيب صورت نيسي؟
همدارنګه ځينو هغو ټکو او مغلقو اصطلاحاتو ته هم اشاره شوې چې په کتاب کې راغلي دي. دا توضيحات به له تاسو سره مرسته وکړي چې د کتاب په مطالعه کې کومه ستونزه ونه لرئ او په هر څه په روښانه توګه وپوهېږئ.

**سریزه**

**د دې لارښود اړتیا:**

په افغانستان کې د کانونو استخراج په زرګونو کاله سابقه لري. تقریبا ۶۵۰۰ کاله پخوا په دې هېواد کې په سرو زرو، مسو، زمردو، کهربا، یورانیمو او د ډېرو په سکرو پسې کېندنې شوې دي. هغه وخت دا کېندنې په ساده وسایلو تر سره کېدې او تر ډېره په فردي وړتیا او ځواک تکیه کېده. په دې مانا چې د کانونو د کېندلو له پاره له فزیکي وړتیا او ساده لومړنیو وسایلو څخه ګټه اخېستل کېده. ډېري دا وسایل بېل، کولنګ، تېشي... او نور و. وروسته بیا د لاجوردو د تر لاسه کولو له پاره له باروتو او نورو چاودېدونکو موادو څخه هم کار اخیستل کېده. دا کېندنې به د زورورو او هغو کسانو له خوا تر سره کېدلې چې په سیمه یې حاکمیت درلود. ځینو جنایتکارانو هم دا ډول کېندنې کولې، سیاسون، جګړه مار او قاچاق وړونکي هم د کانونو په کېندلو بوخت وو او په غیر قانوني توګه به یې له دې لارې عاید تر لاسه کاوه. دوي به تر لاسه شوي قیمتي تېږې نورو هېوادونو ته د قاچاق توګه وړلې او خپل جیبونه به یې ډکول.

خو د کلونو په تېرېدو سره دا وضع ورو ورو بدله شوه، په تېره بیا د افغانستان اوسني دولت غواړي چې کانونه په قانوني توګه استخراج او له دې لارې خپله دولتي بودېجه پیاوړې کړي. د یوې څېړنې له مخې، که د افغانستان کانونه په سمه او قانوني توګه استخراج شي، نو افغان دولت له دې لارې له یوه تر دریو ترېلیونو امریکایي ډالر په لاس راوړلای شي. دا شتمني د هېواد د اقتصاد په پیاوړتیا او د نورو له احتیاجه د ژغورلو له پاره مهمه ده. اوس مهال د افغان دولت۹۰٪ بودېجه د نړیوالو په مرسته ولاړه ده. افغان دولت وایي چې د کانونو د استخراج په صورت کې به تر ۲۰۳۰ میلادي کاله پورې د دې هېواد پنځه سوه زره تنه ( نیم میلیون افغانان ) کار پیدا کړي او دا کانونه به د هېواد تر ۵۰٪ زیاد ناخالص تولید پوره کړي. ۱ د افغانستان جغرافیاوي موقعیت چې د منځنی اسیا د ګازو او نفتو د دوو غني حوزو په میځ کې واقع دي ( هند او چین )، د دې لامل شوي چې دا هېواد د انرژي د ترانزیت په یوه غوره او اقتصادي لاره بدل کړي. ۲

افغان دولت د خپلو کانونو په اړه دوې دورې په پام کې نیولې دي. لومړي یې لنډ مهاله دوره ده چې د هېواد د شمالي برخو له ګازو، نفتو او سرو زرو څخه ګټه اخیستنه په پام کې نیول شوې ده او دوهمه یې هم اوږدمهاله دوره ده چې د دې هېواد له دوو پیژندل شویو مهمو کانونو څخه به ګټه پورته کوي.

لومړي کان د لوګر د مس عینک کان دي. ویل کېږي چې له دې کان څخه ۴۶ ملیارده ډالر په لاس راتلای شي او دوهم یې هم د حاجیګک د اوسپنې کان یاد شوي چې مجموعي ارزښت یې ۳۴۰ میلیارده امریکایي ډالره اټکل شوي دي. دا کان د افغانستان د جواهرو په نوم هم یادېږي چې د بامیان او میدان وردک د ولایتونو تر مینځ پروت دي. تمه کېږي چې تر ۲۰۳۰ میلادي کاله پورې له دې دوو کانونو څخه په مشترکه توګه په کال کې۹۰۰ میلیونه ډالر د افغانستان بودېجې ته ولوېږي او په دغو پیسو د دې هېواد اقتصاد پیاوړي شي. خو په دې هېواد کې له سولې پرته د دې کانونو استخراج ستونزمن کار دي. له بلې خوا که وغواړو چې دا عاید تر لاسه کړو، یوې سالمې ادارې، ټولنیز عدالت او د خلکو تر مینځ د جنجالونو حل ته اړتیا لرو. ځکه د کان له استخراج سره نا امني او نور مسایل تړلي دي. له بل لوري تجربو ښودلې، په کومو ځایونو کې چې د کان د استخراج خبره راپورته شوې ده، نو هلته له بشري حقوقو څخه سرغړونه شوې، چاپیریال ته تاوان رسېدلي او ځینو زورورو خلکو د ځان په نفع ګټه پورته کړې ده. نو د دا ډول تهدیدونو له مینځه وړل لومړني او اساسي کار ګڼل کېږي.

دې ټکو ته په پام سره چې شاید د کانونو د استخراج پر مهال را پورته شي، مدني ټولنې ( څه نن، څه سبا) مهم نقش لوبولي شي. دوي کولای شي چې مثبت اړخونه پیاوړي او منفي برخې لا پسې کمزورې کړي او یا یې هم له مینځه یوسي.

تر دې دمه په افغانستان کې ډېر پام د کانونو استخراج، شفافیت، او د قراردادونو مدیریت ته ور اوښتي دي. دا لارښود په دې یادوو شویو برخو ډېر بحث نه کوي، بلکې ډېر پام یې په دې اړه دي چې له مدني ټولنو سره څنګه مرسته وکړي تر څو د کانونو پر ټولو اړخونو پوه شي او په دې اړه معلومات تر لاسه کړي. په دې توګه به مدني ټولنې د کانونو له اړخه په را ټوکېدونکو ستونزو، شفافیت، د

خلکو تر مينځ په جنجالونو او په ټوله کې د کانونو د استخراج په اړه کافي معلومات ولري او د دې ستونزو په مخنيوي کې به يې تر وسه خپل مسوليت ادا کړې وي.

**هدف**

د دې تعليمي لارښود اصلي مخاطبان د افغانستان مدني ټولنې دي. په دې کې محلي شوراګانې او (NGOs) يا غير دولتي سازمانونه، دواړه راځي. دا لارښود، دواړو اړخونو ته د کانونو د استخراج، په تېره بيا د نفت او ګازو د استخراج په برخه کې اړين او ګټور معلومات وړاندې کوي. د دې لارښود هدف دا دي چې دوي ته د افغانستان د طبيعي زېرمو په اړه جامع معلومات ورکړي، په دې يې وپوهوي چې د کانونو په برخه کې اصلي لوبغاړي څوک دي، څه کوي او د خلکو، چاپيريال او هېواد په اړه کوم مسوليتونه لري. دا هم ورته وايي چې د کانونو کېندل کوم مثبت او منفي اړخونه لري، قوانين په دې اړه څه وايي او د جګړو او د خلکو د خپلمنځي شخړو د مخنيوي په برخه کې د مدني ټولنو رول څه دي. په عمومي توګه، د دې لارښود اساسي هدف دا دي چې د افغانستان له طبيعي زېرمو څخه، څنګه په سمه او عادلانه توګه، د قانون له مخې ګټه واخيستل شي چې هېواد او خلکو ته مثبت اړخ ولري.
له همدې امله د همداسې يوه لارښود د درلودلو اړتيا وليدل شوه، د دې لارښود په اړه په لومړي ځل په ۲۰۰۳ م کال د نوامبر په مياشت کې په يوه ورکشاپ کې خبرې وشوې. د دې ورکشاپ کوربه توب د افغانستان څار (AW) او له طبيعي زيرمو څخه د نظارت د مدني شبکې (NRMN) پر غاړه و.
له طبيعي زيرمو څخه د نظارت مدني شبکه (NRMN) له څو جلسو او له مختلفو افغاني او نړيوالو مدني ټولنو سره له بحث څخه وروسته په ۲۰۰۳ ميلادي کال کې جوړه شوه. دا ارګان اوس مهال ۳۵ مدني ټولنې لري چې ټولې يې افغاني دي. دا ارګان او اړونده ټولنې يې په دې اړه کار کوي چې څنګه له کانونو څخه سمه او قانوني استفاده وشي، شفافيت، توازن او سوله را مينځته کړي او له کومې شخړې او ستونزې پرته کانونه په مناسبه او شفافه توګه استخراج شي. په دې توګه به د دې هېواد له کانونو څخه سمه استفاده وشي او عايد به يې د افغانستان په پرمختګ او ترقي کې ولګول شي.

په پيل کې د طبيعي زېرمو څخه د نظارت له پاره د ګلوبل رايټس له سازمان څخه غوښتنه وشوه چې په دې برخه کې د دې شبکې کارکوونکو ته روزنه ورکړي. که څه هم چې په دې ورکشاپ کې يواځې له کانونونو څخه د سم استخراج په اړه معلومات وړاندې شول، خو د زده کړې په لارښود کې ډېره هڅه شوې چې پوره او جامع معلومات را واخيستل شي. په دې لارښود کې د کان او په کان پورې نور هغه معلومات را ټول شوي دي چې د دولت، استخراج کوونکو موسسو او مدني ټولنو له پاره ضروري دي. په ټوله کې يې هدف دا دي چې کانونه په سمه او قانوني توګه استخراج شي.

منته: دا لارښود د بشر د حقوقو او ګلوبل رايټس د طبيعي سرچينو له مسول ليين د، بروکر، د عدالت له پاره د همکارانو لخوا ليکل شوي او ايډيټ شوي دي. د دې لارښود ليکل او د زده کړې ټکي د هغو تر سره شويو کارونو پر اساس راغلي دي چې د ګلوبل رايټس او د بشر د حقوقو په موسسه کې ليکل شوي دي. په دې لارښود کې د کمبوديا[i] له پولو ور هاخوا پلونه په عمل کې[ii] پراختيا او همکاري حقوق او ولسواکي[iii] او طبيعي عدالت[iv] څخه ګټه پورته شوې. کارتونونه يې هم د (زوي) [v] د چاپيريال ساتنې له شبکې څخه را اخيستل شوي دي۳. زه په ځانګړې توګه له هغو کسانو څخه مننه کوم چې د دې لارښود په ليکلو او لوستلو کې يې مرسته راسره کړې ده، وخت پر وخت يې مشورې راکړې او په دې اړه يې زيار ايستلي دي.

---

iBridge Across Borders Cambodia
iiDevelopment and Partnership in Action
iii Rights & Democracy
ivNatural Justice
vZoi Environment Network

له همدې امله له جاويد نوراني (د افغانستان د شفافيت له ديدبان څخه ) استيفن کارتر ( د ګلوبل ويټنسvi يا د نړيوالو مشاعدينو موسسه) کريستينا ام ويليګاس (د پکت له موسسې څخه) vii او ان تامسون ( د شينګل سپيت سلاکاره موسسه) viii څخه مننه کوم. همدارنګه د هغو کسانو د مينې پوروړي يم چې د ۲۰۱۳ کال د نوامبر په ورکشاپ کې يې برخه واخيسته او خپل مهارت او تخصص يې بشپړ کړ. د افغانستان د شفافيت د څار له غړو هر يوه جاويد کوهستاني او مريم کوشا او د افغانستان د څار د موسسې له کارکونکي جليل بينش د ( افغانايت د موسسې ) موسي محمدي څخه هم مننه کوم. د لوګر د مدني ټولنې له انجمن، عتيق صديق، ليه سروکا،ix راشيل ورهم،x د پانګې اچونې او کانونو د انکشاف USAID د يوه پايدار افغانستان توسعه يا (MIDAS) څخه هم مننوي يم. همدارنګه په ګلوبل رايټس ( نړيوال حقوق: د عدالت له پاره همکاران ) له همکارانو هر يوه الهام کاظمي، راشل جيمسونxi، سيمون التxii چې د ايډيټ په برخه کې يې نه سترې کېدونکې مرسته وکړه، د مينې او همکارې پوروړي يم.

دا اموزشي لارښود چې د يوې پيچلې موضوع په اړه ليکل شوي، شايد ځينې ستونزې ولري چې دا ټولې ستونزې په ما پورې اړه لري، که کومه تخنيکي ستونزه يا مشکل وينئ نو تمه لرم چې ومې بخښئ. له تاسو درنو لوستونکو څخه په درنښت هيله کوم چې د نيمګړتياوو په ليدو سره په دې ايميل ادرس اړيکه راسره ونيسئ.:

( leind@golobalrights.org)، په دې توګه به په دوهم چاپ کې ستاسو له نظرياتو څخه په استفادې سره دا معلومات تر دې هم ښه او بهتره شي.

---

viGlobal Witness

viiPact

viiiShinglespit Consultant

ixLeah Sorok

x Rachel Wareham

xi Rachel Jamison

xii Simon Ault

# افغانستان

# او ثروت طبيعي سرچيني

# ۱

ځمکه

زراعت تر اوسه لا په افغانستان کې د معيشت مهم اړخ ګڼل کېږي. د يوه اټکل له مخې تر ۵۰٪ ډېر افغانان په کرنه بوخت دي او له دې لارې خپل ورځني ژوند پر مخ بيايي. يو بل راپور وايي چې له اوياوو تر اتياوو فيصده افغانان د زراعت او مالداري تر څنګ په کانونو کې په غير معياري توګه غير قانوني کېندنې هم کوي. له بل لوري دا هېواد د نړۍ ۹۰٪ مخدره مواد توليدوي او د مخدره موادو په توليد، توريد او تجارت کې هم ونډه لري. ۴
څېړنو ښودلې چې په دې هېواد کې د ستونزو او خپلمنځي شخړو يو عمده علت طبيعي منابع دي، په دې مانا چې هر زورور کس په خپله سيمه کې هڅه کوي چې په غير قانوني توګه کانونه استخراج او پيسې يې خپل جېب ته واچوي. له بل لوري د خلکو تر مينځ پر اوبو او ځمکه هم شخړې را پيدا کېږي چې دا خپله د اندېښنې وړ ټکي دي۵.

اوبه

د اقليم وروستيو بدلونونو پر افغانستان هم منفي اغېزه کړې ده. له بل لورې بې وخته سيلابونه هم ډېري افغانان متضرره کړي دي او ګڼ مالي او ځاني تاوانونه يې ور رسولي دي. د افغانستان ۸۰٪ اوبه له غرونو سر چينه اخلي او دا هغه اوبه دي چې په غرونو کې د واورو د ويلې کېدو له امله هوارو ته راځي او خلک استفاده ترې کوي. د واورو ډېرې زېرمې د هندوکش په غرونو کې ښودل شوي دي.
امو يا پنج سيند د دې هېواد ۵۰٪ اوبه جوړوي۵، خو د دې هېواد د اوبو دا طبيعي زيرمې په دې وروستيو کې له خطر سره مخامخ شوې دي. د ښارونو د نفوس ډېروالي، په اوبو کې د کثافاتو اچول، نظافت ته نه پام، په ځينو ځايونو کې وړې کارخانې، کيمياوي مواد. ..د دې سبب شوي چې دا اوبه ککړې او په نتيجه کې يې خلکو او چاپېريال ته ګڼې ستونزې پيدا کړې.
په دې هېواد کې ۱۱ فيصده خاوره وچه او بياباني ده چې هيڅ اوبه نه لري. له بل لورې له زراعت سره سره،٦ د څښاک له پاره د پاکو او صحي اوبو درلودل هم مهم دي. د دې هېواد ۲۴ ٪ اوبه د څښلو وړ دي او ۳۱ ٪ خلک د څښلو پاکې اوبه لري. ۷ په افغانستان کې له ۱۹٦۰ميلادي کال را په دېخوا د وچکالۍ نښې ليدل کېږي او هر کال د ورښت اندازه دوه فيصده مخ په را ټيټېدو ده. د يوې وړاندوينې له مخې به د شلمې پيړۍ په پاي کې په ټوله نړۍ کې د حرارت درجه د سانتي ګيراډ په حساب له دوو څخه شپږ اعشاريه دوو ته لوړه شي او دا به پر افغانستان هم خپله اغېزه پر ځاى پرېږدي. دا هم ويل شوي چې د باران اندازه به يو اعشاريه شپږ انچه را ټيټه شي. که په ټوله کې ووايو، نو د هماليا د اوبو د زخيرو کمېدل او د يخچالونو ويلي کېدل به د افغانستان پر اوبو بې اغېزې نه وي او د دې هېواد سيندونه او د اوبو طبيعي زيرمو ته يو لوي خطر دي. د ملګرو ملتونو د چاپيريال ساتنې اداره وايي، افغانستان داسې يو هېواد دې چې د اقليمي بدلونونو له امله به بې اغېزې پاتې نه شي، دوي وايي چې له ۱۹۹۸ ميلادي کال را په دېخوا شپږ اعشاريه اوه ميليونه افغانان په خپلو سميو کې د اوبو د کمېدو له امله له ستونزو سره مخامخ دي. ۸ دا هېواد له ۱۹۹۸ _۲۰۰٦ او د ۲۰۰۸ _ ۲۰۰۹ کلونو تر مينځ له سختې وچکالي څخه ځورېده. په ۲۰۱۴ ميلادي کال کې هم دا هېواد د وچکالي له خطر سره مخامخ شو. له همدې امله په ډېرو سميو کې زراعتي حاصلا ت کم شوي، څاروي تلف شوي او په ځينو وچو سميو کې د سيلابونو د راتلو وېره ډېره ده. دا ځکه چې ځمکه وچه ده، وچه ځمکه د اوبو د جذب توان نه لري۹ او په داسې سيمو کې ډېر کم باران هم د سيلاب راتګ ته زمينه برابرولاي شي. د دې هېواد ډېرې سيمې د سيلاب راتګ ته مناسبې دي، سيلا ب له ځاني خطر سره سره، ځمکې هم وړي، د خلکو کورونه نړوي او د ډېر تاوان لامل ګرځي.

## کانونه

افغانستان مختلف کانونه لري، په دې هېواد کې قيمتي او نيمه قيمتي تېږي، مختلف فلزات، خاکي کميابه فلزات، ګران بيه فلزات، ذغال، نفت، ګاز او نور کانونه پيدا کېږي. د ځينو سنجشونو له مخې د دې هېواد کانونه له يوه تر دريو ترېليونو امريکايي ډالرو پورې ارزښت لري. ۱۰

شکل ۱- د افغانستان په نخشه کې د مختلفو کانونو ګازو او نفتو سيمې را ښيي. ۱۱




## د عينکو د مسو کان

دا کان د لوګر په ولايت کې موقعيت لري. د وړاندوينو له مخې دا کان ۵،۵ مليونه ټنه مرغوبه تېږي (high-grade) لري چې مجموعي ارزښت يې له ۴۳ تر ۴۶ مليارد ډالرو پورې تخمين شوي دي.څېړنو ښودلې چې دا کان به له ۲۰۱۶ ميلادي کال وروسته هر کال تقريبا ۵۴۱ مليونه امريکايي ډالر عايد يا درامد ولري. ۱۲ دا کان د دوو چينايي شرکتونو (د چين د ذوب او استخراج کمپني او د ژيانګ شي د مسو د استخراج کمپني ) لخوا د افغان دولت د کان له وزارت سره د يوه قرار داد له مخې را ايستل کېږي. په دې کان کې په ۲۰۰۸ کال کې تر ۳۵ مليونه ډالره ډېره سرمايه ګذاري وشوه. په قرار دا د کې د رېل پټلي ( خط )، استخراج، تصفيه، ۴۰۰ ميګاواټه برېښنا او د مسو د ذوب يا ويلي کېدو کارخانه هم راغلې ده. دا د افغانستان په تاريخ تر تر دې دمه تر ټولو لويه پانګونه ګڼل کېږي.

د ريپوټونو له مخې د دې قرار داد پر محتوا له سره خبرې رواني دي. په تېره بيا د پالايشګاه او د رېل د پټلي پر سر مذاکرات جريان لري. خو په نړۍ کې د مسو د ناڅاپي بيې را لوېدل۱۳ او په چين کې ځينو اقتصادي ستونزو دا خبرې ټکني کړې دي چې ځينو ستونزو ته لاندې اشاره کوو:

۱. فساد: د افغانستان د کان پخواني وزیر ابراهیم عادل په دې تورن دی چې په مناقصه کې یې جعل کاري کړې او (MCC) چینایي شرکت ته یې د قرار داد ورکولو په بدل کې ۳۰ ملیونه ډالره رشوت اخیستي دي. ویل کېږي چې دا پیسې د دوبي د یوه بانک له لارې اخیستل شوې دي. ۱۴ په خپله ښاغلي عادل دا تورونه ردوي، خو هغه خپل مقام له لاسه ورکړ او زنداني شو. ۱۵ کله چې د کانونه وزارت په کانونو پورې اړونده قراردادونه خپاره کړل، د عینکو د مسو قرار داد پکې نه و.

۲. امنیت: د راپورونو له مخې د مس عینک په مربوطاتو کې غلا او امنیتي ستونزې ډېرې دي، یواځې په ۲۰۱۳ کال کې پر دې سیمې نولس راکټونه لګېدلي چې افغان امنیتي ادارې یې د طالبا نو او نورو غیر مسوله وسلوالو لخوا ګڼي.۱۶په دې سیمو کې د کارمندانو د اختطاف وېره هم شتته، همدا علت دی چې چینایي (MCC) کمپني د خپلو کارمندانو رالېږلو ته زړه نه ښه کوي، دوی وېرېږي چې په سیمه کې به یې د کارکونکو ژوند ته ګواښ پېښ شي، له همدې امله یې شته کارکونکي هم له سیمې څخه وایستل، اوس په سیمه کې یواځې له څو امنیتي پوستو پرته بل څه نشته. خو د افغانستان د کانونه وزارت وایي چې په مس عینک او شواخوا سیمو کې امنیت خوندي دی. ۱۷

۳. د ډېرو د سکرو د کانونو بندېدل: افغانا دولت پرته له دې چې کارګرانو ته خبر ورکړي، د ډېرو د سکرو هغه کانونه بند کړل او کار یې ودراوه چې د مس عینک په قرارداد تړلي وو او استخراج یې روان و. د دولت په دې کار سره ۵۰۰۰ هغه کاریګر او د ډېرو د سکرو پلورونکي بیکاره شول چې له همدې کانونو څخه یې ډوډۍ پیدا کوله. دې کار د بامیانو د ولایت پر امنیت منفي اغېزه وکړه او د دولت ضد وسلوالو کسانو له دې کار څخه په استفادې سره ګڼ هغه کسان خپلو لیکو ته ور جذب کړل چې مخکې یې په دې کانونو کې کار کاوه.۱۸

۴. تاریخي ځایونه:په سیمه کې ځینې اثار چې په بودایي دورو پورې یې اړه درلوده، پیدا شول، له همدې امله چینایي کمپنۍ اړ شوه چې د کیندنې کارونه ودروي.

۵. د فسفیت ( د فاسفوریک اسید مالګه ) کموالي: تېر کال روښانه شوه چې افغانستان لکه څنګه چې یې چینایي کمپنۍ (MCC) ته ویلي و، برخلاف کافي فسفیت نه لري، له دې موادو څخه د مسو د ویلې کېدو له پاره ګټه اخیستل کېږي. له همدې امله یې دا کار نور هم ټکنی کړ.

## حاجیګک

د افغانستان د اوسپنې کانونه د بدخشان او هرات تر مینځ پر یوه اوږده لیکه پراته دي. دا مسیر څو سوه کیلومتره اټکل شوی دی او له تاجکستانه نیولې ان تر ایرانه پورې امتداد لري.۱۹ خو په دې مسیر کې تر ټولو مشهور او پیژندل شوی کان، د حاجیګک د اوسپنې کان دی. دا سیمه د بامیان او میدان وردګو ولایتونو په مینځ کې پرته ده. دا کان د وسعت او کیفیت له مخې د افغانستان د جواهرو په نوم هم یادېږي. د ځیو څېړنو له مخې حاجیګک یو اعشاریه اته ملیونه ټنه خالصه او د ښه کیفیت درلودونکې اوسپنه لري. د دې زېرمې مجموعي ارښت له ۳۴۰ تر ۳۵۰ ملیارده امریکایي ډالره ښودل شوی دی.

د افغانستان د اوسپنې او فولادو د کنسرسیوم (AFISCO) لخوا یو هندي شرکت (SAIL)i چې مدیریت یې د هندوستان د دولت پر دولت پر غاړه دی او یو بل کاناډآیي شرکت (Kilo) چې د کانونو په برخه کې کار کويii په ۲۰۱۰ میلادي کال کې د حاجیګک د د کان د قرار داد وړونکي وپیژندل شول. خو د افغانستان د اوسپنې او فولادو کنسرسیوم او دا دواړه شرکتونه تر اوسه لا د قرار داد

---

i Steel Authority of India Limited (SAIL)

ii Kilo Goldmines Ltd (Kilo)

او له کان څخه د اوسپني د استخراج پر سر خبرې کوي، ويل کېږي چې دا قرار داد به د افغانستان د کانونو د قانون له تصؤيب وروسته لاسليک شي.

نور کاني ځايونهi

په افغانستان کې د ليتيوم۲۰ لوي کانونه شته چې د څېړنو له مخې تر ۱۴۹ مليادرو دالرو ډېر ارزښت لري. ۲۱ اي ون ليتيومii يو پوست او انعطاف منونکي فلز دي چې د ايون ليتوم، د ليتوم پاليميرiii بيطريو، په برقي موټرونوivکې د انرژي، موبايلونو،v کمپيوټر او نورو برقي وسايلو په جوړولو کې ګټه ترې اخيستل کېږي. ۲۲ ځينې څېړنې ښيي چې په راتلونکې لسيزه کې به د نړۍ په کچه دې فلز ته ډېره اړتيا پيدا او بيه به يې يو په دوه شي. ۲۳ د ليتيوم زخېرې د غزني، هرات، نيمروز، او هلمند ولايتونو د اوبو په رسوباتو کې کشف شوې دي. vi ۲۴ خو د پورفيريvii (کاني تېږه) ډېر پاشلي دي او په شمال شرقي ولاياتو بغلان او تخار، همدارنګه په جنوب غربي ولاياتو هرات او فراه او جنوب شرقي ولايتو او مرکزي افغانستان، همدارنګنه د هلمند، کندهار، زابل ارزګان او غزني کې پيدا کېږي.

۶. د تنګستن کلاviiiذخيرې د باميانو او ننګرهار د ولايتونو له امتداده را نيولې، تر بدخشانه او هراته پورې رسېږي او تر کندهاره او دايکندې پورې ادامه پيدا کوي۲۵. د سرو زرو زېرمې ډېرې د هېواد په شمال شرق او په لومړې درجه کې په بدخشان کې موقعيت لري.۲۶. د قره دغن سرو زرو د کان د مناقصې قرارداد په برياليتوب سره پاي ته رسيدلي دي او مذاکرې يې مخ په خلاصېدو دي. د غزني د زرکشانو او کندلانو د کانونو او همدارنګه د بدخشان د کانونو په اړه هم خبرې رواني دي. ۲۷.

۷. د بوکسيت زېرمې ix ( د المونيم د تېږو کان) ډېرې دا کانونه په دايکندې او ارزګان کې موقعيت لري. خو وړې زخېرې يې په غزني او ميدان وردګو کې هم موندل شوې دي. ۲۸.

۸. د سرپو او روي زېرمې x دا زېرمې له بدخشانه رانيولې تر مرکزي افغانستانه او له هغه ځايه تر هرات او فراه پورې امتداد لري. ۲۹ خو تر ټولو لوي کانونه يې په باميانو او بدخشان ولايتونو کې کشف شوي دي. ۳۰.

په افغانستان کې نور کانونه هم شته چې باريتينxi، ګچxii، ګرافيتxiii، پګماتيتxiv (د خارا تېږې)، يادولي شو. ۳۱ د يوارنيم زېرمې په هلمند کې شته، ۳۲ او د مالګې کانونه په فارياب او تخار کې پراته دي. کروميت و طلقxv له کابله پيل تر غزني پورې امتداد لري، بيا تر زابله غزيدلي او کندهاره پورې ادامه پديا کوي. ۳۳ په دې هېواد کې ۴۰ ډؤله د مرمرو مختلفې تېږې موندل کېږي چې خپل ارزښت لري. د مرمرو دا تېږې په بدخشان، نورستان، کابل او غرب لور ته تر غور او دايکندې پورې موندل کېږي.۳۴.

---

iMore Area of Interest
iiLithium-ion
iiiLithium Polymer Batteries
ivElectric Car
vSmart Phone
viSedimentary Copper
viiPorphyry Copper
viiiTin and Tungsten
ixBauxite
xLead and Zinc
xiBarites
xii gypsum
xiii graphite
xiv pegmatite
xv- طلق يا تالک (Talc)، دا يوه نرمه ماده ده چې د هایدریت مګنازیوم سلیکات له مرکب څخه جوړه شوې او د کاغذ، پلاستیک، روغني رنګونو او د سينګار د وسايلو په جوړولو کې استفاده ترې کېږي.

نورې قيمتي تېږي لکه سره ياقوت i، زمردii، لاجوردiii، تورمالينiv (کهربا) په مختلفو ولاياتو لکه کابل، کاپيسا، بدخشان او لغمان کې پيدا شوې دي، خو اکثره يې په ډېرو ابتدايي لارو او وسايلو استخراج کېږي. ۳۵

نفت او ګاز

د افغانستان پولو ته نږدې د ډېرو د سکرو، ګازو او نفتو لويې زيرمې شته، ډېري دا زېرمې په شمالي ولاياتو تخار، بغلان، پروان او سمنګانو کې پرتې دي. پر دې سربېره هرات او بادغيس هم د ګازو او نفتو وړې زېرمې لري. ۳۶ د کانونه او پټروليم د وزارت د راپورونو له مخې درې سيندونه (فغان-تاجيکستان نفتي حوزه v، د امو نفتي حوزه، د هرات نفتي حوزه vi) هغه سمېې دې چې نفت لري. له دې سره ( د هلمند او کټواز نفتي حوزې )۳۷ هم د تيلو د مهمو زېرمو په توګه ثبت شوې دي. څېړنو ښودلې چې د هېواد د هايدروکاربن ترکيبات تقريبا ۲ تريليونه ډالره ارزښت لري. ۳۸

۹. د امو د سيند نفتي حونزه vii

د امو د درياب نفتي حوزه د فارياب او سر پل ولايتونو په سرحدي سيمه کې پرته ده. دا حوزه تر ۸۰ مليونه بيرله (بشکې) ډېر نفت لري ۳۹. نړيوال بانک وايي چې دا زيرمه په ورځ کې د ۲۵۰۰۰۰ بيرلو خامو نفتو د استخراج ضرفيت لري. د ۲۰۱۱ په دسمبر کې د چين د ملي پطروليم شرکت viii (CNPC) چې يو دولتي شرکت دي له يوه افغاني شرکت "وطن نفت و ګازix، سره په ګډه له افغان دولت سره د ۷۰۰ مليونو امريکايي ډالرو په ارزښت يو قرار داد لاسليک کړ، د دې قرار داد له مخې به دا دواړه شرکتونه له افغان دولت سره په ګډه د دې سيمې نفت استخراجوي. ۴۰ خو دا پروژه هم له لوژيستيکي او ترانسپورتي ستونزو سره مخامخ شوه، ځکه د موټرو په واسطه حمل او نقل ګران کار دي او نفت بايد د ترکمنستان او تاجيستان لهلارو تېر شي او د دې دواړو هېوادونو موافقه ولري، ربل هم د اوسپنې خط ( پټلي ) ته ضرورت لري۴۱. له بل لوري په سيمه کې امنيتي ستونزې هم شته.. ۴۲

---

iRuby
ii Emerald
iii lapis lazuli

iv Tourmaline
v - Afghan-Tajik Basin
vi - Heart Basin
vii -Amu Darya Basin
viii -China National Petroleum Corporation
ix- Watan Oil and Gas

شکل۲: د افغانستان مهمې نفتې سيمې ۴۳




**د افغان-تاجيکستان نفتي سيمه**

د وړانديوينو له مخې دا حوزه د امو د سيند تر حوزې ډېر نفت لري. په ۲۰۱۲ ميلادي کال کې د دې حوزې شپږ بلاکونه مناقصې ته وړاندې شول، په دې رقابت کې د ترکيې يو کنسرسيوم چې د ترکيش پټروليم ملاتړ ورسره دي، دراگن اويلi( امارتي نفتي شرکت )، کويټ پټروليمii (کويتي شرکت ) او غضنفر ( افغاني شرکت) د دې مناقصې غوره شرکتونه وپيژندل شول. ۴۴

۱۰. د تاپي د گازو پايپلاين ( TAPI Pipeline)

د ترکمنستان افغانستان، پاکستان او هند (تاپي) د گازو پايپ لاين تقريبا ۱۸۰۰ کيلومتره اوږدوالي لري. په پلان کې ده چې د ترکمنستان طبعي گاز د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته هم ورسېږي. په دې پروژه باندې له تېرو ۲۰ کالونو راهيسې خبرې روانې دي او که دا پروژه عملي شي، افغانستان به هرکال د ترانزيت له لارې سلگونه ميليونه امريکايي ډالر تر لاسه او د د دې هېواد په اقتصاد کې به مهم رول ولوبوي۴۵. د گازو د اخيستلو/پلورلو دا هوکړه ليک د اسيايي پراختيايي بانک جدي ملاتړته اړتيا لري. اوسمهال دا پروژه د ربل د پټلي د غزولو په مرحله کې ده، د دې پروژې د کار د پيل له پاره لا له اوسه تياري نيول شوي دي، دا تياري د ۲۰۱۵ کال د اګست په مياشت کې پلان شو او د پروژې کار به د ۲۰۱۷ کال په اګست مياشت کې پيل شي. ۴۶.

---

i- Dorgan Oil

ii - Kuwait Petroleum

# لوبغاړي، رول او مسوليتونه يې

# ۲

د مدني ټولنې له لوري [د طبيعي سرچینو له ګټه اخیستنې او راویستلو له بهیر څخه] اغېزمن ملاتړ، په ځانګړې توګه د سمې پوهاوي لپاره دا چې کوم کسان د طبیعي سرچینو د راویستلو په پروسه کې ښکېل دي، د هر یو رول او مسولیت څه دي. په قضیه کې د ښکېلو کسانو د مسولیت او د دوی د ډول په پېژندلو سره، د مدني ټولنې ارګانونه په اغېزمنه توګه کولای شي، په قصیه کې د هر ښکلې لوبغاړي د رول ضمانت وکړي او هغه واټنونه چې باید ډک کړل شي تشخیص شي. په دې برخه کې، موږ د طبیعي سرچینو د راویستلو د څلورو ښکلېلو ډلو په پېژندلو او معرفي کولو سره، همدارنګه د دوی هر یو د رول او ځانګړي مسولیت په اړه به د دوی د بشري حقوقو د مکلفیتونو په اړه هم خبرې وکړو.

۱۱. دولت د وزارتونو د رول او مسولیتونو او د مرکزي دولت د ارګانونو، پارلمان، ولایتي او سیمه ییزې ادارې، نادولتي لوبغاړي، بهرني دولتونه او همدارنګه د دولت بشري حقونه پېژني او تعریفوي یې.

۱۲. د طبیعي سرچینو د پروژې پلي کوونکي، د راویستونکو شرکتونو د پېژندنې مسولیت، پانګه وال، د ژوندانه د چاپېریال د ارزونې د سلاکارانو (EIAi) او نورو ضروري سلاکارانو، تړون کوونکي او د لوجستیکي او تخنیکي خدمتونو وړاندې کوونکيii، خصوصي امنیتي شرکتونه او همدارنګه د دې شرکتونو رول، د مالکیت بېلابېل جوړښتونه او همدارنګه د دې شرکتونو د بشري حقونو مکلفیت دي.

۱۳. اغېز منونکې ټولنې له " اغېز منونکې ټولنې " څخه بېلابېل تعریفونه لري چې په پراخه توګه کولای شو، هغوی د فزیکي، د ژوندانه چاپېریال، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي برخو کې چې د طبیعي سرچینو د راویستلو د پلي کولو په پروژه کې اغېز لري، پوه شو.

۱۴. مدني ټولنه او رسنې، د مدني ټولنې بېلابېلې ډلې، د دوی مسولیت او بېلابېل رولونه یې راپېژني او تعریفوي یې او همدارنګه ملي او نړیوالې رسنې.

د ډلو په منځ کې توپیرونه او طبیعي توپیر شته. یا په بل عبارت، د دې ډلو په منځ کې [د موضوع په اړه] یوه اندازه بېلابېل نظرونه او باورونه شته دي. باید چې هر یو ته که هغه د دولت کارکوونکي او یا هم د پروژې پلي کوونکي وي به یوه سترګه وکتل شي. دا واقعیت لري چې داسې واقعیتونه په ټولنه کې اغېز نه لري، کېدای شي ځینې کسان د کانونو د راویستلو مخالف وي، ځینې هم کېدای شي موافق او یوه ډله به د داړو مخالفو او موافقو کسانو تر منځ وي. په همدې ډول، د مدني ټولنې په منځ کې، د بېلو ګټو لرونکي بېلابېلې ډلې شته دي چې کېدای شي دا ځانګړتیا په ټولو ډلو کې شریکه نه وي.

دولت

حکومت او صلاحیت لرونکي ارګان، یا دولتي ارګانونه دي چې تصمیم نیسي چې آیا د کانونو د راویستنې کومه پروژه تر کار لاندې ونیسي کنه، که ویې نیسي په کوم ځای کې باید وي او څه ډول ترسره شي؟ یوه اندازه دولتي بېلابېل ارګانونه د کانونو د راویستلو د اجازې د صدور لپاره د بېلابېلو کمپنیو لپاره چې کار یې وارزوي او دا چې دوی څه ډولکار کوي په کار بوختې دي.۴۷ په کلي توګه، د دولت رول، تعریف، پلي کول، د سیاستونو او فعالیتونو پر همغږي څارنه او د کانونو د راویستلو په بهیر کې د ټولو ښکېلو لوبغاړو لپاره د قانوني چوکاټونو جوړښت او تصویبول دي.

---

i-Environment Impact Assessment

ii-Contractors and Suppliers

مرکزي دولت

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، د قانون د وضع کولو او ترسره کولو لپاره تر ټولو مهم رول شامل کړ. د خپلواکي ساتنه، د افغانستان ځمکني بشپړتيا او ملي پيوستون، له عامه نظم او حقوقو څخه ساتنه، د بوديجې برابرول، د مالي چارو قانوني کول او د عمومي دارايي ساتنه، د ټولنيزې، فرهنګي، اقتصادي او تکنالوژۍ۴۸ د پراختيا لپاره د پروګرامونو رامنځ ته کول او پلي کول بولي. دلته مور د يو شمېر وزارتونو او د افغانستان د دولت د کليدي ارګانونو لېست چې د قانون رامنځ ته کولو، د کانونو د راويستلو په صنعت څارنه او پلي کولو مسوليت لري، سره ددې چې د کانونو د راويستلو په وړاندې د هرې اداري مسوليتونو ته په کې اشاره شوې راوړو:

۱۵. د ولسمشري دفتر: د ټولو هېوادنيو مسايلو په وړاندې عمومي مسوليت لري.

۱۶. د کانونو او پټروليمو وزارت: د لومړني دولتي اداري ارګان په عنوان سره د (کانونو د لوړو لاسي صنايعوiii)، د پراختيا، تنظيم او توليد مسول او همدارنګه د کانونو د راويستلو او تصفيې مسول دي۴۹.

۱۷. د کورنيو چارو وزارت: د امنيت د ساتلو مسول دي. د افغانستان ملي پوليس د عينکو د مسو لپاره له ۱۵۰۰ ډېر ساتونکي لري چې له کانونو د ساتنې يو ځانګړي واحد لري. ټاکل شوې چې له کانونو څخه د ساتنې سرتېري له ۷۰۰۰ هم ډېر کړل شي چې د کانونو ټول فزيکي امنيت وساتي۵۰.

۱۸. د ملي امنيت شورا: په افغانستان کې د امنيت د تامين او ثبات مسوله ده.

۱۹. د بهرنيو چارو وزارت: د بهرنيو پانګه والو په ګډون له نورو هېوادونو سره د اړيکو د ټينګولو مسوليت لري.

۲۰. د ماليې وزارت: د مالي مديريت د پلي کولو، او دولتي عايداتو د راټولولو مسول دي۵۱.

۲۱. د ژوندانه د چاپېريال ساتنې ملي اداره: د تنظيم، تصديق، همغږي، د ژوندانه د چاپېريال قوانين پلي کوي او څارنه يې کوي او همدارنګه د مقرراتو ملاتړي يې دي.

۲۲. د کليو پراختيا وزارت: د افغانستان په کليو کې د بېوزلي د له منځه وړلو لپاره د متوازن پرمختګ او انساني امنيت د لوړولو مسول دي.

۲۳. د ښځو چارو وزارت: د ښځو چارو مسوليت لري، په ښځو د کانونو د پراختيا او را ويستلو اغېزو ته د رسېدو په ګډون.

۲۴. د وزيرانو تر منځ کمېټه (IMCiv): په افغانستان کې د راويستونکي صنعت د هر اړخيزې او پراخه څارنې مسوليت لري او همدارنګه د کانونو د سکتور د بهير له پرمختګونو څخه ټول دولتي ارګانونه خبروي. له قانون پلوه IMC يا د وزيرانو په کمېټه کې لاندې ارګانونه شاملېږي: د کانونو وزرات (رييس)، د ماليې وزارت (مرستيال)، د اقتصاد وزارت (غړي)، د سوداګري او صنايعو وزارت (غړي)، د بهرنيو چارو وزارت (غړي)، د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکه اداره (IDLGv) او د ژوندانه د چاپېريال ساتنې ملي اداره (NEPAvi).

۲۵. د اوبو او انرژي وزارت: په ټول هېواد کې د اوبو او برېښنا د برابرولو مسول، همدارنګه د اوبو د کيفيت، تنظيم، څارنې او لاسرسي مسوليت هم لري.

۲۶. د عامه فوايدو وزارت: ملي او نړيوالو بازارونو ته د کانونو د لېږلو لپاره د ټرانسپورتي تاسيساتو د جوړولو مسول دي.

۲۷. د سوداګري او صنايعو وزارت: د ټيټو لاسي صنايعو د تنظيم مسولvii(د کانونو پروسېس، پلورل او وېشل)، د کانونو تصفيه، لېږد، چې د توليداتو چې له راويستلو وروسته ترسره کېږي سرته رسوي.

---

iii-Upstream

iv- Inter-ministries committee

v-Independent Directorate of Local Government.

vi National Environment Protection Agency

vii- Downstream

۲۸. د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت: د کار د بازار د تنظيم او د تخنيکي، تحصيلي، او بېلابېلو سکتوروونو لپاره د کار د ځواک تيارول او زده کړې ورکولو لپاره موکې (فرصتونه) برابروي.
۲۹. د افغانستان د (جيولوژيکي) ځمک پوهنې سروې: د علمي، جغرافيايي، مطالعاتو اصلي پلې کوونکي ارګان، د ځمک پېژندنې د نقشه کولو په ګډون، ژيو شيمي او ژيو فزيکي سروې او همدارنګه د هغې سيمې ارزول چې کانونه په کې شته دي.
۳۰. د بشري حقونو خپلواک کميسيون: په ټول هېواد کې د وضعيت د څارلو مسول دي، د بشري حقوقو پرمختيا او ساتنه، د وضعيت څارنه او د خلکو اساسي آزاديو ته لاسرسي، د بشري حقونو د تر پښو لاندې کولو مواردو ته رسېدنه او په افغانستان کې د بشري حقونو د لوړوالي سنجش کړل.

ملي شورا

ملي شورا په افغانستان کې د قانون جوړونې تر ټولو لوړ ارګان دي۵۲ ملي شورا له دوو نورو مجلسونو جوړه شوې ده، ولسي جرګه او مشرانو جرګه.

ولايتي او سيمه ييز حکومت

پر وزارتونو او مرکزي دولت په ادارو سربېره، ولايتي او سيمه ييز حکومتونه هم د [کانونو د راويستلو او پراختيا په بهير کې] کليدي رول لوبوي. سيمه ييز او ولايتي حکومت هم د [کانونو د راويستلو او پروسېس] د څارنې او ارزونې لپاره کليدي رول لري.
سيمه ييزې پراختيايي شوراوې: دغه شوراګانې هم د پراختيايي، اجتماعي او انساني فعاليتونو لپاره مهم رول لري چې له ولايتي او سيمه ييزو لومړيتوبونه سره سم دي.

غيردولتي لوبغاړي

د يوه اټکل له مخې، په سلو د افغانستان ۸۰ سلنه کانونه د نادولتي لوبغاړو له خوا کنټرولېږي۵۳، سکاره، قېمتي ډبرې، د طلق پوډرviii، کروميت او نور معدني توليدات او مواد په ډېري توګه د مرکزي دولت له کنټرول بهر توليدېږي چې دولت د دې کانونو له راويستنې څخه هېڅ ډول امتياز نه شي اخيستي.۵۴ ځينې احصايې راښيي چې په ناقانونه توګه هر کال تقريباً درې ۳ ټنه سکاره نورو هېوادونو ته صادرېږي. که دا بهير ادامه پيداکړي، د افغانستان د کانونو صنعت يې د نشه يي توکو له صنعت سره سيالي کوي چې تقريباً د نړې ټول هيرويين بازار ته وړاندې کوي چې دا دواړه د ګنګسترونو او مافيايي ډلو له خوا کنټرولېږي.۵۵
د افغانستان د ملي کانونو تګلاره، د کانونو هر ډول ناقانونه راويستنه او پلورنه منع کوي او که څوک دا قانون مات کړي له قانوني چلند سره مخ کېږي. د ۲۰۱۳ کال په منځ کې، له ۱۴۰۰ د ډېرو شرکتونو او کسانو لېست چې په ناقانونه توګه يې د کانونو په راويستنه او سوداګري کې چې عبارت و له سکاره، کروميت، قېمتي او نيمه قېمتي ډبرې سرب، فلورايډix، طلق، د مرمر ډبرې، ضخره ډبره، شن او نورو کې لاس درلود خپور کړ.۵۶ له طبيعي سرچينو د څارنې شبکهx، په څلونو له مرکزي دولت څخه غوښتنه کړې چې د افغانستان د طبيعي سرچينو د غلا او چور مخه ونيسي او ناقانونه کارونه ودروي.۵۷

---

viii- پودر طلق يا تالک، (Talc or Talcum Powder)
ix- ايون معدنی عنصر فلورين (F۹)
x - Natural Resources Monitoring Network (MRMN)

بهرني هېوادونه

نور هېوادونه هغه وخت کولای شي د کانونو په پراختيا کې مهم رول ولوبوي چې ترسره کوونکي او يا راويستونکي شرکت تر کوم بل هيواد پورې تړلي وي. دغه رول کولاي شي په افغانستان کې د پانګه اچونې او سياسي نفوذ نيولې بيا د فني وړتياوو پورې په څنګ کې ونيسي.

په سفارتونو کې ديپلوماتان د فرصت په ترلاسه کولو او تشخيص کې له شرکتونو سره مرسته کوي او همدارنګه د بازار اړوند څېړنې کوي، هغه بيا په هېواد کې د ننه علاقه لرونکي شرکت ته وېشي. کله هم کېداي شي يو دولت د يوه سوداګريز ماموريت مالي ملاتړ وکړي چې ډېري وخت د لوړو سياسيونو له خوا د شرکت له استازو سره د يوې ځانګړې سيمې لپاره د سوداګري او کار لپاره اداره کېږي.

يو بهرني دولت، له کوربه هېواد سره، کېداي شي د يوې شخړې د حل او يا هم د يوه پانګه د يوې مطلوبې معاملې لپاره [په پروسه] کې لاسوهنه وکړي. همدارنګه دولتونه د دوه اړخيزه سوداګريزو تړونونو او د پانګونې د ژمنو د لاسليک لپاره ترڅو د هېوادونو تر منځ اړيکې ټينګې او سوداګريزې اسانتياوې رامنځ ته کړي له يو بل سره خبرې وکړي. ډېري هېوادونه بهرنيو هېوادونو ته د صادراتو لپاره د باور موسسې لري چې په نورو هېوادونو کې د سوداګريزو شرکتونو مالي ملاتړ کوي.۵۸ نور دولتونه او سازمان شوي جنايت کاران د پاکستان، ايران او چين په څېر هېوادونو کې له ټوپک سالارانو او زورواکو څخه د کانونو، قېمتي ډېرو او نور قېمتي توکي د قاچاق د ترلاسه کولو رول لوبوي.

د دولت د بشري حقونو مکلفيت

دولت مکلفيت لري چې:

۳۱. بشري حقوقو ته درناوي وکړي.

۳۲. د بشري حقوقو ساتنه وکړي.

۳۳. بشري حقوق پلي کړي.

بشري حقوقو ته د درناوي مکلفيت يو منفي مکلفيت دي، ځکه چې له دولت څخه غواړي د هر هغه اقدام چې له حقوقو څخه د فرد د بې برخې کېدو لامل کېږي پرهېز وکړي.

له بشري حقوقو د ساتنې مکلفيت له دولت څخه غواړي چې مثبتو کارونو ته مخه کړي او د ښاريانو ساتنه يې وکړي. لکه د وړ تګلارې او قوانينو نيول، د هغې سم پلي کول او وضع کول، د هغوي له حقوقو څخه د ساتنې په موخه د (شرکتونو) په څېر دريمو کسانو د لاسوهنې په ګډون.

له مثبتو اقداموټو مطلب هغه اقدامونه دي چې [د بشري حقوقو له رول] څخه ساتنه، څېړنه او د تر پېښو لاندې کوونکو مجازات يې او د جبران [تاوانونو] لپاره يې د شرايطو برابرولو ته ويل کېږي.

سره ددې چې دولت هر وخت توان نه لري چې د بشري حقوقو د تر پېښو لاندې کولو مخه ونيسي خو که چېرې دولت د حقوقو د تر پښو لاندې کولو لکه د کورو ړنګول، د چاپېريال ککړتيا چې اوبه خواړه او روغتيا ساتنه اغېز ورباندې کړي، په وړاندې اقدام ونکړي، د حقوقو د ساتنې په وړاندې يې د خپل مسوليت په ترسره کولو کې ماتې خوړلې.

د بشري حقوقو د پلي کولو مکلفيت، له دولت غواړي چې د خلکو د آزادي او حقوقو د ساتلو په منظور د خپلو بشري حقوقو په ژمنو عمل وکړي. دا به له دولت څخه د خلکو تر ټولو مثبت او مهم ليدلوري وي. ترڅو يې ماشينونه د خلکو د واقعي حقوقو په پلي کولو په کار واچوي.

پلي کوونکي

د سرچینو د راویستلو د پلي کوونکو د پروژې اصطلاح، کسانو، ډلو او یا شرکتونو ته چې په عملي توګه د پروژې په پرمخ وړلو کې برخه لري اطلاق کېږي.

د کانونو او نفتو د راویستلو شرکتونه

د کانونو او نفتو د راویستلو شرکتونه د هغو ژمنو په وړاندې چې د افغانستان له دولت سره یې کړې، د دې هېواد د قوانینو مراعاتول او همدارنګه هغه مکلفیتونه چې د د متبوع شرکت له خوا یې په دې کمپنیو وضع شوي مسول دي.۵۹. په افغانستان کې د کانونو او نفتو د صنعت په حوزه کې (لوي شرکتونه د لېست په سر او کوچني یې په پاي کې تنظیم شوي دي) چې په لاندې ډول دي:

۳۴. د چین د نفتو ملي شرکتxi (CNPC)، د چین د نفت او ګازو شرکت چې یو دولتي شرکت دي او د نړې پنځم لوي شرکت دي۶۰. د چین د نفتو ملي شرکت د آمور سیند اصلي پانګه وال دي.

۳۵. د چین د متارلوژې ډلهxii (MCC)، یا د کانونو د راویستلو کنسرسیوم او د چین د کار ترون، شرکت د چین تر دولت پورې تړلې دي چې د له یو ملیارډ ډالرو د نورو وړو شرکتونو سرپرستي هم لري۶۱. ام.سي.سي (MCC) یو پانګه اچوونکي شرکت دي، د عینکو د مس د پروژې پلي کوونکي او د امتیاز خاوند دي. ابم سي سي همدارنګه د پاکستان د بلوچستان د ایالت د سینداک د طلا او مسو د کان ویستونکي دي.

۳۶. د هند د فولادو کنسرسیومxiii (SAIL): د هند د فولادو د تولید دولتي شرکت، په ۲۰۱۳ کال کې یې له ۸،۱ ملیارډ ډېر امریکایي ډالره عاید ترلاسه کړي. د هند دولت د هغې له ۸۰ سلنه ډېر اصلي اسهام او همدارنګه یې کنټرول په خپل لاس کې ساتلي دي۶۲. دغه شرکت د حاجیګک اوسپنې د کان په مناقصه کې د تر ټولو ښه شرکت ځاي نیولي.

۳۷. د عینکو د کانونو شرکت xiv(MJAM)، دغه شرکت د عینکو د مس د پروژې ته پراختیا ورکوونکي دي، مجام (MJAM) له ابم سي سي (MCC) او مس ژیانګشي xv (JCC) چې په ترتیب سره د دواړو شرکتونو له خوا د ۷۰ او ۲۶ سلنه اسهامو په اچولو سره رامنځ ته شو.۶۳.

۳۸. د افغانستان فولاد او د اوسپنې کنسرسیومxvi (AFISCO): د درېو دولتي شرکتونو (د هند د فولادو کنسرسیوم، د معادنو د ملي پراختیا شرکتxvii او رشتر یا اسپت نګمxviii) او څلورو خصوصي شرکتونو په ګډون سره د فولادوxix تولید په ټولیزه توګه اووه هندي شرکتونه په څنګ کې نیسي. د هند د فولادو شرکت چې د افغانستان د فولادو د کنسرسیوم تر ټولو لوي سهام لرونکي دي ۶۴. د افغانستان د اوسپنې او فولادو کنسرسیوم د د درېو بلاکونو راویستنې د مناقصې په عنوان چې د څلورو بلاکونو له ډلې د حاجیګک د اوسپنې په کان کې پېژندل شوې دي.۶۵.

۳۹. د ژیانګشي د مسو د تولید شرکت ( JCC ) : د چین د مسو د تولید او تصفیې د دولتي شرکت (په چین کې د مسو د تولید تر ټولو لوي شرکت) او د عینک مس د له لویو پانګه اچوونکو څخه.

---

xi- China National Petroleum Corporation (CNPC)

xii - Metallurgical Corporation of China (MCC)
xiii-Steel Authority of India Limited (SAIL)
xiv-MCC-JCL Aynak Minerals Company Ltd(MJAM)
xv-Jianxi Cupper Corporation (JCC).
xvi- Afghan Iron and Steel Consortium ( AFISCO)
xvii-National Mineral Development Corporation
xviii -Rashtriya Ispan Nigam Ltd (ISNL)
xix - JSW Steel' JSW Ispat, Jindal Steel and Power &Monnet Ispat

۴۰. وطن ګروپ: د خدمتونو، لوجستیک او افغان امنیت د راویستلو د صنعت شرکت. نوموړي شرکت له هغو تورونو څخه چې نوموړي شرکت د ولسمشر حامد کرزي (ولسمشر) د تره د زوي دي انکار کړي.٦٦. د وطن ګروپ او د چین د نفتو ملي شرکت د آمو سېند د نفتي حوزې له دریو ګټونکو څخه دي.

۴۱. د باختر د نفتو او ګازو شرکت: افغاني شرکت دي، د افغان-تاجکستان د نفتي حوزې د نفتو او ګازو د دوو بلاکونو د راویستنې لپاره بهتر ګڼل شوي.٦٧.

۴۲. د افغانستان د طلا او کانونو شرکتxx (AGMC): د کانونو او خدمتونو په برخه کې یو فعال افغاني شرکت دي. دغه شرکت د بغلان ولایت د ذغن د کلي د طلا د راویستنې د پروژې د امتیاز خاوند دي٦٨. نوموړي شرکت همدارنګه د مس او بلخاب د پروژې په مناقصه کې د دې مناقصې تر ټولو ښه وړاندیز کوونکي وټاکل شو. له اسهامو یې ۵۱ سلنه تر افغان کرېسټال شرکت (د افغان سوداګر تر مالکیت ) پورې اړه لري چې پاتې نور ۴۹ سلنه سهمونه یې د افغان ګولډ هولډېنګز اړوندxxi٦٩ دي. دغه افغاني شرکت همدارنګه د افغان ترکیش په صنعتي شرکت کې هم ۴۹ سلنه سهمونه لري.٧٠.

۴۳. افغان منرال ګروپ: د کانونو د کشفولو او راویستنې تړون کوونکي، په هرات ولایت کې د شیدا مس ذخیرو د پروژې د مناقصې ګټونکي.٧١

۴۴. د افغان ترکېش د کانونو د صنعت شرکت ( افغان-ترک): د ترکانو تر مدیریت لاندې شرکت چې محدود مسولیت لري، په کابل کې ثبت او راجستر شوي، چې له ترکي ایتي ګوموس xxii شرکت چې (۵۱سلنه سهمونه) او د افغان طلا او کانونو کمپنيxxiii چې (۴۹ سلنه سهمونه) لري جوړ شوي دي. د بدخشان ولایت د طلا د ذخیرو د پروژې په مناقصه کې ګټونکي اعلان شوي دي. ایتي ګوموس د کانونو په برخه کې لوی فعال ترکي شرکت او په نړۍ کې د سپینو زرو شپاړلسم لوی تولیدوونکي دي٧٢.

۴۵. کیلو ګولډ ماینز لمیتید (کیلو): د کاناډایي کانونو د کشفولو وړوکي شرکت، د اوسپنې په شرکت کې ۲۰سلنه سهمونه لري کیلوxxiv (BVI)، چې د حاجیګک د اوسپنې د ذخیرو د څلورم بلاک په مناقصه کې ګټونکي اعلان شوي دي.٧٣.

۴۶. د ورېښمو د لارې د کانونو شرکتxxv (سېلک روډ ماینېنګ): کاناډایي وړوکي شرکت چې په کانونو کې فعال دي چې د بلخاب او شیدا مسو د ذخیرو د راویستلو په پروژه کې د وړاندیز کوونکي به صفت په نظر کې نیول شوي دي.٧۴.

۴۷. کېګ لمتید (CAPG Ltd): د بدخشان د طلا د ذخیرو د راویستلو په پروژه کې د وړاندیز کوونکي په توګه په نظر کې نیول شوي دي.٧۵.

پر دې سربېره، په افغانستان کې د کانونو په برخه کې د فعالو کمپنیو پوره لېست، له پژواک خبري آژانس سره شته دي.٧٦.

پانګه اچوونکي

پانګه اچوونکي هغه کسان دي چې د بیا ورکولو د توانایي لپاره د سود په ورکولو سره په شرکتونو کې (پانګه) اچوي. د پیسو احتمالي سرچینې عبارت دي له دولت، سوداګریز بانکونه، پراختیایي بانګونه لکه (نړیوال بانګ، نړیواله مالي موسسه، د بیارغونې او پراختیا نړیوال بانګ، د آسیایي پراختیا بانګ) د صادراتو باوري موسسېxxvi او آن په خپله شرکتونه.

---

xx-Afghan Gold and Mineral Company (AGMC)
xxi-Afghan Gold Holdings (Guernsey) .
xxii-EtiGümüs
xxiii-Afghan Gold and Minerals Company
xxiv-Kilo Iron Ore (BVI)
xxv-Silk Road Mining

د ژوندانه د چاپيريال د اغېزو ارزوونکي او نور حرفه يي سلاکاران

د راويستنې په برخه کې فعال شرکتونه، د ژوندانه په چاپيريال کې د کانونو د راويستلو او پروسس د اغېزو ارزونه،د کانونو تصفيه او صنعت، په غالبه توګه د ژوندانه د چاپيريال د اغېزو د ارزولو لپاره کمپني او يا حرفه يي کسان. (EIAxxvii)، ګوماري. هغه کمپني چې دا ډول خدمتونه وړاندې کوي د "ژوندانه د چاپيريال د ارزونې سلاکاران (EIA Consultants)" بلل کېږي. دا شرکتونه همدا راز کولاي شي يوه اندازه نور حرفه يي سلاکاران لکه انسان پېژندونکي، د ټولنيز چلند سلاکارانxxviii، د ځاي په ځاي کولو د برخې سلاکارانxxix، او...

۴۸. د شنې تکنالوژي ساختماني او مهندسي شرکتxxx– د عمران ګروپ تر ټولګې لاندې، د ژوندانه چاپيريال، صنايع، اوبه، فاضلاب، زېربناوو جوړولو او نورو بېلابېلو برخو کې يو فعال افغاني شرکت دي۷۷. دغه شرکت د چين د ملي نفتو او وطن د نفتو او ګازو له شرکتونو سره د آمو سېند په نفتي حوزه کې د ژوندانه د چاپيريال د بنسټونو او د ژوندانه د چاپيريال د اغېزو ارزونه، ترسره کړې ده.۷۸.

د خدمتونو د وړاندې کولو ترړون کوونکي او نور سازمانونه

هغه کمپني چې د صنعت، د کانونو د راويستلو او تصفيه او هغه ځانګړي تړون کوونکي چې د تخنيکي کارونو په برخه کې يې په کار ګماري. لکه ځمکپوهان، د ژورولو او کندنکاري شرکتونه، د بربېښنا د توليد کمپني، د لارو جوړولو شرکتونه او...

۴۹. د مرکزي آسيا xxxi (CAMS) د کانونو د ځانګې خدمتونه، د اکتشافي او ژوروني د خدمتونو وړاندې کوونکي او د راويستلو ملاتړ شرکتونه۷۹، چې د کاناډايي کيلو(Kilo) له خوا، د اړتيا وړ زېربنا د تشخيص او ارزونې او د يوه اکتشافي (راويستنې) پروګرام د ملاتړ لپاره، په حاجي ګک کې په خپل اړوند بلاک کې به کار ګمارل شوي. ۸۰.

۵۰. افغان‌نايټ، په افغانستان کې د ژئو تخنيکي او کانونو په برخه کې د خدمتونو د وړاندې کولو لومړني شرکت دي.۸۱

امنيتي شرکتونه

[د قانون په بنسټ] د کانونو د چاپيريال امنيت بايد له کانونو څخه د ساتنې د واحد له خوا وساتل شي. خو کېداي شي د کانونو د راويستنې، تصفيې او صنعت يو شرکت، د کانونو د حوزې د امنيت د ساتلو لپاره خصوصي امنيتي کمپني په کار وګماري.

د مدني ټولنې له لوري [د طبيعي سرچينو له ګټه اخيستنې او راويستلو له بهير څخه] اغېزمن ملاتړ، په ځانګړې توګه د سمې پوهاوي لپاره دا چې کوم کسان د طبيعي سرچينو د راويستلو په پروسه کې ښکېل دي، د هر يو رول او مسوليت څه دي. په قضيه کې د ښکېلو کسانو د مسوليت او د دوي د ډول په پېژندلو سره، د مدني ټولنې ارګانونه په اغېزمنه توګه کولاي شي، په قصيه کې د هر ښکلې لوبغاړي د رول ضمانت وکړي او هغه واټونه چې بايد ډک کړل شي تشخيص شي. په دې برخه کې، موږ د طبيعي سرچينو د راويستلو د څلورو ښکلېلو ډلو په پېژندلو او معرفي کولو سره، همدارنګه د دوي هر يو د رول او ځانګړي مسوليت په اړه به د دوي د بشري حقوقو د مکلفيتونو په اړه هم خبرې وکړو.

---

xxvi-Export Credit Agency
xxvii-Environment Impact Assessment(EIA)
xxviii-Social Performance Consultant
xxix-Resettlement Consultant
xxx-Green Tech Construction & Engineering

xxxi-Central Asia Mining Services

**.۵۱** دولت د وزارتونو د رول او مسولیتونو او د مرکزي دولت د ارګانونو، پارلمان، ولایتي او سیمه ییزې ادارې، نادولتي لوبغاړي، بهرني دولتونه او همدارنګه د دولت بشري حقونه پیژني او تعریفوي یې.

**.۵۲** د طبیعي سرچینو د پروژې پلي کوونکي، د راویستونکو شرکتونو د پیژندنې مسولیت، پانګه وال، د ژوندانه د چاپیریال د ارزونې د سلاکارانو (EIAxxxii) او نورو ضروري سلاکارانو، تړون کوونکي او د لوجستیکي او تخنیکي خدمتونو وړاندې کوونکيxxxiii، خصوصي امنیتي شرکتونه او همدارنګه د دې شرکتونو رول، د مالکیت بېلابېل جوړښتونه او همدارنګه د دې شرکتونو د بشري حقونو مکلفیت دي.

**.۵۳** اغېز منونکې ټولنې له " اغېز منونکې ټولنې " څخه بېلابېل تعریفونه لري چې په پراخه توګه کولای شو، هغوي د فزیکي، د ژوندانه چاپیریال، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي برخو کې چې د طبیعي سرچینو د راویستلو د پلي کولو په پروژه کې اغېز لري، یوه شو.

**.۵۴** مدني ټولنه او رسني، د مدني ټولنې بېلابېلې ډلې، د دوی مسولیت او بېلابېل رولونه یې راپیژني او تعریفوي یې او همدارنګه ملي او نړیوالې رسنې.

د ډلو په منځ کې توپیرونه او طبیعي توپیر شته. یا په بل عبارت، د دې ډلو په منځ کې [د موضوع په اړه] یوه اندازه بېلابېل نظرونه او باورونه شته دي. باید چې هر یو ته که هغه د دولت کارکوونکي او یا هم د پروژې پلي کوونکي وي به یوه سترګه وکتل شي. دا واقعیت لري چې داسې واقعیتونه په ټولنه کې اغېز نه لري، کېدای شي ځینې کسان د کانونو د راویستلو مخالف وي، ځینې هم کېدای شي موافق او یوه ډله به د دارو مخالفو او موافقو کسانو تر منځ وي. په همدې ډول، د مدني ټولنې په منځ کې، د بېلو ګټو لرونکي بېلابېلې ډلې شته دي چې کېدای شي دا ځانګړتیا په ټولو ډلو کې شریکه نه وي.

پلي کوونکي

د سرچینو د راویستلو د پلي کوونکو د پروژې اصطلاح، کسانو، ډلو او یا شرکتونو ته چې په عملي توګه د پروژې په پرمخ وړلو کې برخه لري اطلاق کېږي.

د کانونو او نفتو د راویستلو شرکتونه

د کانونو او نفتو د راویستلو شرکتونه د هغو ژمنو په وړاندې چې د افغانستان له دولت سره یې کړې، د دې هېواد د قوانینو مراعاتول او همدارنګه هغه مکلفیتونه چې د د متبوع شرکت له خوا یې په دې کمپنیو وضع شوي مسول دي.۸۲. په افغانستان کې د کانونو او نفتو د صنعت په حوزه کې (لوی شرکتونه د لېست په سر او کوچني یې په پای کې تنظیم شوي دي) چې په لاندې ډول دي:

**.۵۵** د چین د نفتو ملي شرکت(CNPC) xxxiv، د چین د نفت او ګازو شرکت چې یو دولتي شرکت دي او د نړۍ پنځم لوی شرکت دي۸۳. د چین د نفتو ملي شرکت د آمور سیند اصلي پانګه وال دي.

**.۵۶** د چین د متارلوژۍ ډله(MCC) xxxv، یا د کانونو د راویستلو کنسرسیوم او د چین د کار تړون، شرکت د چین تر دولت پورې تړلي دي چې د له یو ملیارډ ډالرو د نورو وړو شرکتونو سرپرستي هم لري۸۴. ام.سي.سي (MCC) یو پانګه اچوونکي شرکت

xxxii-Environment Impact Assessment
xxxiii-Contractors and Suppliers
xxxiv- China National Petroleum Corporation (CNPC)
xxxv - Metallurgical Corporation of China (MCC)

دي، د عینکو د مس د پروژې پلي کوونکي او د امتیاز خاوند دي. ابم سي سي همدارنګه د پاکستان د بلوچستان د ایالت د سینداک د طلا او مسو د کان ویستونکي دي.

**۵۷.** د هند د فولادو کنسرسیوم(SAIL) xxxvi: د هند د فولادو د تولید دولتي شرکت، په ۲۰۱۳ کال کې یې له ۸،۱ ملیارډ ډېر امریکایي ډالره عاید ترلاسه کړي. د هند دولت د دغې له ۸۰ سلنه ډېر اصلي اسهام او همدارنګه یې کنټرول په خپل لاس کې ساتلي دي۸۵. دغه شرکت د حاجیګک اوسپنې د کان په مناقصه کې د تر ټولو ښه شرکت ځاي نیولي.

**۵۸.** د عینکو د کانونو شرکت (MJAM)xxxvii، دغه شرکت د عینکو د مس د پروژې ته پراختیا ورکوونکي دي، مجام (MJAM) له ابم سي سي (MCC) او مس ژیانګشي (JCC) xxxviii چې په ترتیب سره د دواړو شرکتونو له خوا د ۷۰ او ۲۶ سلنه اسهامو په اچولو سره رامنځ ته شو.۸۶.

**۵۹.** د افغانستان فولاد او د اوسپنې کنسرسیوم(AFISCO) xxxix: د دریو دولتي شرکتونو (د هند د فولادو کنسرسیوم، د معادنو د ملي پراختیا شرکتxl او رشتر یا اسپت نګمxli) او څلورو خصوصي شرکتونو په ګډون سره د فولادوxlii تولید په ټولیزه توګه اووه هندي شرکتونه په ځنګ کې نیسي. د هند د فولادو شرکت چې د افغانستان د فولادو د کنسرسیوم تر ټولو لوي سهام لرونکي دي ۸۷. د افغانستان د اوسپنې او فولادو کنسرسیوم د د دریو بلاکونو راویستنې د مناقصې په عنوان چې د څلورو بلاکونو له ډلې د حاجیګک د اوسپنې په کان کې پېژندل شوي دي.۸۸.

**۶۰.** د ژیانګشي د مسو د تولید شرکت ( JCC) : د چین د مسو د تولید او تصفیې د دولتي شرکت (په چین کې د مسو د تولید تر ټولو لوي شرکت) او د عینک مس د له لویو پانګه اچوونکو څخه.

**۶۱.** وطن ګروپ: د خدمتونو، لوجستیک او افغان امنیت د راویستلو د صنعت شرکت. نوموړي شرکت له هغو تورونو څخه چې نوموړي شرکت د ولسمشر حامد کرزي (ولسمشر) د تره د زوي دي انکار کړي.۸۹. د وطن ګروپ او د چین د نفتو ملي شرکت د آمو سیند د نفتي حوزې له دریو ګټونکو څخه دي.

**۶۲.** د باختر د نفتو او ګازو شرکت: افغاني شرکت دي، د افغان-تاجکستان د نفتي حوزې د نفتو او ګازو د دوو بلاکونو د راویستنې لپاره بهتر ګڼل شوي.۹۰.

**۶۳.** د افغانستان د طلا او کانونو شرکت(AGMC) xliii: د کانونو او خدمتونو په برخه کې یو فعال افغاني شرکت دي. دغه شرکت د بغلان ولایت د ذغن د کلي د طلا د راویستنې د پروژې د امتیاز خاوند دي۹۱. نوموړي شرکت همدارنګه د مس او بلخاب د پروژې په مناقصه کې د دې مناقصې تر ټولو ښه وړاندیز کوونکي وټاکل شو. له اسهامو یې ۵۱ سلنه تر افغان کرېسټال شرکت (د افغان سوداګر تر مالکیت ) پورې اړه لري چې پاتې نور ۴۹ سلنه سهمونه یې د افغان ګولډ هولډېنګز اړوند۹۲xliv دي. دغه افغاني شرکت همدارنګه د افغان ترکیش په صنعتي شرکت کې هم ۴۹ سلنه سهمونه لري.۹۳.

**۶۴.** افغان منرال ګروپ: د کانونو د کشفولو او راویستنې تړون کوونکي، په هرات ولایت کې د شیدا مس ذخیرو د پروژې د مناقصې ګټونکي.۹۴

---

xxxvi-Steel Authority of India Limited (SAIL)
xxxvii-MCC-JCL Aynak Minerals Company Ltd(MJAM)
xxxviii-Jianxi Cupper Corporation (JCC).
xxxix- Afghan Iron and Steel Consortium ( AFISCO)
xl-National Mineral Development Corporation
xli -Rashtriya Ispan Nigam Ltd (ISNL)
xlii - JSW Steel' JSW Ispat, Jindal Steel and Power &Monnet Ispat
xliii-Afghan Gold and Mineral Company (AGMC)
xliv-Afghan Gold Holdings (Guernsey) .

۶۵. د افغان ترکېش د کانونو د صنعت شرکت ( افغان-ترک): د ترکانو تر مدیریت لاندې شرکت چې محدود مسولیت لري، په کابل کې ثبت او راجستر شوي، چې له ترکي ایتي ګوموس xlv شرکت چې (۵۱سلنه سهمونه) او د افغان طلا او کانونو کمپنيxlvi چې (۴۹ سلنه سهمونه) لري جوړ شوي دي. د بدخشان ولایت د طلا د ذخیرو د پروژې په مناقصه کې ګټونکي اعلان شوي دي. ایتي ګوموس د کانونو په برخه کې لوي فعال ترکي شرکت او په نړۍ کې د سپینو زرو شپاړلسم لوي تولیدوونکي دي۹۵.

۶۶. کیلو ګولډ ماینز لمیتید (کیلو): د کاناډایي کانونو د کشفولو وړوکي شرکت، د اوسپنې په شرکت کې ۲۰سلنه سهمونه لري کیلوxlvii (BVI)، چې د حاجیګک د اوسپنې د ذخیرو د څلورم بلاک په مناقصه کې ګټونکي اعلان شوي دي.۹۶.

۶۷. د وربېنمو د لارې د کانونو شرکتxlviii (سېلک روډ ماینېګ): کاناډایي وړوکي شرکت چې په کانونو کې فعال دي چې د بلخاب او شیدا مسو د ذخیرو د راویستلو په پروژه کې د وړاندیز کوونکي به صفت په نظر کې نیول شوي دي.۹۷.

۶۸. کپګ لمتید (CAPG Ltd): د بدخشان د طلا د ذخیرو د راویستلو په پروژه کې د وړاندیز کوونکي په توګه په نظر کې نیول شوي دي.۹۸.

پر دې سربېره، په افغانستان کې د کانونو په برخه کې د فعالو کمپنیو پوره لېست، له پژواک خبري آژانس سره شته دي.۹۹.

## پانګه اچوونکي

پانګه اچوونکي هغه کسان دي چې د بیا ورکولو د توانایي لپاره د سود په ورکولو سره په شرکتونو کې (پانګه) اچوي. د پیسو احتمالي سرچینې عبارت دي له دولت، سوداګریز بانکونه، پراختیایي بانګونه لکه (نړیوال بانک، نړیواله مالي موسسه، د بیارغونې او پراختیا نړیوال بانک، د آسیایي پراختیا بانګ) د صادراتو باوري موسسېxlix او آن په خپله شرکتونه.

## د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو ارزوونکي او نور حرفه يي سلاکاران

د راویستنې په برخه کې فعال شرکتونه، د ژوندانه په چاپېریال کې د کانونو د راویستلو او پروسس د اغېزو ارزونه،د کانونو تصفیه او صنعت، په غالبه توګه د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزولو لپاره کمپنې او یا حرفه يي کسان. (EIAl)، ګوماري. هغه کمپنې چې دا ډول خدمتونه وړاندې کوي د "ژوندانه د چاپېریال د ارزونې سلاکاران (EIA Consultants)" بلل کېږي. دا شرکتونه همدا راز کولای شي یوه اندازه نور حرفه يي سلاکاران لکه انسان پېژندونکي، د ټولنیز چلند سلاکارانli، د ځای په ځای کولو د برخې سلاکارانlii، او...

---

xlv-EtiGümüs
xlvi-Afghan Gold and Minerals Company
xlvii-Kilo Iron Ore (BVI)
xlviii-Silk Road Mining
xlix-Export Credit Agency
l-Environment Impact Assessment(EIA)
li-Social Performance Consultant
lii-Resettlement Consultant

۶۹. د شنې تکنالوژۍ ساختماني او مهندسي شرکتliii– د عمران ګروپ تر ټولګي لاندې، د ژوندانه چاپېريال، صنايع، اوبه، فاضلاب، زېربناوو جوړولو او نورو بېلابېلو برخو کې يو فعال افغاني شرکت دی۱۰۰. دغه شرکت د چين د ملي نفتو او وطن د نفتو او ګازو له شرکتونو سره د آمو سېند په نفتي حوزه کې د ژوندانه د چاپېريال د بنسټيزو او د ژوندانه د چاپېريال د اغېزو ارزونه، ترسره کړې ده.۱۰۱.




ساکنان محلی میان شرکت ها بر اساس نوع و اندازه آن فرق نمیگذارند. هرچند که شرکت ظرفیت، منابع و پروسیجر متفاوتی برای پاسخگویی به نیازهای مردم محلی داشته باشد

د خدمتونو د وړاندې کولو ترون کوونکي او نور سازمانونه

هغه کمپنۍ چې د صنعت، د کانونو د راويستلو او تصفيه او هغه ځانګړي ترون کوونکي چې د تخنيکي کارونو په برخه کې يې په کار ګماري. لکه ځمکپوهان، د ژورولو او کندنکاري شرکتونه، د برېښنا د توليد کمپنۍ، د لارو جوړولو شرکتونه او...

۷۰. د مرکزي آسيا liv (CAMS) د کانونو د ځانګړې خدمتونه، د اکتشافي او ژورونې د خدمتونو وړاندې کوونکي او د راويستلو ملاتړ شرکتونه۱۰۲، چې د کاناډايي کيلو(Kilo) له خوا، د اړتيا وړ زېربنا د تشخيص او ارزونې او د يوه اکتشافي (راويستنې) پروګرام د ملاتړ لپاره، په حاجي ګک کې په خپل اړوند بلاک کې په کار ګمارل شوي.۱۰۳.

۷۱. افغان‌نايټ، په افغانستان کې د ژئو تخنيکي او کانونو په برخه کې د خدمتونو د وړاندې کولو لومړني شرکت دی.۱۰۴

امنيتي شرکتونه

[د قانون په بنسټ] د کانونو د چاپېريال امنيت بايد له کانونو څخه د ساتنې د واحد له خوا وساتل شي. خو کېداي شي د کانونو د راويستنې، تصفيې او صنعت يو شرکت، د کانونو د حوزې د امنيت د ساتلو لپاره خصوصي امنيتي کمپنۍ په کار وګماري.

د شرکتونو په اړه کليات

په دې برخه کې، تاسې د شرکتونو د کلي رول په اړه (سهميه لرونکو ته د سود د ورکړې په منظور) د شرکتونو ډولونه او د دې شرکتونو بشري حقونه او مکلفيتونه زده کړئ.

د شرکتونو رول:

د شرکت تر ټولو مهم هدف دا دی چې د سهميه لرونکو د سود په ډېرولو سره (چې "د شرت د تيوري له مخې (Firm)" د مليتون فريډمن، د کمپنۍ د سهم لرونکو په نوم سره يادېږي) چې په حقيقت کې د شرکت مالکان دي، بايد چې بډاي شي. ځينې شرکتونه يوه

liii-Green Tech Construction & Engineering
liv-Central Asia Mining Services

بله متفاوته تيوري پر مخ وړي، د "ګټه اخيستلو د تيوري" په نوم يادېږي چې د دوی د باور په بنسټ، د سهم لرونکو په منځ کې يو ګټه کوي. له دې امله، يوازې د ګټې ډېرول (چې د شرکتونو يوازيني هدف دي) د سهم لرونکو لپاره د سهم لرونکو او يا ګټه اخيستونکو په ګټه او د شرکتونو په زيان دي. شرکتونه کېداي شي د ټولنيزو مسوليتونو د همغږي فعاليتونه CSR)lv)، چې د خيريه او بشر دوستانه فعاليتونو په نوم سره يادېږي، هم ترسره کړي. ځينې شرکتونه کېداي شي "د فعاليت لپاره د اجتماعي جواز غوښتونکي شي" چې دا د تل لپاره د سيمه ييزې ټولنې د تاييد اخيستو او نورو ګټه اخيستونکو اړخونو لپاره دي.۱۰۵.

عام، دولتي او خصوصي سهامي شرکتونه

په شرکتونو د خلکو د مالکيت له پلوه په عمومي توګه درې ډوله شرکتونه دي. هغه شرکتونه چې تر دولتي مالکيت لاندې دي (يا دولتي شرکتونه) او سهامي شرکتونه. سهامي شرکتونه هغه دي چې سهمونه يې په عام ډولد بورس په بازار کې اخيستل او پلورل کېږي. (عام سهامي شرکتونه) بلل کېږي او هغه چې سهمونه يې په ځانګړې توګه د شرايط وړ کسانو په منځ کې تبادله کېږي (خصوصي شرکتونه) بلل کيږي.

۷۲. دولتي شرکتونه: دولتي شرکتونو کې ټول هغه شرکتونه شامل دي چې مالکيت يې تر دولت پورې اړه لري. کېداي شي دولت د دې کمپنيو د ټولو سهمونو مالک وي يا هم په هغې اندازه چې وکولاي شي د هغو سهمونو په برابر چې نور کسان يا کمپني يې په لاس کې لري، د خپل شرکت واک او کنټرول ولري. د دولتي شرکتونو په اړه معلوماتو ته لاسرسي تر دې پورې تړلي دي چې آيا دولتونه [په کومه اندازه] خلاص او شفاف دي.۱۰۶.

۷۳. عام سهامي شرکتونهlvi: هغه شرکتونه دي چې مالکيت يې په وړو سهمونو وېشل شوي دي، په داسې توګه چې هر سهم په شرکت د قسمي مالکيت استازيتوب کوي. دا سهمونه په عمومي توګه د بورس په بازار کې اخيستل او پلورل کېږي. بورس بازار هغه ځاي ته ويل کېږي چې په هغې ځاي سهم لرونکي خپل سهمونه پلوري او اخلي۱۰۷. ډېري بورس بازارونه په بازار کې له ثبت شوو شرکتونو څخه غواړي، د خپل شرکت په اړه يوه اندازه مشخص معلومات او همدا راز هغه شخصيت چې د سهمونو بورس تنظيموي د سهمونو د بورس بازار ته وړاندې کړي. دغه کار، د عامو سهامي شرکتونو معلوماتو ته لاسرسي، نظر خصوصي او دولتي شرکتونو اسانه کوي.

۷۴. (سهامي) خصوصي شرکتونه: خصوصي شرکت په عمومي توګه هغې شرکت ته ويل کېږي چې مالکيت يې هم په مشخصو سهمونو سره وېشل کېږي، دغه سهمونه په خصوصي توګه د يوې وړې ډلې افرادو او يا کمپنيانو په لاس کې دي. دغه سهمونه په عمومي توګه د بورس په بازار کې نه اخيستل او پلورل کېږي. دغه کار، د دې شرکتونو په اړه د معلوماتو د تر لاسه کولو چاره له ستونزو سره مخ کوي.۱۰۸.

په عملي توګه به د شرکتونو د مالکيت جوړښت ډېر پيچلي وي. چې دا به په اغلبه توګه له ډېرو [تابع] سازمانونو څخه جوړ شوي وي چې هر يو يې د سلسله مراتبو په نظر کې نيولو سره بل ته راپور ورکوي. کنټرول کوونکي شرکت د مور د شرکت او هغه شرکتونه چې مور شرکت ته راپور ورکوي، د تابع يا تر مجموعې لاندې شرکت (مور شرکت يا اصلي شرکت) دي. په ځينو وختونو کې، مور شرکت (ټول او يا يوه اندازه) يو دولتي شرکت دي، يو يا ډېر تابع شرکتونه، عام سهامي شرکتونه دي چې سهمونه يې د بورس په بازار کې په عمومي ډول اخيستل او پلورل کېږي.

۷۵. د راويستونکو شرکتونو ډېروالي

---

lv-Corporate Social Responsibility
lvi- Public Company

ډېر شمېر شرکتونه يا (پلي کوونکي) د راويستلو د صنعت په پراختيا بوخت دي. د بېلګې په توګه، د کانونو په اړه، حرفه يي شرکتونه د کانونو د راويستلو د پروسې په ټاکلو پړاوونو کې. د کانونو او فلزاتو د نړيوالې شورا(ICMMi) له مخې لړ اندازه شرکتونه نوموي او او ښيي چې دوي په کومو پړاوونو کې تخصص لري. دغه کمپني کولاي شي، داخلي، بهرني، شخصي او يا دولتي وي.

۴ شکل، په نړيواله کچه د کانونو په برخه کې د فعالو شرکتونو ډولونه۱۰۹




۷۶. د شرکتونو د بشري حقونو مسوليتونه:

له ۲۰۱۱ مخکې، د شرکتونو د مسوليتونو د رول په اړه چې بشري حقوق يې د فعاليتونو او سوداګرۍ په وخت کې څه دول تضمين شي، هيڅ وضاحت او نړيواله ټولنه نه وه.

د يوه وړانديز په بنسټ، چې د شپږو کلونو څېړنې او مشاورت په پايله کې يې د نړۍ په شاوخوا کې پراختيا پيداکړه، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا د ۲۰۱۱ کال په جون کې، د رايو په اتفاق سره يې د د لارښودو اصولو يوه ټولګه برابره کړه (د ملګرو ملتونو د د اصولو لارښودii) د احترام او جبرانiii د ساتلو لپاره د سوداګرۍ او بشري حقونو په اړه تصويب تصويب کړ. د ملګرو ملتونو د اصولو لارښود يو د باور وړ نړيوال چې د دولت او سوداګريزو ارګانونو په اړوند، ترڅو شرکتونه د کار په وخت کې د بشري حقوقو مراعاتولو او احترام لرلو ته اړ باسي او په ټولو سوداګريزو معاملو کې يې رامنځ ته کړي. دغه لارښود اصول بايد چې په ټولو سوداګريو کې په هر ډول شرايطو کې پلي شي.۱۱۰

د ملګرو ملتونو د اصولو لارښود په لاندې ستنو ولاړ دي: ساتنه، د دولت دنده (د دريم کس له خوا د بشري حقونو د تر پښو لاندې کوونکو په وړاندې د سوداګرۍ د ارګانونو په ګډون، د تقنين، سياست کولو، څېړنې او پلي کولو [قوانين او سياست کول] ) درناوي لرل، د شرکتونو مسوليت (د نورو د حقوقو په وړاندې له هر ډول ضد عمل پرهيز کړلو په منظور جدي عمل او هڅه کول او د دوی د منفي فعاليتونو د اغېزو په اړه) او دا چې درملنې ته د لاس لرلو اړتيا ولري، اغېزمن جبران، (د دواړو عدلي او غيرعدلي ارګانونو له خوا د سرغړونې قربانيانو ته چې تر فعاليتونه تر سوداګرۍ پورې اړه ولري.) موږ فکر کوو د ملګرو ملتونو د سازمان د اصولو د لارښود ځيني توکي په بشپړه توګه د افغانستان د کانونو د راويستلو له صنعت سره برابر دي، د ۴-۵-۶ اصولو په ګډون چې د دولت او سوداګرۍ په ارګانونو په اړه لري او ۷ اصل په ځېل شوو سيمو کې د سوداګرۍ د ارګانونو د ملاتړ لپاره د دوی د بشري حقونو احترام کول.۱۱۱

مهم ټکي دا چې، د ملګرو ملتونو د اصولو لارښود په ډېرو سټنډر نړيوالو ارګانونو کې به کار وړل شوي دي. د اقتصادي ملاتړ (OECDiv) او پراختيا سازمان په ګډون، د اعطايي خصوصي سکتور د تلپاتې پراختيا چوکاټ او د نړيوال بانک پور، نړيوالې مالي

i-International Council on Mining and Metals(ICMM)
ii - UN-Guiding Principles
iii-“protect, Respect, Remedy “ framewrok
iv- the Organization for Economic Cooperation and Development (OECD)

همکاري(IFC)، د ملګرو ملتونو نړیوال چوکاټ، د ۲۶۰۰۰ ISO او د اروپايي اتحادیې د اجتماعي مسولیت تګلاره (CSR)i..

اغېز منونکې ټولنې

د هغو ټولنو پېژندنه چې د سرچينو د راويستنې د پروژې له بهير څخه اغېزمن کېږي، هغه موضوع ده چې تر اوسه جنجالي ده. اغېزمنونکې ټولنې کولای شي په بېلابېلو لارو سره تعريف شي.

دولت او راويستونکي شرکتونه به د مخالفتونو د جوړولو او د تاوانونو د غوښتلو لپاره یوه محدود تعریف ته علاقه ولري. دوي په اغلبه توګه د یوه فضايي اندازه اخیستې ii، څو یو شمېر اغېزمنونکې اداري چې د دوي د ژوند ځاي په سمه توګه مشخص کړل شي چې د راويستنې له ځاي څخه څومره لرې اوسېږي. دا ډول اندازه کولای شي ډېره ګټوره وي، ځکه هغه خلک چې له کړنو يې اغېزمن کېږي، په فرهنګي ځايونو يې چې د ډېر اهمیت لرونکي دي او یا هم اجتماعي اغېزې په هغو کارکوونکو لوېږي چې د کار ساحې ته نژدې وي. (د کانونو د راويستنې سايټ) کېده کوي، په دې ډول اندازه نیولو کې نالیدلي نیول کېږي۱۱۲. د ۲۰۱۲ کال د کانونو د قانون پیش نویس، ډله/ ټولنه iii اغېزمونکې داسې معرفي کوي: هغه خلک چې د سرچينو له اړوندو فعالیتونو اغېزمن کېږي او یا يې هم د غېزمن کېدو لپاره عقلاً هیله پیداکېږي.۱۱۳.

اغېزمنې ټولنې همدارز کولای شي د نسلونو تر منځ تعریف شي: دا یوازې د نن ورځې نسل نه دي چې اغېزمن کېږي بلکې د سبا ورځې نسلونه هم د هغې کارونو له امله چې نن يې ترسره کوو او تصمیمونه نیسو اغېزمن کېږي. د اغېزمنو ټولنو له منځ څخه په افغانستان کې دوې ډلې ډېر ضرر ويني.

۷۷. ماشومان او ښځې – بالغې ښځې یوازې ۳۰ سلنه ابتدایي زده کړې لري۱۱۴. تر ۸۰ سلنه پورې ښځې او نجونې د یو ډول نه یو ډول تاوتریخوالي لکه جنسي تېري او اجباري ودول هدف ګرځي.۱۱۵. تقریباً ټولې ښځې هېڅ ځمکه نه لري. د ښځې د کار مشارکت يې یو پر دريې دي.

۷۸. د کوچیانو ډلې –همدارنګه مال لرونکي هم ورته وایي. هغه کسان چې تر نسلونو پورې دایم د افغانستان او پاکستان تر منځ د کډوالي په حال کې دي. د افغانستان د نفوس د یو پر دريې برخې په پرتله د کوچیانو له نیم نفوس ډېر په بېوزلي کې (په هېواد کې تر ټولو بېوزله حالت کې) ژوند کوي. په کوچیانو کې یوازې ۱۰ سلنه کسان زده کړه لري او د ښځو تر منځ يې یوازې ۳ سلنه زده کړې لري.۱۱۶.

مدني ټولنه او رسنۍ

مدني ټولنه

مدني ټولنه، هغه ډول چې مونږ يې دلته د زده کړې په دې لاربنود کې کاروو، بېلابېلو لويو ډلو او بېلو پاړکيو ته يې اشاره ده لکه، نادولتي سازمانونه(NGOs)، د مدني ټولنو سازمانونه(CSOs)، اجتماعي سازمانونه(CBOs)، آنلاین ډلې، د اجتماعي شبکو ټولنې، د

i -European Union’s Corporate Social (CSR) Policy.

ii-Spatial Measurement

iii-Affected community

اجتماعي يا هويتي خوځښتونو ډله ييزې کړنې، مذهبي رهبران، مذهبي ټولنې، مذهبي سازمانونه، د کارګري ټولنې، اجتماعي کارکوونکي، د خلکو مرستندويې ټولنې. ۱۱۷

مدني ټولنه د اغېزمنو، شفافو، متوازنو او باثباته هدفونو د ترلاسه کولو په برخه او همدارنګه د افغانستان د اقتصادي او اجتماعي پراختيا لپاره له طبيعي سرچينو څخه د سوله ييزې ګټې اخيستنې لپاره د لوبېدلو يو شمېر مهم رولونه لري. په ځانګړې توګه د سيمه ييزو ټولنو منظم او پياوړې کول، د تخنيکي ورتياوو زده کړه، د ډيالوګ لپاره د چاپېريال برابرول او د اطلاعاتو د شريکولو وده، په تصميم نيونه کې د سيمه ييزو باخبره ټولنو د ګډون آسانتيا او د سرچينو د راويستنې د يوه سکتور هر اړخيزه ملاتړ.

په ټوليزه توګه، مدني ټولنه کولای شي لاندې مهم رولونه ولوبوي:

ساتونکي- د دولت د جوړولو مسول، د حساب ورکونې او شفافيت په لوړولو سره [اړوند] شرکتونه او ارګانونه، د عايداتو له نظره، مناقصې او قراردادونه او همدارنګه [د لوړولو رعايت] ځواب ورکول، اجتماعي عدالت او په ځانګړې توګه د هر اړخيزې پراختيا او سولې سره مرسته کول.

عدالت غوښتل – د ټولنيزو خنډونو او بدلونونو له ملاتړ څخه د [خلکو] د پوهې لوړول.

د خدمتونو وړاندې کول – اجتماعي اړتياوو ته لکه ښوونه او روزنه، روغتيا، خواړه او امنيت، د کړکېچ د مديريت پلي کول، په بېړنيو شرايطو کې غبرګون او تياري د لاسرسي په موخه د خدمتونو وړاندې کول.

تخصص – تر فرد پورې د ترلې سوداګرې او پوهې د اطلاعاتو وړاندې کول، ستراتيژۍ او سياست ته د شکل ورکولو په موخه، د [ستونزو په وړاندې] د حل لارو د تشخيص او رامنځ ته کول.

ظرفيت جوړونه- د خدمتونو برابرول، حرفه يي زده کړې او د ظرفيت جوړونې نور پروګرامونه.

انکوباتور(د ودې طريقه، د حل لاره)- حل لارو ته پراختيا ورکول چې اوږدمهاله پايلو ته يې اړتيا وي.

استازي – د غړ پياوړتيا [ډلې او کسان] چې ځنګ ته شړل شوي وي[i].

ښاري اتلولي- ښاريان ګډون ته هڅول او د ښاريانو له حقوقو څخه ملاتړ.

برابر شوي ملاتړ کوونکي – د بنسټيزو او نړيوالو ارزښتونو لوړوالي.

د معيارونو تعريفوونکي – د معيارونو جوړول چې د دولت او بازار فعاليتونه څرګند کړي۱۱۸.

رسني:

ملي يا سيمه ييزې رسنې کېداي شي وغواړي په افغانستان کې د (کانونو) له وضعيت څخه راپور جوړ کړي. په همدې ډول د هغو هېوادونو د رسنيو په اړه چې راويستونکي شرکتونه ورپورې اړه لري، هم سم دي (په ځانګړې توګه هند او چين). د کال په پاي کې په ملي او نړيوالو رسنيو کې په پرلپسې توګه د کانونو د راويستنې په اړه، د [ځايي خلکو] ويستل، د نړۍ په شاوخوا کې د ځمکې ستونزې او د ژوندانه د چاپېريال موضوعات، په افغانستان کې د فعالو کمپنيو له خوا د ترسره شوو اقداماتو په ګډون خپاره شوي دي. د موجوده ستونزو په اړه د خبريالانو د اطلاعاتو ډېرول مرسته کوي او کېداي شي د افغانستان د جمهوري اسلامي دولت په تصميمونو کې چې د راويستنې د جواز په اړه په ځينو سيمو کې اغېز ولري.۱۱۹.

i -Under-represented.

# لاسته راوړني، اغيزې او ګټې

# ۳

دا برخه د طبیعي سرچینو څخه د لاسته راوړنو او د سرچینو د استخراج په صورت کې د بدلونونو د راتللو په اړه ده. ( د پروژې په مختلفو برخو کې کوم فعالیتونه تر سره کېږي. ).
په دې برخه کې مو هغو ټکو ته اشاره کړې چې په افغانستان کې د کانونو د استخراج په برخه کې څنګه شفافیت په پام کې نیولي شو. مدني ټولنې باید پر دې موضوع پوه وي او دا پوهېدنه ضروري ده، تر څو په راتلونکې کې د دوی له پاره یو ښه ثبوت ووسي او په سمه توګه د خلکو حق وغواړي.

کانونه

د ځینو کانونو کېندنه کېدای شي چې ډېرو ساده وسایلو ته ضرورت ولري. په افغانستان کې له پخوا راهیسي، کانونه په وړه کچه په ساده وسایلو استخراج کېږي، خو په وروستیو کې د لویو کانونو د کېندنو له پاره له نوي تخنیک څخه ګټه اخیستل شوې ده. لاندې به پر دې دوارو موضوعاتو لنډ بحث ولرو:

۷۹. ابتدایي استخراج کونکي او په کم مقیاس استخراج (ASM[i]): دا ډول استرخراج تر ډېره فزیکي توان او ساده وسایل غواړي. دا کیندنې غیر رسمي بڼه لري او کلیوال د یوې ګولې ډوډې د پیدا کولو له پاره دا ډول کېندنو ته مخه کوي.
دوی له بیل، کلنګ، تېشې .. څخه د کانونونو په کېندلو کې استفاده کوي ( خو لاجورد او ځینې نورې قیمتې ډبرې د باروتو په واسطه په لاس راوړي ). خو په لوړ مقیاس کې استخراج کونکي (small scale mining) له ډېرو اسانتیاوو، امنیت، تخنیکي او عصري وسایل ( د بار وړلو موټرونه، د کېندنې نوي ماشینونه، بلدوزرونه ) لري.
دوی منظم دي، اکثره یې قانوني کار کوي او ډېر استخراج لري.

۸۰. صنعتي استخراج (Industrial Mining): دا استخراج کونکي له ډیرو موډرنو او کمپیوټري وسایلو څخه کار اخلي. دوی د ځمکې پېژندنې قوي وسایل او ماشینونه لري، دا کمپنې په هغو کانونو کې کار کوي چې ډېر عاید لري او په ملیونونه ټنه تېرې په لنډ وخت کې چاڼ او د کار وړ مواد ترې استخراجولای شي.

۸۱. د دا ډول کمپنیو ارزښت ( له ۱۰ تر ۴۰ ملیاردو امریکایي ډالرو) پورې اټکل شوی دی. اوس مهال په نړۍ کې د کان ایستنې دا ډول لویو کمپنیو ته ډېره اړتیا لېدل کېږي. ځکه ډېر کانونه یواځې هغه کمپنې استخراجولای شي چې لوړ تخنیک ولري او کان په سمه توګه استخراج کړای شي.

[i] Artisanal and Small-Scale Mining(ASM)

لاندې تصوير دا راښيي چې په ابتدايي او عصري توګه د کانونو د استخراج توپير څومره دي. ۱۲۰

شکل ۵: په افغانستان کې په کمه او ابتدايي سطح د کان استخراج



شکل ۶: د پاکستان په بلوچستان کې په عصري مشينري د کان استخراج



په کم مقياس او ابتدايي بڼه د کانونو استخراج

په افغانستان کې د کانونو استخراج ابتدايي بڼه لري. خو سره له دې هم تر اوسه لا داسې کومه دقيقه احصايه نشته چې په دې اړه پوره معلومات په واک کې راکړي. ۱۲۱.



تر اوسه لا دا هم نه ده معلومه چې څومره میرمنې، نارینه او ماشومان په دې برخه کې کار کوي او په ابتدایي بڼه د زرو، لاجوردو او نورو قیمتي او نیمه قیمتي تېږو او کانونو په استخراج کې بوخت دي. دا هم نه ده معلومه چې دا بې نومه کسان د څومره نورو انسانانو سر پرستي پر غاړه لري او له همدې لارې یوه ګوله ډوډۍ ورته چمتو کوي. په دې اړه هم کومه دقیقه احصایه نشته چې څومره کسان له مرګ، اجباري کارونو، تبنتونې، او نورو ستونزو سره مخامخ کېږي. په پای کې دا هم نه ده روښانه چې دوي څومره عاید تر لاسه کوي او څومره کان استخراجوي.

تصویر :د کیڼ لاس تصویر په کابل کې یو انبار راښیي چې هندوستان ته لېږل کېږي. ۱۲۲.

په نړیواله کچه هم دا ثابته شوې ده، هغه کسان چې په کانونونو کې په ابتدایي بڼه کار کوي، تر ټولو بېوزله او نیستمن خلک دي. دوي په یوه خطرناک چاپېریال کې کار کوي چې هره شېبه د مرګ، معیوبیت او خطر ستونزې ورسره تړلې دي. دوي هغه کسان دي چې د مجبوریت له مخې باید خپلو کورنیو ته خواړه او د ژوند نورې اړتیاوې چمتو کړي.

په افغانستان کې هم داسې بېوزله کاریګر ډېر دي، د بېلګې په توګه د بدخشان د لاجوردو کانونه یادولای شو. په دې کان کې د سیمې ډېر اوسیدونکي په کار بوخت دي. له کاریګرو را نیولې، بیا د دوي تر کورنیو، وړو سوداګرو، ترانسپورټي شرکتونو، ملیشو، مافیایي کړې، د تجهیزاتو استخراجونکي ( استخراج او د کان ترانسپورټ ) دولتي مقامات... ټول پکې دخیل دي. ۱۲۳.

د کار نړیوال سازمان (ILOii)، ویلي چې په وروستیو څو کلونو کې په کم مقیاس د کانونو استخراج د نړۍ ۱۵ تر ۲۰ فیصده غیر سوختي کاني تولیدات جوړوي. ۱۲۴.

په نړیواله کچه د کانونو ۴۰ فیصده کارګران ښځې دي، خو دا فیصدي د کان په نوعیت او دا چې کان په څه ډول جغرافیایي موقعیت کې موجود دي، توپیر کوي. ( ښځې غواړې چې په کم عمقه او سطحي زېرمو کې کار وکړي ). په نړیواله کچه هم زمرد، تنګستن، او ځینې نور ې قیمتي تېږې په ابتدایي ډول اسخراجېږي. ۱۲۵.

د کانونو صنعتي استخراج

تر اوسه په افغانستان کې کانونه په صنعتي ډول نه دي استخراج شوي. دې هېواد په دې وروستیو کې دوې مهمې طبیعي زیرمې ( مس عینک او د حاجیګک د اوسپنې کان ) مناقصې ته وړاندې کړي ( لومړي برخې ته مراجعه وکړي ).

دا ډېر علتونه لري، جنګ، غیر قانوني کېندنې، سیمه ایز زورواکان...قاچاق د دې لامل شوي چې تر اوسه په دې هېواد کې کانونه په صنعتي او عصري توګه استخراج نه شي.

اوس هم دا هېواد په دې برخه کې کافي سرمایه نه لري، نړیوالي کمپنی، پانګې اچونې ته زړه نه ښه کوي، د کان په برخه کې متخصصین او حرفه یې کاریګر یا نشته او یا هم دومره کم دي چې په حساب کې نه راځي. له بل لوري د کانونو د استخراج له پاره برېښنا، اوبه، د رېل پټلې، ترانسپورت، درنې او عصري مشینري. .. تصفیه خانې، هېڅ هم نشته.

د کانونو په سیمو کې ناچاوده توکې او ماینونه سرمایه ګذاري او د کانونو استخراج ته بل غم دي. په سیمه کې زورواکان، او هغه کسان چې کانونه یې تر واک لاند دي هم لوي خنډ ګڼل کېږي.

---

ii-International Labor Organization

د کانونو د استخراج له پاره "لوړ iii" مراحل

د کانونو د استخراج مهارت او په دې کار پوهېدنه په دوو پراخو برخو وېشلي شو: لوړ صنعت/مهارت او ټيټ صنعت/مهارت iv.

داوړه په لاندې ډول تشريح کېږي:

لوړ صنعت د کانونو د لټولو او له ځمکې څخه د هغه د را ايستلو فعاليتونو ته وايي، په دې مانا چې د اکتشاف او استخراج له پروسو څخه عبارت دي.

ټيټ صنعت : هغو فعاليتونو ته وايي چې د کان تصفيه، خام مواد او پر دې موادو کار، د دې موادو پلور او نورې مرحلې په ځان کې رانغاړي.

په دې برخه کې هغه څلور ټکي يادوو چې په لوړ صنعت ( اکتشاف، استخراج ) پورې اړه لري. دا څلور مرحلې عبارت دي له، :




اکتشاف، توسعه، ګټه اخيستنه ۷، پاي

---

iii-Upstream

**دا برخه په پلټنو،** (د خامو نفتو او ګازو پلټنې ته اشاره کېږي) پورې اړه لري. دا برخه د اکتشاف او توليد په نوم هم يادولای شو.

iv-down stream

**د ټيټ صنعت اصطلاح:،** هدف يې د طبيعي ګازو او خامو نفتو پلور او توزيع ده.

دکانونو د لوړ صنعت مراحل يا (Upstream Industry)۱۲۶

۱. د کانونو د انکشاف مراحل

د ځمکې پېژندنې او نخشې له پاره ستلايت، الوتکه او هليکوپټر مرسته کونکي دي. د افغانستان د ځمکې پېژندنې نخشه د ټولو په واک کې ده، د بېلګې په توګه د متحده ايالاتو لخوا د افغانستان د کانونو په اړه جيولوژيکي نخشه چې په اساني سره يې موندلي شو. vi۱۲۷، دا نخشه د هغو شرکتونو سره مرسته کوي چې غواړي د افغانستان د کانونو په موقعيت او څرنګوالي پوه شي. پلټونکي شرکتونه او ادارې د دې نخشې په مرسته په لوړه کچه د کانونو ځاي، نښې، نمونه اخيستنې. ... په اړه معلومات تر لاسه کولاي شي.۱۲۸

کله چې د پلټنې او يا هم د کانونو د استخراج يو کوچيني شرکت vii، په دوامدراه زېرموviii، پوه شي، ( ځيني وړاندوينې وايي چې خام مواد پر توليدي موادو بدلول ۱ پر ۵۰۰۰ يا ۱۰۰۰۰ دي) دوي دا زخېرې په لويو او وړو شرکتونو پلوري.

دا اکتشافات له ۱ تر ۱۰ کلونو وخت غواړي.

۲. د کان د انکشاف مراحل

د کانونو د استخراج نوي چلونکي ځيني فعاليتونه لکه د امکان سنجي مطالعاتix، د محيطي اغېزو ارزيابي، ټولنيز خطوط، د کان د تړلو او بيا سپړلو طرح، پر اغېزو او توافقاتو خبرېx، مالي ملاتړ او نور په پام کې نيسي.

د کانونو وده او پراختيا کېداي شي له ۷ تر ۱۰ کلونو پورې وخت وغواړي

: ۲-۳ کاله ازمايښتونه، ۱-۳ کاله د محيطي اغېزو ارزيابي ۱-۵ کاله د کان او د کان له پاره د حمايوي زېربناوو جوړول ۱۲۹ .

د عمليات يا د کانونه داستخراتج مرحله( Mine Operation Stage):

دا د کارکونکو د استخدام او د هغوي د روزنې او دوي ته د وظيفو د سپارلو مرحله ده ( د کان د پيدا کولو له پاره اضافه مواد لکه خاوره او نور بايد ليرې کړي. )xi.

په عمومي توګه يو صنعتي کان څلور کاري محلونه لري. د حفاري يا کيندنې ځاي، د تصفيې ځاي، د اضافه موادو ( خاورې او نور باطله مواد ) د اچولو ځاي، او د حمايوي خدماتو ځاي. د کان د استخراج وخت توپير کوي، له ۲ تر ۲۰۰ کاله پورې وخت ته اړتيا شته۱۳۰.

۳. وروستي يا د کان د تړلو مرحله:

استخراج کونکي شرکت د کان د تړلو او بيا پرانستلو مسوليت پر غاړه لري. دا د شرکت دنده ده چې په څه ډول د کان خوله وتړي او سيمې ته تر ډېره هماغه پخواني بڼه ورکړي، چې د کان تر کار مخکې يې درلوده.

دا مرحله په عمومي توګه په دايمي ډول ترسره کېږي۱۳۱xii.

---

vi-United State Geological Survey's Afghanistan Mineral Information System Page

vii-Junior Mining Company

viii- Viable deposit

ix-Feasibility Studies

x-Impact-benefit agreements

xi-Does mine expansion and contraction

xii- Mine closure generally lasts to perpetuity.

نفت او ګاز

د نفتو د صنعت دسته بندي

په دې صنعت کې درې ډوله بسته بندي تر سره کېږي. لوړې صنايع (Upstream)، منځني صنايع (Midstream) ټيټي صنايع (Downstream)

۴. لوړو صنايعو ته پلټنه او توليد هم وايي، په دې کې د خامو موادو او طبيعي ګازو پلټنه او توليد راځي. ۱۳۲.

۵. منځني صنايع: تصفيه، ذخيره سازي، بازار ته عرضهٔ او ترانسپورت ( په لوله کې انتقال ) خام نفت، طبيعي ګاز، مايع ګاز ( اتان، پروپان او بوتان) او اورلګيت دي.۱۳۳.

٦. ټيټي صنايع:د نفتو پالايشګاه، پتروشيمي کارخانې او توزيع کونکي پکې راځي.۱۳۴.

دوي د مشتريانو له پاره وروستي توليد لکه، ډيزل، د جيټ د الوتکو د سوخت مواد، ګرم کونکي روغنيات، قير، مبلاين، ترکيبي رابړونه، پلاستيک، د يخ وهني او افتونو ضد مواد، کيمياوي ترکيبات، طبيعي ګاز او پروپان توليدوي. ۱۳۵.

د نفتو او ګازو اکتشاف يا لوړ مراحل (E&P)

په عمومي توګه لاندې مرحلې لري: :

پلټنه، مناسب انکشاف، توليد، او د سيمې بيا سپارنه

شکل ۸، کاين انرژي (Cairn Energy): د نفت او ګازو د پروژې د دوام دوره ۱۳۶




د اکتشاف او توليد مرحله: (E&P)

کمپني په دې مرحله کې د نفتو او ګازو د زېرمو د اکتشاف او توليد له پاره د فزيکي اکتشافاتو څخه استفاده کوي. شرکت په دې اړه هم يوه سروې تر سره کوي چې په سيمه کې د زلزلې خطر څومره دی، په دې توګه غواړي چې د تېرو او کان له لوېدو او خطر څخه ځانونه ډاډه کړي، د xiii زلزلې ټکانونه شايد تر ځمکې لاندې په کان کې د چاودنې او يا هم ميکانيکي ارتعاشاتو لامل وګرځي، دا په خپله ډېرو مالي او ځاني خطرونو ته لاره هواروي ۱۳۷. د کار دا مرحله شايد له ۳ تر ۱۰ کونو پورې دوام وکړي.

xiii-Seismic shooting

۲ –د نفتو د اکتشاف او تولید په برخه کې د څاګانو کېندنه: (E&P)

کله چې د زلزلې په اړه لومړني څېړنه ترسره شوه، نو د څا ګانو د کېندلو ځایونه په نښه کېږي. دا هم په پام کې نیول کېږي چې دا ځای باید له اقتصادي او د چاپېریال ساتنې له اړخه څنګه په لومړني بنه جوړ شي. کمپني په پیل کې یوه یا دوې څاګانې ( چې هغوی ته " ابتدايي کېندنهxiv" وايي) کېندي. دا څاګانې تر هغو کېندي چې تر ځمکې لاندې هایدروکاربن پیدا شي. که هایدروکاربن نه وي، نو د څاګانو د کېندلو کار درول کېږي. ۱۳۸. د دې له پاره چې پوه شو چې ایا دا سیمه نفت یا ګاز لري او که نه، د دې څاګانو کېندل اړینه خبره ده. ۱۳۹. دا مرحله له ۱-۷ کلونو پورې وخت غواړي.

۳-د اکتشاف او د نفتو د تولید مرحلې (E&P):

په دې برخه کې شرکت هاریدرو کاربن استخراجوي. مایع هایدرو کاربن، اوبه، ګاز او جامد مواد له یو بل څخه بېلوي. همدارنګه هغه برخې چې د خرڅلاو وړ نه دي له مینځه وړي او پاتې هایدروکاربنونه او ګاز پلوري. نفت په پالایشګاه کې نصفیه کېږي او طبیعي ګاز د استخراج په سیمه (Field) یا د پروسس په کارخانو کې د تصفیې وړ دي. ۱۴۰.
دا مرحله له ۱۰ تر۳۰ کلونو وخت ته اړتیا لري

۴- اکتشاف او د نفتو د دتولید پای یا د سایټ د پرېښودلو دوره: (Site Abandonment Stage) :

کوم وخت چې د نفتو یا ګازو زېرمه دومره کمه شي چې تولید یې اقتصادي نه وي، شرکت د څاګانوخولې تړي، د پاکولو په کارونو پیل کوي او خپل کار دروي. که د څاه د کېندلو پر وخت دې ته متوجه شي چې څا وچه ده، نو د څاه خوله د سیمیتو په واسطه پوښل کېږي.. ۱۴۱.

بدلونونه: د سرچینو هر ډول استخراج که په کمه اندازه او ابتدايي وسایلو وي او که په پراخه کچه او عصري وسایلو، په سیمه کې ژور بدلون راوستلای شي. دا بدلونونه شاید منفي او مثبت اړخونه ولري، خو که هر رنګه وي، پر سیمه خپلې اغېزې پر ځای پرېږدي. افغانستان یو ځانګړي جغرافیايي جوړښت لري، له همدې امله باید په دې پوه وي چې د کان کېندنه مو پر چاپېریال څه ډول اغېزې کولای شي. منفي یا مثبتې. خو یوه خبره روښانه ده چې د کانونو کېندنه، د خلکو پر ژوند، دود او کلتور مستقیمه اغېزه درلودلای شي. موږ په پراخ مقیاس د کانونو اغېزې په دریو برخو وېشلای شو:

۷. پر ټولنه او چاپېریال اغېزې:

۸. د خلکو راتګ (کان لرونکو سیمو او د کانونود اتسخارج سایټونو ته) دا په سیمه کې د اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي بدلون لامل ګرځي.

۹. د پیسو راتګ چې د ټولنېز او اقتصادي بدلونونو سبب کېږي.

xiv-spudding

دا بدلونونه کومې منفي او مثبتې پايلې لري؟
دا اغېزې په سيمه کې په محلي کچه د ستونزو او لويو جنجالونو لامل ګرځي. دا ستونزې کېداي شي لويې شي او ان ارامه هېوادونه هم د جګړې خواته بوځي، خو په جګړه ځپلو هېوادونو کې د دې جنجالونو د پيدا کېدو وېره ډېره ده. ځکه د دې هېوادونو اوسېدونکي له اقصادي ستونزو سره مخ دي او او په کان کې خپله برخه غواړي چې دا خپله د نزاعو سبب ګرځي.۱۴۲.




Destruction of local roads, limited support from mining companies to improve infrastructure and dust formation by mining trucks and operations are among the leading complaints of the local residents.

په افغانستان کې تر اوسه په دې اړه څو څېړنې تر سره شوې دي، په دې تحقيقاتو کې (Case Study) کې روښانه شوه چې ډېري افغانان له سياسي، اجتماعي او اقصيادي ستونزو پرته د طبيعي سرچينو پر سر (ځمکه، اوبه، لرګي، کانونه...) هم د يو بل سره شخړې کوي.۱۴۳.

د کانونو د استخراج پر سر را ولاړېدونکې ستونزې کېداي شي چې په سمه توګه مديريت شي، داسې چې منفي اړخونه ونه لري او پر ځاي يې مثبت اړخونه قوي شي. که نه نو د خلکو له پاره به يې ترګټې تاوان ډېر وي.
خو د ستونزو د راکمولو له پاره دا مديريت انساني او مالي سرچينوته اړتيا لري، په دې برخه کې مخکې له خکې چمتووالي او له دخيلو خواوو سره خبرې مهم رول لري، په تېره بيا، دولت، د سيمې خلک، کمپني، مدني ټولنې او رسنې له پامه نه شو غورځولې.
مدني ټولنې دخيلو خواوو ته د ډيالوګ او خبرو زمينه چمتو کولاي شي، له بل لوري د دې اوږد مهاله مرحلې له پاره د ملاترړو خدماتو، پور، او تخصصي خلکو په تربيه کې هم مفيد ګټل کېږي.

بالقوه اغېزې

دا برخه په دې اړه ده چې د کانونو استخراج پر ځمکه، مهاجرتونو، امنيت، چاپېريال، تاريخي او فرهنګي ځايونو، روغتيا او اقتصاد باندې کوم منفي او مثبت اغېز درلوداي شي.
د کان د استخراج ډېرې منفي اغېزې په پراخ مقياس کې په محلي سطح کې پېښېږي. لکه د محيط زيست تخريب، د ځمکې له لاسه ورکول، د معيشت له لاسه ورکول او داخلي مهاجرتونه. ۱۴۴.
له بل لوري د سيمې اوسېدونکي ډېر وخت د کان له استخراج څخه لويه او بېځايه تمه لري او وايي چې دا استخراج به دوي له اقتصادي پلوه پر ځان بسيا او له ډېرو ستونزو څخه وژغوري. دوي په دې تمه وي چې د کان له راسپړلو سره به يې په سيمه کې بيکاري ختمه او واړه، زاړه به د کارونو څښتنان شي. خو دا ډول لويې او له واقعيته تمې ډېر وخت په سيمه کې د کشمکش او جګړو لامل ګرځي.

ځکه نو په افغانستان کې دا برخه مهم او ژور مدیریت ته اړتیا لري. ۱۴۵. دا تمه نه یواځې په افغانستان بلکې د کانونو له اړخه د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې شته، د دې هېوادونو اوسېدونکي دا فکر کوي چې د کانونو را ایستل به یې د اقتصاد له پلوره پیاوړي او پر خپل ځان متکي کړي، خو نتیجه یې داسې نه وي او له ځو کاري فرصتونو پرته بل څه په لاس نه ورځي. همدا علت دي چې نهيلي کېږي، د دولت او کمپنیو پر وړاندې عقده نیسي او په یوه نه، یوه صورت امنیتي ګواښونه رامینځته کوي.
دوي نه یواځې دا چې ګټه نه تر لاسه کوي، بلکې په خپل چاپیریال او ورځني ژوند کې منفي بدلون ويني. قهر او خشونت خپلوي او د هغو اقداماتو په وړاندې چې دوي یې بې عدالتي ګڼي راپورته کېږي او د لویو نا امنیو لامل ګرځي.

ځمکه

د کانونو استخراج ځمکې ته اړتیا لري، دولت او کمپنې باید د اکتشاف له پاره مناسبه ځمکه په واک کې ولري، له همدې امله کله کله دولت ملکیتونه سلبوي تر څو کمپنیو ته کاري زمینه برابره کړي.
افغان دولت د ځمکو د سلب له پاره خپل قدرت او صلاحیت ( چې تصرف یا په اجباري توګه د ځمکو پلور هم ورته وايي) د زیربناوو مکتب، سړک، کانال... په کار اچوي. ( د "ځمکې" په اړه بحث په ځلورمه برخه کې لوستلي شئ.). له دې امله چې افغانستان د ځمکو د تصدیو یو کمزوري مدیریت او سیستم لري XV، نو ډېرې پوښتنې را پیدا کوي چې ځینې یې د اندېښنې وړ دي. لکه:

۱۰. ډېر خلک د ځمکې په اړه له خپلو حقوقو ناخبره دي او خپلې ځمکې یې وروستیو قوانینو ته په کتو سره ثبت او راجستر کړې نه دي. شاید دوي ډاډه وي چې دوي د ځمکو مالکین ديxvi خو دولت شاید دا ډول کسان د ځمکو موقت مالکین وپیژنيxvii اودوي ته محدود حقوق ورکړي. دا وېره هم شته چې ځمکې یې د عرفي ځمکو په نوم وپېژندل شي.
۱۱. د افغانستان معاصر تاریخ ته په کتلو سره د ځمکې ډېر مالکان غایب دي، دا د دې لامل ګرځي چې دا ډول اشخاص مشروع مالکیت ونه لري. دا ډول کسان کلونه کلونه ورک دي او یا هم په نورو هېوادونو کې اوسي، د دوي غیابت په خپله د ځمکو پر سر شخړو ته لاره هواروي او کوم کسان چې راغلي هم دي پر ځمکو یې نورو کسانو دعوې کړې.
۱۲. همدارنګه یو واقعیت د کانونو د کوچنیو مالکانو په اړه هم صدق کوي، ځینې کسان شاید د هغو ځمکو قانوني حق ولري چې کان پکې پروت دي، خو یو شمېر نور بیا د دا ډول حق درلودونکي نه وي.
۱۳. له مس عینکو څخه ځو رپوټونه وايي چې ځايي اوسېدونکي د دولت له خوا په زور د خپلو ځمکو پرېښودلو ته اړ شویدي. داسې رپوټونه هم شته چې محلي دولت د خلکو درمندونه بې ځایه کړي او هغوي یې د سیمې پرېښودلو ته مجبوره کړي دي. ۱۴۶.

د مالکیت د سلب او نورو ضررونو په اړه د خساراتو جبران

کله چې دولت ځمکې تصرف کوي، خلکو ته باید په همدې برخه کې د قانون او پالیسیو له مخې د خساراتو جبران ورکړي ( په ځمکه پورې اړونده فرعي موضوعاتو او همدارنګه په ځلورمه برخه کې محافظتي پالیسي ته مراجعه وکړئ.)۱۴۷. شرکتونه هم باید هغو خلکو ته خساره ورکړي، چې د کان د استخراج په صورت کې یې ځمکې زیانمنې کېږي.
په مس عینکو کې هم یوه لویه ستونزه هغو کسانو ته خسارات ورکول و چې زراعتي او نورې ځمکې یې په خطر کې وې. دا ځکه چې د مالکیت د ثبت اسناد بشپړه نه وو، له بل لوري خلکو د ځمکې د مالکیت د ثابتولو له پاره قانوني او عرفي اسناد نه درلودل.

---

xv-has **weak land tenure** systems and governance

xvi -Land owner

xvii -Land owner

همدا علت و چې د قوانینو له مخې ډېر اسناد مبهم او د درک وړ نه ول. په دې برخه کې د خساراتو د جبران نورې ډېرې بېلګې هم شته چې شاید تاسو ورسره مخامخ شي.

۱۴. دا چې تولنې ته باید په څومره اندازې د خساراتو جبران ورکړل شي، دا د افغانستان د قوانینو له مخې څرګنډ کېږي چې پر دې ځمکو څنګه تصرف کولای شي. شاید خلک له قانوني اړخه هومره حق ونه لري لکه څومره چې یې دعوه کوي، او یا هم خبره بر عکس وي.

۱۵. په افغانستان کې تقریباً هېڅ میرمن هم د ځمکې مالکیت نه لري، له همدې امله یواځې نارینه د خسارې د جبران وړ ګڼل کېږي، دا موضوع خپله د میرمنو په وړاندې نابرابري او د هغوی کمزوري ښیي.

۱۶. په افغانستان کې ډېرې وخت د خساراتو د جبران بڼه داسې ده چې د ځمکې په مقابل کې ځمکه ورکول کېږي. که کور تخریب شي، نو د کور مالک یوه اندازه نقدې پیسې تر لاسه کوي. یا هم د ځمکې او کور خاوند ته په بله سیمه کې داسې یو کور ورکوي چې مخکې جوړ شوی وي. یا هم د ځمکې او کور نغده بیه ورکول کېږي، د مس عینک تجربو ښودله چې د سیمې ډېر خلک د خپلو ځمکو او کورونو پرېښودلو ته اړ شول او کومې زراعتي ځمکې چې په بله سیمه کې ورکړل شوې، د زراعت له مخې یې ښه کیفیت نه درلود۱۴۸. دا خلک وایي چې په نویو سیمو کې د جومات او هدېرې ځای نه لري، د اوبو رسولو سیستم هم نشته او دا ځای یې تر خپل پخواني ځای ډېرې ستونزې لري. ۱۴۹. له بل لورې په نغده توګه د ځمکې او کور خساره ورکول یوه بله ستونزه هم لري، ډېر خلک نابلده وي، دوی نه پوهېږي چې په تر لاسه شویو پیسو څه وکړي، همدا علت دی چې دا پیسې د وخت په تېرېدو سره ورنه مصرف کېږي او خلک له فقر سره مخامخ کوي.

۱۷. کېدای شي چې ورکړل شوي خسارات له سیمه اېزو ارښتونو سره سم او شفاف نه وي، د عینکو د سیمې اوسېدونکي په دې باور دي چې دولت دوی ته د ځمکې تر اصلي بیې ډېرې لږې پیسې ورکړې چې دا په خپله له دوی سره ظلم شوی دی. ۱۵۰.

۱۸. یو بل څه چې دا موضوع لا پیچلې کوي، د کانونود صنعت استخراج ډېر وخت په سیمه کې د ځمکو ارزښت لوړوي، چې دا په خپله د ځمکو د دلالانو پام را اړوي او په هغه سیمه کې د ځمکو د خرڅولو او اخیستلو د بازار د تودوالي لامل ګرځي. ډېری دا دلالان د زورورو او هغو کسانو لخوا حمایه کېږي چې په سیاست او دولت کې مهم رول لري. دا په خپله د دې سبب ګرځي چې د ځمکې مالکین په زور یا په رضا له خپلو ځمکو څخه محرومه شي. په مس عینک کې خسارات یواځې هغو کسانو ته ورکول کېږي چې زورور او یا هم واسطه لرونکي وي چې د اندېښنې وړ ده. ۱۵۱.

۱۹. ډېر وخت د دولت لخوا ټاکل شوي خسارات پر خپل وخت نه ورکول کېږي او یا هم دا پروسه په ټپه درېږي. د رپوټونو له مخې په مس عینک کې ډېرو کسانو د هغو پیسو تر نیمایي کمه برخه تر لاسه کړې، کوم چې ژمنه ورسره شوې وه. ۱۵۲. دا هم ویل شوي چې یواځې په دریو کې یوې برخې متضرره شویو کسانو پوره پیسې اخیستې. اند۱۵۳.

۲۰. د ځمکو اوسني هغه مالکین چې ځمکې یې د دولت لخوا مصادره شوې دي، باید په دې پوه شي چې له دولت څخه څنګه او په کومو لارو د ځمکې خسارات غوښتلې شي. په دې برخه کې له عدلي ارګانونو او یا هم بین المللي هغه ارګانونه چې د حساب ورکونې په برخه کې کار کوي ( یو څو اړخېزه توسیعوي بانک یا نور ارګانونه ) چې د دې پروژې له پاره کار کوي، مرسته غوښتې شي.

د معیشت له لاسه تلل:

د ځمکو د تصرف په صورت کې د څارویو د څرځای سیمو او زراعتي ځمکو ته ضرر رسېږي. د بېلګې په توګه، د مس عینک اوسیدونکو له خپلو څرځایونو او زارعتي ځمکو څخه لاس مینځلي چې له دې درکه یې خپل معیشت هم له لاسه وتلی. دا په خپله د سیموخلکو ته لویه اقتصادي ضربه ده. ۱۵۴.

د كانونو استخراج نورو اقليتونو لكه كوچيانو ته هم لوي تاوان ور پيښولاي شي. كوچيان له پېړيو راهيسي د افغانستان له جنوبي برخو شمالي برخو ته ځي او دا اوږده سفرونو بالعكس تكراريږي. د كانونو استخراج د دوي د څارويو د څرولو په سيمو ناوړه اغېزې كوي او دا په خپله د كوچيانود معيشت په وړاندې لويه ننګونه ده.

د كانونو د استخراج په سيمه كې د زلزلې په اړه مطالعه، ځمكو او د ځمكو حاصلاتو ته تاوان ور رسولاي شي. له بل لوري د ځاګانو كېندل د ځمكې د فرسايش او د ځنګلونو د خرابېدلو لوي سبب ګڼل شوي دي. همدارنګه د كان استخراج په سيمه كې د بيكاره موادو يا زبالو لويه زېرمه جوړولي شي...

د اوسپنې او مسو ځينې تېرې د ويلي كېدو له پاره ډېرې انرژۍ ته اړتيا لري، دا په دې مانا ده چې د خلكو د ځمكو له تصرفه پرته، هغه ځمكې هم تصرف كېږي چې د ډېرو د سكرو كانونه پكې موندل شويدي. يوه بېلګه يې د كلچ او اشپشته د سكرو كانونه دي چې د مس عينك له پاره ټاكل شوي دي. د راپورونو له مخې د دې كانونو بندېدل ۵۰۰۰ كاريګر، د ذغالو پلورونكي او د هغوي كورني له معيشت څخه بې برخې كړل.۱۵۵.




شكل ۱۰، د چاد افريقايي هېواد كارتون۱۵۶.

د ژوند چاپېريال

د كان هر ډول كېندنه كه په لويه پيمانه وي او يا هم كمه، په مستقيمه توګه پر چاپېريال اغېزې لري.

په كم مقياس ابتدايي استخراج:

دا ډول استخراج په سيمه كې د اوبو كيفيت له مينځه وړي، دا ځكه چې د كان پاتې شوني او باطله مواد اوبو او سيندونو ته ورلوېږي او اوبه غير صحي كوي. په ابتدايي ډول د سرو زرو او نقرې د كانونو استخراج زهريات توليدوي چې د انسان او حيوان له پاره خطرناک ګڼل شوي۱۵۷. په لړه او ابتدايي ډول استخراج د ډېرو ناروغيو لامل ګرځي ( دا ځكه چې په دې ځايونو كې ډېرې لږې بيت اخلاګاني وجود لري). پر دې سربېره د ګنده اوبو د ډنډونو جوړېدل، د ملاريا ناروغي ته هم لاره هواروي.

صنعتي استخراج:

دا ډول استخراج پر چاپېريال باندې ډېرې شديدې او دوامداره منفي اغېزې پر ځاې پرېښودلاي شي. د دې استخراج اغېزې د كان د كار تر ختمېدو وروسته د ډېرو وخت له پاره پاتې كېداي شي، دا ځكه چې صنعتي استخراج په ځمكه كې د فزيكي، كيماوي او بيولوژيكي بدلونونو لامل ګرځي.

اوبه

صنعتي استخراج د سيمې اوبه هم كمولي شي. په تېره بيا د افغانستان غونډې په يوه هېواد کې چې ۹۵% اوبه يې په زراعت کې مصرفېږي. ۱۵۸. هغه کسان چې د کان د استخراج او يا پيداکولو په خاطر نويو سيمو ته مهاجرت کوي، هم پر چاپېريال بې اغېزې نه دي.




Local people often oppose mining in environmentally sensitive ecosystems such as mountain forests and rivers, where impacts on water quality and biodiversity can be serious.

شکل ۱۱، د زوي د کارتون شبکه

د سرو زرو او مسو د کانونو استخراج په ډېره کچه اوبو ته اړتيا لري. په لومړيو شپاړسو کلونو کې د مس عينک د کان استخراج ته په ورځ کې ۵۸۴۰۰۰ متر مکعبه اوبه اړکل شوې دي او وروسته له هغه هره ورځ ۵۷۳۰۰۰ متر مکعبه اوبو ته اړتيا ليدل کېداي شي. ۱۵۹. متخصصين واي چې افغانستان په دې برخه کې د څښلو د اوبو د چمتو کولو فکر نه دی کړی.۱۶۰.

خو د کان له پاره د ابو کيفيت او څرنګوالي مهم نه دي. دا په دې معني ده چې کان تازه او با کيفيته اوبو ته اړتيا نه لري، بلکې له هر ډول اوبو څخه استفاده کولاي شو.۱۶۱.

د کان صنعتي استخراج پر زيرزميني اوبو هم اغېزې پرېښودلاي شي. د کانونو استخراج د اوبو سطح او طبيعي فلتر ټيټوي او له بل لورې ککړې اوبه سيندونو ته ور توېږي. ۱۶۲. بېکاره او باطله مواد د څښلو اوبه خرابوي او په ټولنه کې د څښلو د اوبو د قلت سبب ګرځي. کابل ښار همدا اوس له همداسې ستونزې سره مخ دي چې ډېرې سيمې يې د څښلو پاکې اوبه نه لري. ۱۶۳.

د مس عينکو کان د ضرورت وړ اوبه او د کابل ښار اوبه له يوه ځايه تامينېږي. د۱۶۴. د دې امکان شته چې د مس عينکو د کان استخراج او باطله مواد د لغمان او ننګرهار اوبه هم ککړې کړي.۱۶۵.

په پاي کې، کله چې اوبه ککړې او کمې شوې، دا موضوع پر امنيت هم منفي اغېزې لري. په افغانستان کې تر ځمکې وروسته، د اوبو پر سر ډېرې شخړې کېږي. خو د اوبو د وېش او ساتنې سالم مديريت کولاي شي چې تر يوه بريده د دې ستونزو مخه ونيسي.۱۶۶.




The grazing of animals on old tailings sites and the salvaging of materials left there are risky practices that may expose people to radioactive or toxic contamination.

بېکاره او باطله مواد

"د هر کان استخراج باطله مواد له ځان سره لري. د کان د استخراج په صورت کې شايد يو فيصد اصلي مواد او ۹۹ فيصده باطل مواد په لاس راشي. د۱۶۷."

باطل مواد، کيمياوي موادهم لري چې خلکو او چاپېريال ته خطرناکه دي.

شکل ۱۲، د زوي د کارتون شبکه

د کان اضافي موادو ته تفاله يا پاتې شوني هم ويل کېږي. دا مواد معمولا مايع او يا هم جامده بڼه لري. ۱۶۸.

دا مواد د ژوند پر چاپيريال ناوړه پايلې درلوداي شي، ځکه په سيمه کې د ډېر وخت له پاره پاتې کېږي او اغېزې يې هم اوږدمهاله وي. په افغانستان کې د زلزلې وېره ډېره ده، له همدې امله د دې موادو پر وړاندې بايد يو ه کلکه موانع جوړه شي تر څو يې د ښويدنې مخه ونيول شي او نورو سيموته سرايت ونه کړي. ۱۶۹




Industry managers often understate the environmental impacts of their enterprises, while the people remain dissatisfied and demand effective measures.

د کان د اسيدونو تخليه

د کان اسيد هغه مهال صورت نيسي چې د کان سلفايد لرونکې تېرې له اوبو او ازادې هوا سره مخامخ او له سلفايد څخه په سلفورک اسيد بدلې شي. اغېزې يې پيړې پيړې له مينځه نه ځي. له کانونو څخه ډېر تخليه شوي مواد سرب،

د کان ترل

د استخراج له پاره کېندل شوي ځايونه ډېر فزيکي او کيمياوي توان نه لري. کېداي شي چې ولوېږي او يا هم ښويدنې پکې رامينځته شي.

دا کار بيا جوړونې او دايمي نظارت ته اړتيا لري. له همدې امله بايد د قرارداد پر مهال دې ټکي ته پام وکړو چې دا شرکت بيمه دي او که نه؟ xix، ځکه ځينې شرکتونه وروسته ورشکسته کېږي او په خپلو ژمنو نه شي پاتې کېداي.

چې د کان د پاک کارې، بيا رغونې او نظارت تضمين پکې اخيستل شوي وي، مهم او اساسي ګڼل کېږي.۱۷۱

شکل ۱۳، د زوې د کارېکاتور شبکه

د کان د کېندلو پر مهال غرونه، لوګي او دوړې موجودې وي. دا ټول پر چاپيريال او کروندو ناوړه اغېزې کوي او غبار شايد تر لرو ساحو سرايت وکړي.

ګاز

د ګازو اور اخيستنه

د ځاګانو د کېندلو او د کان د استخراج پر مهال ګازونه هوا ته پورته کېږي، له همدې امله کارکونکي دا ګازونه سوځوي او همدا علت کله کله د اور اخېستنې لامل ګرځي. ترسره کونکې پروژې هڅه کوي، چې دا ګازونه په لاس راوړي، خو د دې کار مصارف د ګازو اور اخيستنه چاپيريال له ستونزو سره مخامخ کوي او د ګلخانه يي ګازاتو د توليد او خپرېدو سبب ګرځي. له بلې خوا د ګازو اور په سيمه کې د ډېر لوګي لامل کېداي شي او کله چې ګاز اور واخلي، ګوګړ خپرېږي چې دا په خپله اسيدي بارانونو ته لاره هواروي او د سرطاني ناروغيو مهم سبب ګڼل شوي دي.

xviii-Acid Mine Drainage (AMD)
xix-Performance bonds
xx -Reclamation bonds.

**ضایعات**

د نفتو ضایعات باید په سمه او ستدرده توګه په داسې ځای کې وساتل شي چې له انسانانو او کروندو لیرې وي. د کانګو د جمهوریت اوسېدونکو دولت ته شکایت وکړ چې بارانونه یې د نفتو ضایعات د اوسېدو سیمو ته راوړي او دا ضایعات له کیمیاوي مضرو موادو ډک دي. دوي وويل چې دې موادو یې زراعت، اوبو او کب نیونې ته لوي تاوان ور اړولي دي.
کار هغه وخت ودراوه چې د چاپیریال ساتنې ستندرډ اصول یې له پامه غورځولي وو. په دې برخه کې د چاد دولت څېړنه وکړه او دې نتیجې ته ورسېد چې د نفتو ضایعاتو سیمه او چاپیریال ککړ کړي دي. دولت وویل چې دې شرکت غیر قانوني څاګانې کېندلې او د

د طبیعي سرچینو استخراج پرامنیت پورې مستقیمه اړه لري:

۲۱. کېداي شي چې پروژه یوې منازعې ته لاره هواره کړي. ( د امنیتي ارګانونو بد چلند، له مشورې پرته مجدد اسکان، د خساراتو نه جبرانول، تیاري نه درلودل او د پروژې له ګټو محرومول...)، دا ټول د سیمې او ان د یوه هېواد امنیت ته لوي ګواښ دي.

۲۲. کېداي شي چې پروژه په خلکو کې پخواني دښمني بیا را تازه کړي ( له یوه قوم یا قبیلې څخه د کاریګرو ټاکل، د درامدونو نا ثابته ورکړه او د برېښنا غېر عادلانانه وېش...).

۲۳. منازعې پر پروژې اغېزې پرېښولاي شي، لکه زورور او نا مسوله مسلح کسان د پروژې پر زېربناوو یرغل ور وړي. ۱۷۴
په افغانستان کې هم د دا ډول پېښو نمونې لرو:

۲۴. د مس عینک له قرارداد سره سم په لوګر او بامیانو کې امنیت خراب شوي دي. د مس عینک سیمه د راکټونو د حملو، سړي تښتونې، د کارمندانو د وژنې، پر پولیسو د حملو. ..او نورو پېښو شاهده وه. ۱۷۵. له هغې لارې څخه هم چې حاجیګک ته غزېدلې ده، د امنیتي پېښو او جرایمو راپورونه تر لاسه شوي دي. ویل کېږي چې یو شمېر انجنیران ورک شوي او په ۲۰۱۳، کال کې پر دې لاره د بامیانو د ولایتي شورا څو غړي وژل شوي دي. ۱۷۶.

۲۵. تر اوسه لا دولت او شرکتونه په دې نه دي توانېدلې چې د سیمې اوسېدونکو ته خسارات ورکړي او دوي قانع کړي چې خپلې پلرنۍ ځمکې پرېږدي. ۱۷۷.

۲۶. د بامیانو په ولایت کې د ډبرو د سکرو د کلیج او اشپشته د کانونو بندول ( د مس عینک په قرار داد کې دخیل دي) او د زرګونو خلکو بېکاره کېدل په خپله امنیت ته لوي ګواښ دي. ډېري دا کسان د دولت پر وړاندې عقده لري، چې د دولت د وسلوالو مخالفینو لخوا جذب او په سیمه کې د نا ارامي لامل ګرځي.۱۷۸.

۲۷. په بامیانو کې د سیمې خلک له هغو کسانو سره هم کله کله جګړې کوي چې د کار د تر لاسه کولو په خاطر دې ولایت ته راغلي دي.۱۷۹.
له بل لورې په ځینو سیمو کې د امنیتي کسانو ناوړه چلند هم د امنیت د خرابېدو لامل شوي. بېلګې یې د نړې په نورو هېوادونو کې هم شته.
افغانستان هم همداسې مثالونه لري، د راپورونو له مخې په کونړ ولایت کې محلي پولیس د کرومیتو د کان په استخراج کې دخیل دي xxi. پولیسو د سیمې اوسېدونکي له کوم قانوني دلیله پرته نیولي دي، زندان ته یې اچولي او مختلفې شکنجې یې ور کړې دي. ۱۸۰. دې کار ټول هغه کسان تر پوښتنې لاندې راوستل چې د کانونو د ساتلو مسولیت لري. څېړنو ښودله چې دوي د رشوت په مقابل کې د کلیج او اشپشته د کانونو لس تونلونه له اجازې پرته پرانیستي دي. ۱۸۱.

---

xxi-United States Department of Defence's Task Force for Business Stability Operation

د خلکومهاجرت

داخلي مهاجرتونه ( "هجوم") د کان له استخراج سره تړلي دي. خلک په ډله ييزه توګه هغو سيمو ته ورځي، چېرته چې د کان د استخراج کار روان وي.
دا ډول مهاجرتونه د ځايي اوسېدونکو او مهاجرو خلکوتر مينځ ستونزې پيداکوي او په کان کې د کار او نورو ګټو پر سر رقابت رامنځته کوي. له نورو ولاياتو څخه د کانونوسيمو ته د خلکو راتګ يوه مهمه او ستونزمنه خبره ده. د حاجيګک کان ته څېرمه کليوال هم همدا ستونزه لري.
دوي وايي چې د ګڼې ګوڼې په ډېرېدو سره د دې سيمو ستونزې يو په شپږو ډېرې شوې دي. ( اوبه، برېښنا، سړکونه، مکتبونه، روغتونونه، مسکوني منازل...) دومره ډېرو کسانو ته بسنه نه کوي. له بل لورې دې ګڼې ګوڼې مخدره موادو او فحشا ته هم زمينه برابره کړې ده.

فرهنګي او تاريخي سيمې

په صنعتي توګه د کانونو استخراج د سيمې پر تاريخي او فرهنګي ځايونو ناوړه اغېزې لري. څکه کېندنې کېږي، يوه سيمه تخرېب کېږي او دا کار د سيمې تاريخي ځايونه، هديرې، مقدسې سيمې. ..له ګواښ سره مخامخ کوي.
ډيلي چاينا کنسرسيوم (شرکت) وايي چې د قرار داد د لاسليک پر وخت د سيمې فرهنګي او تاريخي مسايل نه و ور معلوم، له همدې امله له تاريخي او فرهنګي ځايونو څخه ساتنه ۱۴ ميليونو ډالرو ته اړتيا لري. ۱۸۲

روغتيا

په ابتدايي او کوچيني مقياس د کانونو استخراج xxii
د کانونو استخراج او صحت، دواړه سره تړلي دي. د روغتيا د نړيوال سازمان د رپوټ له مخې په ابتدايي او کوچيني مقياس د کانونو استخراج مهم او اساسي خطرونه لرلي: د هوا ککړېدل، په سيمه کې د کيمياوي عناصرو خپرېدل ( سپينو او سرو زرو په کانونونو کې د سيماب په شمول)، غږونه او ارتعاشات، تودوخه، رطوبت، د غرونو ښويدنه، چاودنې، ناکافي زده کړه... او نور خطرونه دي چې دا ۱۸۳
له بل لوري په کانونوکې افغان کاريګر هم ايمني ( ساتونکې ) اسانتياوې نه لري، په کانونو کې ډېرې سمڅې او غارونه د لرګو په واسطه درول شوېدې چې هره شېبه د تېرو د لوېدو او کېندل شويو سمڅو د لوېدو خطر ورسره تړلي دي.
په بغلان او سمنګانو ولايتونو کې د ډېرو د سکرو په کانونو کې د ميتانو د ګازو چاودنې ګڼو کسانو ته مرګ ژوبله واړوله چې يواځې د مړو شمېره يې ۵۵ کسان ښودل شوي دي.

صنعتي استخراج

دا ډول استخراج هم د سيمې د اوسېدونکو او په کان کې د کارکونکو د صحت له پاره مضر دي. تنفسي ستونزې، جلدي خارښت، ملاريا، کانګې او نورې روغتياي ستونزې ورسره تړلي دي. دا څکه چې د کان استخراج پر اوبو،هوا او چاپېريال منفي اغېزې کوي چې نتيجه يې صحت ته تاوان دي.
د عينک د سيمې اوسيدونکې هم سر له اوسه اندېښنه لري. دوي وايي چې په سميه کې به تر ډېره زهرې مواد پاتې شي، اوبه او هوا به ککړه کړي او د دوي روغيتا به له ګواښ سره مخامخ شي..۱۸۴
ښځې او ماشومان

xxiiArtisanal and small-scale mining

### په ابتدايي او کوچيني مقياس د کانونو استخراج

په افغانستان کې د کانونو د کاريګرو لويه فيصدي ماشومان جوړوي. څېړنو ښودلې چې د سمنګانو د ډبرو د سکرو په کان کې ماشومان په ورځ کې له ۲۰ تر ۲۴ ساعتونو پورې کار کوي. د تخار ولايت د طلا د يوه کان په ۷۰۰۰ کاريګرو کې په دريو کې يوه برخه ماشومان دي. دوي د طلا د پرېمانځلو او پر لاسونو د پالش کولو دنده پر مخ وړي او د دې زحمت په وړاندې د ورځې يواځې ۳$ آمريکايي ډالره ګټه تر لاسه کوي. د ځينو څېړنو له مخې د تخار د مالګې په کان کې تر زرو ډېر ماشومان په شاقه کارونو بوخت دي. ۱۸۵
۱۸۶

### په صنعتي ډول د کانونو استخراج

ميرمنې د داسې لويو پروژو په پلې کېدو کې تر نورو ډېرې ستونزېويني، خو په عادلانه توګه يې له ګټو نه برخمنې کېږي. "- اکسفام د کانونو استخراج او اغېزې ښځې او نارينه، دواړه زيانمن کولای شي. خو ښځو ته يې د نارينه وو په پرتله کمه ګټه رسېږي. شرکتونه د ګټې او خساراتو د ورکړې په اړه له نارينه وو سره خبرې کوي، نه له ښځو سره. د خسارتو د جبران پيسې هم د نارينه وو جيبونو ته لوېږي، د استخدام په برخه کې هم د نارينه وو برخه ډېره ده او همدا نارينه دي چې عايد په لاس راوړي. دا ټکي په ټولنه کې د ښځو موقف کمزوري کوي او دوي تل د نارينه وو جيبونو ته سترګې نيولې وي. په همدې توګه په ټولنه کې جنسيتي توپير لا ډېرېږي.. ۱۸۷ نتيجه يې دا ده چې د کورنيو په قواعدو کې بدلون راځي، کورني تاوتريخوالي ډېرېږي او په کورني کې يواځې نارينه د پرېکړو او امتيازاتو درلودونکي وي. کله چې د کانونو استخراج په سيمه کې د ځنبلو اوبه ککړې کړي، دا ښځې دي چې د پاکو اوبو په راوړلو پسې ليرې ځايونو ته ځي.۱۸۸

د کان استخراج د ښځو په ورځني ژوند او روابطو هم اغېزې شيندي. د بېلګې په توګه د عينکو د سيمې اوسيونکو ښځو ويلي، له کومې ورځې چې د کان کار پيل شوي، نو دوي د ګټې ګوښې له لاسه د خپلو خپلوانو ليدو ته نه شي ورتلاي، نه شي کولاي چې د پخوا په شان په ازاده توګه په کروندو کې وګرځي، کار وکړي او يا هم څاروي وڅروي.. ۱۸۹

### اقتصاد

سيمې ته د نغدو پيسو په راتګ او د خلکو د عايد پورته کېدل، په ټولنه کې فساد ته لاره هواروي. کله چې يو څوک هومره پيسې تر لاسه کړي چې پخوا يې نه وې ليدلې، کېداي شي چې دا پيسې په غلطو لارو ولګوي او بې هدفه يې مصرف کړي. د بېلګې په توګه، په تر لاسه شويو پيسو موټر يا موټرسايکل واخلي او وروسته بيا د تيلو د اخيستلو او ترميم له پاره پيسې ونه لري.

له بل لوري د خساراتو د جبران پيسې د کورني مشر ته چې نارينه دي ورکول کېږي، دا سرې شايد دوې ميرمنې او ګڼ اولادونه ولري چې دا پيسې د دومره لويې کورني له پاره بسنه نه کوي. له بل لورې مهاجرتونه او د نرخونو لوړېدل د سيمې د اوسېدونکو ژوند ته لوي ګواښ دي.

### بالقوه ګټې

د کان استخراج له ستونزو سره سره ګټې هم لري. په دې برخه کې د سرچينو د استخراج بالقوه ګټې او ښيګڼې روښانه کوو. د ډېرو پيسو راتګ، کاري فرصتونه، زيربنا او د خدماتو وړاندې کول... دا ټول د کان د استخراج په ښيګڼو کې شمېرل کېږي. په دې هم خبرې کوو چې کوم عوامل د دې ښېګڼو په وړاندې خنډ پيښولاي شي او د دې ستونزو د له منځه وړلو لارې چارې څه دي؟

په هر صورت، په دې ځاي کې محلي ګټو ته ډېره تمه پيدا کېږي. د ځينو مرکو له مخې حاجيګک ته نږدې کليوال تمه لري چې د کان

را ایستل به یې ژوند ښه کړي، دوي په دې باور دي چې دا پروژه به کاري زمينه ورته برابره او په سيمه کې به يې عام ګټې پروژې لکه مکتب، سړک، کلينک... جوړ شي..۱۹۰.

لا ډېرې پيسې

په لوړه کچه د کانونو استخراج د دولت بوديجه پياوړې کولاي شي، صادرات، د خدماتو په مقابل کې حق الزحمه،د جوازونو صدور، دا ټول په ملي او سيمه ييزه کچه اجتماعي او اقتصادي وده چټکوي او په محلي سطح هم بې ګټې نه ده.

خو شرط یې دا دی چې د فساد مخه ونيول شي. څېړنو ښودلې چې په دولتي ادارو کې فساد د دې لامل شوی چې له کان څخه تر لاسه کېدونکي عايد راکم شي. د افغانستان د استخراجي صنايعو د شفافيت د ابتکار ارګان دا خطرونه پېژندلي ( ۴ برخه "د نفتو او کانونو استخراج قوانينو ته مراجعه وکړئ ).




Mining companies pay national and local taxes, but because the local population does not see the benefits, companies have started making direct contributions to local communities.

په دې برخه کې ډېر کار ته اړتيا ده چې بالقوه پيسې څنګه له فساد څخه ساتلي شو، لاندې ځينو عواملو ته اشاره شوې ده.

ايا په دې ځای کې د خالص اقتصاد ګټه وجود لري؟ مسولې پروژې بايد د استخراج له پاره دا خالصه ګټه تشخيص کړي. دا خالصې ښيګڼې عبارت دي له: حق الامتياز، ماليات، دولت ته حق الزحمې او د چاپيريال ساتنې مصارف، د پروژې دوام، همدارنګه د ټولنېزو اغېزو مديريت، د يوه کان هغه مصارف چې پر چاپيريال اغېزه کوي، د کان د اسيدي خاصيت د له منځه وړلو پروژه چې تر پايه شايد يو تريلون ډالره مصرف وغواړي.۱۹۲ دا ټول محاسبات د دې څرګندونه کوي چې ايا وړانديز شوې پروژه به د پام وړ سود يا ګټه ولري او که نه.

يوه پروژه ډېر وخت ته اړتيا لري او په دې موده کې د توليد شوي محصول بيه هم په توپير کې ده، شايد کله لوړه شي او کله هم ټيټه، دا ټول بايد په پام کې ونيول شي. دا چې د پروژې عاملين، پانګه اچونکي او يو هېواد له پروژې څخه څومره ګټه تر لاسه کوي، دا د محصول په قيمت پورې اړه لري چې هر وخت په يوه حال نه وي. ۱۹۳

اشتغال يا کاري فرصتونه

په ابتدايي او کوچيني مقياس د کانونو استخراج : دا مقياس د صنعتي استخراج په پرتله ډېرو خلکو ته د کارزمينه برابروي. ځکه کار يې د ماشين پر ځای فزيکي قوې ته اړتيا لري، د بېلګې په توګه د کيليچ او اشپشته په کانونو کې ۵۰۰۰ نفرو کار کاوه او هر يوه يې نسبت په يوه ساختماني شرکت کې د کار په پرتله څلور چنده عايد درلود. ۱۹۴

د کان ابتدایي بڼه ډېرو عصري ماشینونو ته اړتیا نه لري او دکان کښدنه، تر ډېره پر انساني متو متکي ده. لاندې شکل په ابتدایي او ماشیني ډول د کانونو د استخراج توپیر را ښيي.

: په ابتدایي او ماشیني ډول د کانونو د استخراج توپیر




په صنعتي توګه د سرچینو استخراج

دا ډول استخراج فني او مسلکي کاریګرو او متخصصینو ته اړتیا لري، چې دا ډول کسان لوړ مزد غواړي. په دې برخه کې دا څېړو چې دا ډول استخراج اقتصادي دي او که نه؟ او د شغلونو په پیداکولو کې کوم رول لري:

محلي ټولنه تمه لري چې ډېر کاریګر استخدام شي،دا خپله یوه سالم مدیرت ته اړتیا لري چې په ډېرو سیمو کې نشته. د کانونو استخراج اسانه خبره نه ده، د استخراج له پاره په کار یوه او مسلکي کسانو ته ضرورت دي چې په په محلي سطح د دا ډولو کسانو موندل ګران کار دي. دوي یواځې ساده کارونه ( اشپزي یا نګهباني ) تر سره کولاي شي. کله چې د ټولني توقع ډېره وي

**TYPICAL JOBS IN A MINE OPERATION**

| | | |
|---|---|---|
| Miners | Carpenters | Computer technicians |
| Heavy equipment operators | Geologists | Human resources managers |
| Pipe fitters | Safety experts | Security officers |
| Environmental scientists | Clerks | Health and safety coordinators |
| Accountants | **Assayers** | Janitors |
| Administrators | Truck drivers | Construction workers |
| Laboratory technicians | Electricians | Landscapers |
| Community relations officers | Welders | Nurses |
| Drillers and blasters | Surveyors | Lawyers |
| Mechanics | Engineers and technicians | Marketing personnel |
| IT specialists | Instrumentation technicians | Cooks and catering staff |

او د دوي غوښتنې په سمه توګه مديريت نه شي، نو دوي له شرکت څخه کرکه پيدا کوي او نه غواړي چې په سيمه کې يې د کېندنې کار پر مخ لاړ شي.

ښې لاس ته ارقام د هغو دندو او عملياتو نمونې دي چې د نفتو او ګازو د کان د استخراج له پاره ضروري ګڼل شوې.۱۹۵ د دې کارونو ډولونه د دې څرګندونه کوي چې د ښځو په پرتله، نارينه وو ته د استخدام ډېر چانس موجود دي.

### د استخدام په اړه د ژمنو نه عملي کېدل




The local population does not always have the relevant qualifications for the mining companies' recruitment needs.

کله کله دولت د استخدام په برخه کې د خلکو تمې نه شي مديريت کولای اويا هم خلکو ته بېځايه او له حقيقت نه لېرې وعدې ورکوي. يوه بېلګه يې د لوګر ولايت د مس عينک کان دی. د سيمې له خلکو سره ژمنه شوې وه چې د دې کان ۷۰٪ کاري فرصتونه به په دوي پورې اړه ولري.۱۹۶ خو د دې لارښود د ليکلو پر وخت په دې کان کې د لوګر يو مدير هم نه دی استخدام شوی. دې ته ورته، د کان وزارت ويلي چې د حاجيګک د کان د پروژې له پيل سره به تقريبا ۳۰۰۰۰ کسان کار پيدا کړي، دا لوړ ارقام په خپله د پوښتنې وړ دي او خلکو ته بېځايه تمه ورکوي.. . له بل لوري په دې هېواد کې کار موندنه تر ډېره په شخصي شناخت او رشوت پورې تړلې مسله ده. په دې اړه ډېرې پوښتنې شته چې څوک به کاري فرصتونه تر لاسه کړي او څوک به په دې برخه کې د زده کړو کورسونو ته معرفي شي.

. دا ستونزه په نورو هېوادونو کې هم شته، هلته هم د ورو او په کار پوه کسانو پر ځای هغه خلک استخدام شوي چې واسطه يا هم شخصي شناخت يې درلود.

.

پر کان پورې پر اړونده شغلونو ډېر متکي کېدل: که د کومې سيمې اقتصاد تر ډېره د کان پر استخراج پورې تړلی وي، نو دا کار په خپله خطرناکې پايلې لري. د کان له ختمېدو سره سم به د خلکو اقتصاد دړې وړې شي. دا ځکه چې دا خلک يوازې په کان پورې تړلي وو او کوم بل مهارت يا کاروبار يې نه درلود.

Level of labor and activity in industrial mining۱۹۷Figure

شکل ۱۸، د کانونو په استخراج کې د کار او فعالیت سطح ۱۹۸




د عینک پروژه په ناڅاپي توګه د ډبرو د سکرو د دوو کانونو د ترل کېدو لامل شوه. له دې کانونو څخه پنځه زره کسانو ډوډې پیدا کوله، سیمه ایزې ملیشې چې د کان د ساتلو، او دسکرو د اخیستلو او پلورلو کاروبار یې کاوه هم بېکاره شوې، په سیمه کې د ډبرو سکاره لږ شول، له بل لوري د سیمې اوسېدونکو په کانونو کې د سمڅو پر کېندلو او نورو وسایلو پانګه اچونه کړې وه چې ټولو تاوان ۵۰۰ کاریګر د کان په جنوبي برخه کې استخدام کړل. ۱۹۹

محلي ظرفیتونه




که په سیمه کې د شرکتونو لخوا شغلي فرصتونه کم وي، خو د کان له استخراج سره نور کارونه هم پیدا کېږي. د بېلګې په توګه، د شرکت له پاره فرعي او اصلي اثاثیه او خدمات وړاندې کول، د موټرو کرایه، پر دوې د میووو او نورو خوراکي موادو خرڅول،د کارمندانو له پاره د یونیفورم چمتو کول... او نور هغه څه دي چې د سیمې خلک عاید ترې اخیستي که په ساده ژبه ووایو، د محلي کارمندانو مقررېدل او د اجناسو پلورل محلي ظرفیتونه ګڼلې شو. خو دا په ټوله نړې کې یو ستونزمن کار دي او

لاندې ستونزې را پيدا کولای شي:

د "محلي" ټکي مفهوم څه دي؟

له دې کليمې څخه دولت او محلي ټولنې مختلفې ماناوې اخلي.ايا دا ټکي د يوه قوم، ځاي يا مليت مفهوم ورکوي؟ يا د هغه ولايت اوسېدونکو ته وايي چې د استخراج کار پکې روان دي ؟ که هغه مهارتونه، اجناس او خدمات چې شرکت اړتيا ورته لري، په دې سيمه کې نه وي، څه به پېښ شي؟

ټکي د واضع کولو له پاره ژور بحث غواړي. په تېره بيا په افغانستان کې چې قانون هم په دې اړه روښانه دريځ نه لري.

مختلف غير رسمي محلي عرضه کوونکي: محلي کسب او کار ډېر وخت معياري نه وي او نه هم د شرکتونو له پاره د خدماتو په وړاندې کولو کې معياري وړتياوې لري. دولت مسوليت لري چې داستونزې هوارې او په دې برخه کې د سيمې اوسېدونکو ته د زده کړې او د مهارتونو د لوړولو زمينه برابره کړي.

مالي او اداري خنډونه: په افغانستان کې واړه او متوسط متشبثين د لنډ مهاله او اوږد مهاله پورونو اخيستلو ته ډېر لاسرسي نه لري، همدارنګه په دې او نورو کاري برخو کې له شفافه ادارو درلودلو څخه هم بې برخې دي، له بل لوري د کاري ظرفيتونو د لوړولو له پاره داسې مرکز نشته چې د پام وړ وي..۲۰۱




۲۰ شکل، د چاد د هېواد يو کارتون i

© Adji, Chad (2001)

د خدماتو وړاندې کول او زېربناوې

*ايا تاسو هغه توليدې کارخانې ليدلي چې موږ ژوند پکې کاوه، څراغونه شپه او ورځ روښانه ۲۴ ساعته فعاليت کوي، دوي هېڅوخت په کار کې ځنډ نه راولي، دلته، موږ له شمعو – د لايبريا کارګران*

په لوړ مقياس يا لوړه کچه د استخراجي صنايعو يوه بله ګټه دا ده چې په سيمه کې زېربناوې جوړېږي. سړک.، مکتب، روغتون، پلونه، د اوبو سيستم، برېښنا... دا ټول ور پورې تړلي دي. دولت هم شايد روزنې او ښونې، روغتيا او نورو ټولنيزو ښبګڼو ته لا ډېر پام وکړي.

په ځينو سيمو کې شرکت د دولت پر ځاي عام المنعه کارونه کوي، د دې کارونو کيفيت کله کله ټيټ وي او د سيمې د خلکو قناعت نه شي تر لاسه کولای. دا ځکه چې پروژې د دولت او کمپني په خوښه ټاکل کېږي، دوي بايد په دې برخه کې د خلکو مشورې واخلي او هغه څه جوړ کړي چې خلک اړتيا ورته لري او په لومړيتوبونو کې راځي. که داسې ونه کړي، نو د خلکو او د پروژو د تطبيق کونکو تر مينځ اختلاف او کرکه پيدا کېږي او ټولنه د دې پروژو منلو ته غاړه نه ږدي.له بل لوري خلک ګټو ته ګوري، دوي دا مقابسه کوي چې ايا يواځې استخدام په پام کې نيول شوي دي که نه، په دې ځاي کې ښوونځي، کلينيک او يا جومات هم جوړېږي. ډېري محلي ټولنې په خپله سيمه کې برېښنا او اوبه غواړي چې ډېر وخت د دولت او استخراج کونکو کمپنيو له خوا نهيلي شوي دي.

قانوني چوکاټ

په دې برخه کې به موږ لومړي په کانونو د څارنې او خنډونو په اړه خبرې کوو او وروسته به د کانونو د راويستنې اړوند کليدي قوانين چې د ځمکې، اوبو، ژوندانه د چاپېريال، د کانونو راويستل او خام نفت، کار، ساتونکې تګلاره او بشري حقوق توضيح کوي.

د نافذه قانون په بنسټ دغه برخه او د زده کړې د دې لاربښود په اړه لیکل شوي دي. څنګه چې تاسې له دې لاربښود څخه ګټه اخلئ، د مهرباني له مخې څېړنه وکړئ چې په واقعي توګه کوم قوانین نافذ دي، ځکه چې دا قوانین څو ځلې له سره کتل شوي دي.
تاسې همدارنګه باید د قوانینو په سلسله مراتبو پوه شئ. د ۲۰۱۴ کال اساسي قانون د دې ځمکې تر ټولو ښه قانون دي او همدې اصولو ته ورته شریعت هم. اساسي قانون هم بیانوي چې په افغانستان کې هېڅ قانون او اصول نه شي کوي چې د اسلام د مقدس دین د احکامو خلاف وضع او نافذ شي. دا په دې معني دي چې په افغانستان کې نور ټول قوانین د اساسي قانون تابع دي. په داسې یوه ځاي کې چې د حقوقو په تضمین کې اساسي قانون او نور قوانین توپیر ولري اساسي قانون ته ارزښت ورکول کېږي.
عرفي حقوق هم تر اوسه په افغانستان کې په پراخه کچه کارول کېږي، اساسي قانون د عرفي قانون د حاکمیت په اړه چوپ دي.۲۰۲ عرفي قانون تر ډېره له شریعت سره ورته والي لري او شریعت هم عرفي قانون ته تر هغې کچې چې د اسلام له مقدس دین سره په تضاد کې واقع نه شي اجازه ورکوي.۲۰۳

منځپانګه

نن ورځ نادولتي تمثیل کوونکي نظردولت ته د سرچینو د راویستلو په فعالیتونو ډېر کنټرول لري. اخیستنې راښیي چې د افغانستان د په ۲۰۱۳ کال کې، د کانونو وزارت د ۱۴۰۰ شرکتونو او کسانو لېست چې د کانونو په ناقانونه ویستلو لکه منرالونه، د ډېرو سکاره، کرومایت، ډېر شمېر قېمتي او نیمه قېمتي ډبرې، سرب، فلورایټ، مرمر، شن او الماسو کې یې لاس درلود نیولي دي.
په ټولیزه توګه ویلاي شو چې افغانستان په اوس وخت کې په بشپړه توګه له یوه غیرمرکزي حالت څخه د مرکزي کېدو په حال کې روان دي. افغانستان تر اوسه هم د ۲۵۰۰۰ سیمه ییزو حکومتونو ځاي دي چې د قانون د حاکمیت او د مرکزي حکومت په واسطه د اغېزمنې ادارې په ځاي د واک د دلالانو او سیمه ییزو او متنفذینو له خوا اداره کېږي.
له نادولتي تمثیل کووکو پرته چې د قانون په چوکاټ کې عمل کوي، یوه اندازه اړو دوړ او خنډونه هم دي چې د کانونو د راویستنې په پروژو کې د خنډونو په څېر د سالمې او شفافې ادارې په وړاندې رامنځ ته کېږي. چې عبارت دي له:

د فاحش توازن نشتوالي

په معلوماتو، پوهه، د ټولنو تر منځ د خبرو اترو ځواک او سرچینې څنګ شړل شوې، شرکتونو او دولتونو کې د فاحش توازن نشتوالي.
د ملي او سیمه ییزو ټولنو تر منځ د کانونو د راویستلو په پروژو کې ذاتي اړو دوړ: منرالونه چې له یوې د ټولنو په شخصي ځمکو کې دي او له بلې خوا د عامه پانګې په توګه تر دولت پورې اړه لري. د ټولنو تر منځ د اړتیاوو او ګټو د تضاد له امله شخړې رامنځ ته کېږي چې ټولنې یې له منفي اغېزو ضرر ویني او دولت چې ګټه یې ترلاسه کوي.
د سرچینو د کفران اصطلاح، هغه وخت رامنځ ته کېږي چې سرچینې لرونکي دولتونه خبلې سرچینې په سم ډول د هغې هبواد د ټولو اتباعو او نفوسو په ګټه مدیریت کړي، د بشري ودې په لاره کې، اوږد مهاله اقتصادي وده او دولت داري سم کار ترسره نه کړاي شي. دغه باد راوړې پانګې لکه د واکمنو او مشرانو لپاره ناحاصل شوې پیسې کولاي شي په آساني سره ضایع شي. د سرچینو د دې کفران یو پرمختللي شکل هغه وخت رامنځ ته کېږي چې د سرچینو راویستنه د هېواد وضعیت دومره کړکېچن کړي چې په ځمکه کې پاتې کېدل یې په ګټه وبلل شي، ځکه چې په راویستلو سره به یې د شخړو په لوړېدو، ډېر نامساوات، ډېره بېوزلي، استبدادي دولت او د اقتصادي اوږدمهاله ودې د بېې ټیټېدل شي.۲۰۵
د سرچینو د شفافې ادارې په وړاندې د خنډونو رامنځ ته کول چې اغېزمن مقررات پکې شاملېږي، د کانونو د راویستنې او د عملیاتو دوراني څرنګوالي، د قوانینو او مقرراتو پلي کول، د دولت د ظرفیتونو د لوړولو لپاره ناکافي تمویل، په دولت کې بدلونونه او تبدیلي، په دولت کې د نااهله کسانو شته والي، د خصوصي صنایعو او دولت تر منځ د اهل پرسونل د پیداکولو په سر سیالي دي.

## ځمکه

### قانوني چوکاټ

د افغانستان د اساسي قانون ۴۰ مې مادې د ملکیت حق تضمین کړی دی. په ۲۰۰۷ م کال کې د کابینې وزیرانو یو نوي ارضي سیاست چې د اوسېدنې په غیر رسمي سیمو کې د ځمکې د مالکیت حق ته اجازه ورکوي تصویب کړ.۲۰۶ د اراضي چارو د اداري قانونxxiii چې په ۲۰۰۸ کال کې تصویب شو، د ځمکو ډېر ډولونه یې تعریف او طبقه بندي کړي دي. په دې قانون کې د ځمکې قباله کولو لپاره ټول لازم شرایط تاکل شوي دي، په دولتي ځمکو واکمن اصول، د ځمکې په اجاره نیول، د ځمکې مصادره یا یې د ملکیت سلبول او د ځمکو د هم تنظیم شوي دي.




The laws and regulations on the use of subsoil, land allocation and environmental protection are sometimes confusing and inconsistent and so are the maps.

دغه قانون د اسلامي (شریعت) قوانینو په رسمیت پېژندلی، په ځینو وختونو کې یې د شریعت له اجرایي اصولو کار اخیستی، په هغو سیمو کې د ځمکنیو چارو د اداري قانون چوپ دی، په دې ډول موضوعاتو کې د هېواد مدني قانون چې له حنفي فقهې سره سم دی نافذ دی. که چېرې په دې موضوع کې مدني قانون چوپ دی، بیا هم د شریعت اصول نافذ دي.۲۰۸ په افغانستان کې تر اوسه هم عرفي قانون واکمن دی، د عرفي قانون په ځای مدني قانون د ځمکنیو حقوق په اړه په رسمیت پېژندل شوي دي.۲۰۹

دغه به ستاسې لپاره ډېره مهمه وي چې اسلامي او عرفي قانون څه ډول د ځمکنیو حقوقو ملاتړ کوي، په ځانګړې توګه د هغو خلکو لپاره چې د ځمکې او یا مسکوني مالکان دي. ځکه چې په ځینو ځایونو کې د افغانستان د ځمکو قوانین مبهم دي.

### د اجارې او ملکیت ډولونه

#### ملي قانون

د سرچینو راویستل یوازې په مشخصو ځمکو کې جواز لري. د همدې دلیل په بنسټ مهمه ده چې د ځمکې د اجارې او ملکیت په اړه پوه شئ. د ځمکې د اجارې حق د خلکو او ځمکې تر منځ (په فردي او جمعي توګه) یو عرفي او یا حقوقي ارتباط دی. د ملکیت حقوق د کنټرول، استفادې، له یوه ځانګړې ملکیت څخه چې (منقوله شخصي پانګه) ولري ګټه اخیستنه او غیر منقوله (د ځمکې په څېر واقعي پانګه) عبارت له فردي او یا جمعي حقوقو څخه دي.

د افغانستان اراضي کولای شي، خصوصي او ډله ییزو (کورني، قبیلې او ټولنې) ارګانونو، کسانو او دولت ته ورکړل شي. دغه حقوق کېدای شي وروسته د ملکیت، اجارې ورکولو، د لاسرسي حقوق، د اجارې حقوق، ګرو او یا رهن حقوقو په نومونو یاد شي.۲۱۰ ملکیت، په افغانستان کې د ځمکې تر ټولو څرګند ډول اجاره لرل دي، چې د ځمکې د ملکیت یو ډول انحصار کول دي. مالک کولای شي له هغې ځمکې چې د ملکیت حق پرې لري په آزادانه توګه ګټه واخلي او یا یې له ګټې لاس واخلي.۲۱۱

xxiiiLaw on Managing Land Affairs

د خصوصي خواوو تر منځ د اجارې معامله، همدارنګه د دولتي وزارتونو، کسانو، او ارګانونو تر منځ جواز لري. کرنيزه اجاره چې د دولت له خوا ورکړل شوې وي له ډېرو اوږدمهاله اجارو څخه دي. له کرنيزو هدفونو پرته اجاره ورکول تر لنډمهاله اجارې پورې اړه لري (کلونه). د خصوصي ځمکو اجارې په عمده توګه د عرفي قانون په واسطه برابرې شوې او موخه يې هم لنډمهاله وي.۲۱۲
په معمولي توګه د لاسرسي وړ توافق شوي حقوق، د دولت تر ملکيت پورې اړوندو څرڅايونو پورې اړه لري خو عرفي قانون کسانو او ټولنو ته اجازه ورکوي چې له هغوي څخه ګټه وکړي او قباله يې کړي.۲۱۳
د تصرف حقوق د عرفي حقوقو د اصولو په اساس يو ډول غير رسمي حقوق دي چې د غير رسمي ځمکو د اوسېدونکو د حقوقو ساتنه وکړي. دواړو عرفي او رسمي قوانينو د ګروي دوه ډوله ځمکې په رسميت پېژندلې دي: يو ډول هغه دي چې په ځمکه پور لري او د پور پيسې له ځمکې څخه ترلاسه کوي، او بل ډول يې هغه دي چې پور ورکوونکي تر هغې د ځمکې مالک دي څو پورې يې پور نه وي ورکړې. دويم ډول يې ډېر عام دي.
په افغانستان کې د ځمکې د پرلپسې اجارې ورکولو له امله ډېر امنيت او ثبات نه لري، لکه د بې نظمي او تاوتريخوالي دوام، په يوه ځمکه څو ناحل شوې شخړې چې افغانستان ته د افغان کډوالو له بيا راتلو سره ريبنه لري، بېلابېلو دولتونو چې هر يوه بېلو ارګانونو ته د ملکيت حق ورکړي دي، داخلي بې ځايه شوي، د ځمکو د حقوقو په اړه په ټولنو کې د يو غيرمنصفانه تاريخ شته والي او دا حقيقت چې په افغانستان کې په غير کرنيزو ځمکو هېڅ حاکم قبول شوي اصول نه شته.۲۱۴

اسلامي قوانين

اسلامي قوانينو له يو بل څخه درې ډوله ملکيتونه توپير کړي دي: دولتي، خصوصي او هغه ځمکې چې ديني چارو ته وقف شوې دي. دلته به يوازې خصوصي ملکيتونو ته توضيح ورکړل شي.
په عامه ملکيتونو د ټولنې د ټولو کسانو له خوا جمعي ملکيت وضع کېږي. د ټولنې ټول غړي او يا يې ډلې ګټه ورځخه اخلي. په عامه ملکيتونو کې، سرکونه، سمندرونه، ځنګلونه، پارکونه، جهيلونه، طبيعي چينې، منرالي سرچينې او هغه ځمکې چې د خصوصي ارګانونو او کسانو د استفادې لپاره نه وي.۲۱۵
د ټولنې د استفادې لپاره عامه او دولتي پانګې، لکه سرکونه، سمندرونه او مسجدونه چې د پلورلو وړ نه دي او يا هم د دولت تر ملکيت پورې اړه لري او نه شي کېداي چې د خصوصي کسانو له خوا ونيول شي.۲۱۶
له استفادې پرته عامه ځمکې. له ټولو غير توليدي اقتصادي ځمکو څخه عبارت دي.۲۱۷
په عامه دولتي ملکيتونو کې ټولې عامه پانګې شاملېږي، په دې شرط چې يوازې دولت به د عامه مصالحو او منافعو لپاره کار ترې اخلي. ۲۱۸ (مسئله).
.۲۹ خصوصي ملکيت: خصوصي ملکيت د هغې د استفادې په بنسټ تعريف کېږي. د اسلامي قوانينو له مخې يو کس کولاي شي د ځمکې ملکيت په خپل نوم کړي، په دې معني که چېرې يو کس شخصي ځمکې ته پراختيا ورکړي، کولاي شي ملکيت يې خپل کړي. دغه عمل مالکيت رامنځ ته کوي، آن واقعي ملکيت.۲۱۹

اداره

د کرنې چارو او مالداري په وزارت کې د املاکو (ځمکې) رياست د ځمکې د ادارې لپاره اصلي مسوليت لري. خو دا موضوع د افغانستان د ځمکو د حاکميت په نوي قانون (ALA) کې هم راغلې ده. پر دې وزارت سربېره، ښاروالي او د کليو شور ګانې کولاي شي د ځمکې په اداره کولو کې عمده رول ولوبوي. ښاروالي د ځمکې د اختصاص او اکتساب په وړاندې مسوليت لري، همدارنګه د کليو شوراګانې د ځمکې اړوند په ټولو شخړو او اړو دوړ کې مداخله کړي شيږ

په افغانستان کې په ځمکو شخړې په يوه عامه ستونزه چې ډېرې وخت تاوتريخوالي هم لري بدله شوې. په ځمکو د کډوالو دعوې، د مشرانو له خوا د ځمکو غصب، قبيلوي کړکېچونه، تقلبي اسناد، غيابي هوکړې، د وراثت حقوق او د نفوسو ډېروالي دا ټول شخړو ته ډېروالي ورکوي. قضايي سيستم د دې شخړو د حل او منځګړيتوب لپاره کافي ظرفيت نه لري، په ځانګړې توګه ډېرې خلک قضايي محکمې فاسدې بولي. د ځمکو د شخړو ځانګړې محکمه په خپلو دندو کې د ناکامي له امله په سخت ډول د خلکو تر نيوکو لاندې ده. په بدل کې افغانان په عمده توګه د يوه غير رسمي ميکانيزم له مخې شخړې اواروي لکه: سيمه ييزو رهبرانو د شخړو وړاندې کول او سيمه ييزې شوراګانې او يا د کور غړې يې اواري.

د ځمکې اکتساب او د خسارو جبرانول

ملي قانون

په ټوليزه توګه د ځمکې اکتساب. د ځمکې د مالکيت حقوق د ځمکې د اخيستلو له امله، د دولت له خوا د ځمکې اختصاص کول، د ملکيت لېږد د ارث په څېر تر لاسه کېږي. دلته هېڅ قانون د ملکيت مغاير او موافق نشته.**۲۲۰** د افغانستان د اساسي قانون له مخې بهرني کسان د غيرمنقولې پانګې (ځمکې) له مالکيت څخه منع کړې دي خو کولای شي د پانګې اچونې په خاطر يې اجاره کړې.

د کانونو او منرالونو د ۲۰۱۲ م کال تصويب شوي قانون څرګندوي، په داسې حال کې چې ځمکه دکانونو د راويستنې په فعاليتونو کې په کار وي، د ځمکې څښتنان کېدای شي د کار اجازه لرونکي ته ځمکه په اجاره ورکړي. يا هم کېدای شي دولت دا ځمکه د عامه ګټو لپاره د قانون په اساس (د اراضي او اساسي قوانينو په ګډون) اکتسابوي. **۲۲۱**

افغانستان د ثبت يو قانوني سېستم لري، خو د ثبت پروسه ډېره له زحمت نه ډکه وه. له ۱۰ سلنه لږ کليوال ملکيتونه او له ۳۰ سلنه تقريباً ټولې ثبت شوې ځمکې د کور د رييس په نوم دي، سره ددې چې د اساسي قانون له مخې ښځې نه شي کولای د مالکيت او يا د پانګې اکتساب ولري. نجونې په اغلبه توګه د خپلې ځمکه برخه ورونو ته وربښي او کونډې مېرمنې يې خپله ځمکه زامنو ته ورکوي. يوازې ۲ سلنه افغان ښځې د مالکيت حق لري.**۲۲۳**

په زور سره نيول

د اساسي قانون ۴۰ مې مادې د ملکيتونو ضبط او يا مصادره (د صلاحيت لرونکې محکمې او قانوني دستور پرته) لپاره منع کړې ده او د خصوصي ځانګې تر لاسه کول يې يوازې د عامه ګټو او دا چې د پخواني تاوان په تبادله او جبران لپاره وي اجازه ورکوي. د ځمکو د مالکيت د سلب قانون چې په ۲۰۰۵ کال کې تصويب شوي، دولت ته اجازه ورکوي چې ځمکې د عامه ګټې په موخه تر لاسه کړي. د عامه ګټې لباره ځمکې د ترلاسه کولو او د تاوان ورکولو په اړه اساسي قانون مبهم دي او د تاوان ورکولو حق يې يوازې هغې کسانو ته چې رسمي ملکيت لري ورکړي، له ځمکې ګټه اخيستل او عرفي مالکيت يې په نظر کې نه دي نيولي.**۲۲۴**، سره د دې چې د ځمکو د مصادرې قانون د اوسېدو د موضوعاتو په اړه دويم ځلي هم چوپ دي. د کانونو او منرالونو د قانون د مخکې ليکنې په بنسټ د اغېزمنو ټولنو لپاره دويم ځلي ځای په ځای کېدو په اړه کاري پلان تيارول بايد د يوه قانوني جواز لرونکي ارګان له خوا ترسره شي.**۲۲۵**

د اجباري اکتساب لپاره د خسارې جبرانول. د ځمکې د اکتساب د قانون له مخې، د دولتي بيو په بنسټ د ځمکو د خسارې ورکول چې د يوې قانوني کمېټې له خوا برابرېږي، ترسره کېږي. که چېرې دولت ځمکه د عامه هدفونو لپاره نيسي، د ځمکې مالک بايد د ځمکې ارزښت که هغه ځمکه، د اوسېدو کور، باغونه، وداني او نورې د ځمکې اړوند پانګې وي تر لاسه کړي. د خسارې د ورکولو بيه چې د طبيعي سرچينو له امله د ماليې وزارت له خوا ورکول کېږي، د نورو صلاحيت لرونکو ارګانونو په مرسته ټاکل کېږي، د ژوندانه د چاپېريال ۲۵ مې مادې ته دې مراجعه وشي.)

د وزيرانو شورا د يوې کمېټې د وړانديزونو په بنسټ د ځمکې ارزښت ټاکي، دغه کمېټه جوړه شوې ده له:

د ځمکې خاوند، له ځمکې ګټه اخيستونکي او يا يې استازي، (۲) د هغې ارګان رسمي استازي چې غواړي ځمکه ترلاسه کړي، (۳) د

سيمه ييزې ښاروالي يو استازي، (۴) د ماليې وزارت يو استازي، (۵) او د عدليې وزارت يو استازي وي. ياده کمېټه به شخړو ته د رسېدو د استنافي څانګې په توګه، د ملکيت د ټاکنې په اړه خدمت کوي.

اسلامي قانون

کلاسيک اسلامي قانون د نورو د ملکيت هر ډول غير قراردادي نيونه منع کړې، که هغه نيونه د غلا د وسايلو، چل، غنيمت نيول، چور کول، غصب، په زور نيونه، تقلب کړل او همدارنګه د بېرته جوړولو او متقابلې تبادلې پرته د ناکارېدلو ځمکو نيول د اسلامي قانون له مخې په بشپړه توګه بې باوره او منعه دي.۲۲۶

اسلامي قانون هغه ملکيتونه چې په منعه شوو وسايلو او لارو ترلاسه شوې وي د اصلي مالک په نوم پېژني چې بايد اصلي وارث نارينه يا ښځې ته بېرته ورکړل شي. که چېرې مالک او يا وارث يې نه وي، په دې صورت کې ملکيت بايد د واقعي مالک له خوا خيريه اهدافو ته ورکړل شي.۲۲۷

نړيوال معيارونه

د ځمکې مالکانو ته د خسارې د ورکړې او د په زور نيولو، د افغانستان قوانين د ځمکې او اوسېدو د ځاي د اکتساب په اړه د نړيوالو معيارونو او سياستونو په څېر دويم ځلي غير رضاکارانه کار سم نه بولي، لکه د پراختيايي بانکونو څو اړخيزه ساتونکي سياستونه (په فرعي برخه کې «ساتونکې تګلاره» څلورمې څانګې ته دې مراجعه وشي څو پوه شي له دې قوانينو څه وخت کار اخيستل کېږي.).۲۲۸

ساتونکې تګلارې او تر ټولو ښې نړيوالې کړنې په لاندې منځپانګه کې شاملېږي:

دويم ځلي ځاي په ځاي کېدل چې په خپل زړه نه وي. يوازې د فزيکي بې ځايه کېدو په معني نه دي. بلکې د ځمکې، پناه ځاي او نورو ثابتو پانګو د له لاسه ورکول دي خو اقتصادي ځاي په ځاي کېدل، د پانګې له لاسه ورکول يا هم پانګې ته لاسرسي دي چې له امله يې په دايمي او يا لنډمهاله توګه د عايد د سرچينو او د ژوندانه د برابرولو وسايل له لاسه ورکوي. دا په دې معني ده چې نوې ځاي په ځاي کېدنه تر خلکو پورې شاملېږي چې له فزيکي پلوه د پروژې په واسطه نه وي بې ځايه شوي، خو د پروژې د اغېزو د رنځ له امله يې د ۲۲۹

هدف: د هر ډول امکاناتو په کارولو او د پروژې د په ځاي کولو له طرح کولو سره، بايد چې له نوي ځاي په ځاي کېدو لاس واخيستل شي او يا هم لږ تر لږه کم کړل شي. له اغېزمنو کسانو سره بايد لازمي مرستې وشي، څو چې اقتصادي او اجتماعي هوساينه او د ژوند معيارونه يې سم شي. دغه هدف بايد د ژوند سکتګي او د خلکو د ژوندانه بديل کم حالت ته راولي. دلته بايد د حقوقو له مخې ورته وکتل شي هغه داسې چې خلک دې ته وهڅول شي چې خپل حقوق وپېژني او همدارنګه دوي ته بايد له څو اهدافو د يوه د ټاکلو حق ورکړل شي. عرفي او نور کليوال حقوق بايد په رسميت وپېژني، د دولت، پراختيايي او نړيوالو ارګانونو د بشري حقوقو د وجايبو پېژندنه.۲۳۰

xxiv اغېزمن شوي خلک له يوه قانوني رسمي عنوان پرته (په ځانګړې توګه د کليوالو، قومي لږکيو، شپنو او ښځو ډلو تر منځ عام

xxivLack of land Tittle

xxv Land rights

په رسميت پېژندل شوې بايد ځمکه، زېربنا او د نورو تاوانونو خساره ورکړل شي. د ځمکې د قانوني عنوان نشتوالي نه بايد چې د ۲۳۱

د خسارې ورکول: د خسارې ورکول بايد له ځاي په ځاي کېدو مخکې ورکړل شي، بايد چې د پرمختيايي مرستو يوه لويه برخه ورته ځانګړې شي، اغېزمنو کسانو ته چې نوي ځاي پر ځاي کېږي، د پرمختيايي اړتياوو په بنسټ بايد د دوي له اړتياوو سره سم وي. اغېزمن کسان بايد د خپلو ټولو له لاسه ورکړو پانګو په وړاندې يا نقدي او يا يې هم په مقابل کې عوضي پانګه ورکړل شي. عوضي ځمکې بايد تر نورو ښې او يا هم بايد چې لږ تر لږه يې له خپلې اغېزمنې ځمکې سره مساوي وي. نوې ځاي په ځاي کېدنه بايد خلکو ته توانايي ورکړي چې يوه توليدي ژوند، په ځمکه پالنه او يا کار ګمارنه ولاړ وي. څو په دې وسيله وکولاي شي په دايمي توګه د خپل ژوند معيارونه ښه کړي او يا هم لږ تر لږه خپل لومړني حالت ته ورسېږي.۲۳۲

معني لرونکي مشارکت: بې ځايه شوو کسانو ته بايد د شته اهدافو او د دوي د اوسېدو د اړوندو حقوقو په اړه معلومات ورکړل شي. دوي ته بايد د اهدافو د ټاکنې له منځه د نوې ژوند د اقتصادي او تخنيکي هدفونو د ټاکنې موکه ورکړل شي. دا د فعاليتونو مهال وېش ته د جدي پاملرنې په معني دي. د ښې مشورې لپاره، د وړانديز شوو پروژو په اړه معلومات او د نوي ځاي په ځاي کېدو اړوند د سيمې خلک، د مدني ټولنې موسسې، په مناسب وخت کې او د سيمې د خلکو لپاره د پوهې وړ چلند د لاسرسي وړ وي. د اغېزمن او بشپړ مشارکت د برابرولو لپاره څنګ ته شړل شوې ډلې او مېرمنې ځانګړو اقداماتو ته اړتيا لري.۲۳۳

اوبه

قانوني چوکاټ

ملي قانون

د ۲۰۰۹ کال په اپرېل کې، د افغانستان د اوبو نوي قانون د پلي کېدو وړ وګرځېد. دغې قانون د سيند د رودخانې[xxvi] په تکيه يو هدف تصويب کړي دي. په دې معني چې د اوبو د حوزو سرحدونه (هدف اداري سرحدونه نه دي) د طبيعي سرچينو په ټولو پروګرامونو او د مديريت په ټولو اړخونو واکمني لري. د اوبو د کارونې په اړه د خصوصي ځمکې او خصوصي سېستم، د اوبو اړوندې شخړې او د اوبو د سرچينو د ساتنې په اړه عرفي قانون واکمني لري. په ټوليزه توګه، د عرفي قانون په بنسټ، د اوبو تخصيص د ټولنې او کاريز د سېستم په تکيه ترسره کېږي.۲۳۴

د اوبو قانون بيا هم ټينګار کوي چې اوبه عامه ملکيت دي او دولت د اوبو د سرچينو د مديريت صلاحيت نه لري. په افغانستان کې د ځمکې اشتراکي او فردي مالکيت د ځمکې د اوبو د سطحې تر قانون پورې اړه لري او په ځينو چارو کې د اوبو حقوق د يوه بېل سند لېږدول کېږي.۲۳۵

ښځې د اوبو لګولو په مديريت کې لږ ګډون لري. تر هغې چې ښځې د ځمکې حق لري دوي ډېري وخت تر فشار لاندې نيول کېږي چې اوبه يې هم په دې حق کې شامل نه کړي.۲۳۶

---

[xxvi] River basin

اسلامي قانون

قرآن کریم د اوبو په ارزښت ټینګار کړي دي، د ۲۱ سورست په ۳۰ آیت کې د اوبو بنستیز ارزښت ته داسې اشاره شوې ده. «موږ ټول ژوندي له اوبو پیداشوي یو.» اوبه د بندګانو د پاکوالي لپاره یو ضرورت دي. ارزښت یې د شریعت په ټولو مفاهیمو کې په بهترین ۲۳۷

په کلاسیکو اسلامي قوانینو کې او له عامه عقیدې سره سم، د انفرادي مالکیت حق پرې ممنوع دی ځکه چې هغوي اوبه د ټولنې د حق او د دیني او عبادي کړنو اصلي هسته او همدارنګه هغه د انسانانو د ژوند د پایښت عامل باله. یو کس کولای شي د اوبو له عامه ۲۳۹

له اسلامي مفاهیمو سره سم له اوبو څخه ګټه اخیستل، اسلامي قوانین په اوبو د ملکیت یو مناسب حق وضع کوي، په دې شرط چې د اوبو د ساتلو د ډول مالک، له اوبو څخه په ساتنه او توزیع کې له وخت سره سم ښه والي راولي.

اداره

د اوبو قانون، د اوبو او انرژي وزارت ته د ټولو پروګرامونو لپاره، د مدیریت او د اوبو د سرچینو د پراختیا دنده ورکړل شوې او ددې قانون له مخې یې د کرنې او مالداري وزارت د اوبو لګولو مسولیت لري. ۲۴۰

د اوبو قانون او د اوبو د سرچینو مدیریت، د رودخانه یي حوزو د نمایندګي له لارې او د اوبو د سیمه ییزو استفاده کوونکو ټولنو له لارې برابرېږي. دغه قانون اوسني د اجتماعي مدیریت سبستم په رسمیت پیژني، خپل عملیاتي کار د اوبو د کارپوهانو په مرسته ترسره هر کلي یو اصلي میرابxxviii لري چې د نورو فرعي میرابانو استازیتوب کوي.

د اوبو قانون همدارنګه د اوبو د فرعي حوزو کمېټې، د اوبو د سمندري حوزو کمېټې او د اوبو او انرژي وزارت یې د د اوبو د ګټه ۲۴۳

دا د یوې پوښتنې په ډول پاتې کېده چې مرکزي دولت په میرابانو څومره واک لري. د بېلګې په توګه، په سمنګان او بلخ ولایتونو کې دولتي چارواکي په څرګنده توګه مني چې دوي په دې اړه په کوم مشخص څه نه پوهېږي، تر دې دا خو لرې ده چې په خپل ولایت کې په میرابانو منظمه څارنه ولري.۲۴۴

د سیمه ییزو هوکړو او دودونو له مخې اوبه د بزګرانو، میرابانو او سیمه ییز دولت تر منځ وېشل کېږي. د کلي مشران د عرفي قوانینو له مخې د اوبو شخړې اواروي، د سیمې اوسېدونکي د سرچینو د کنټرول د له لاسه ورکولو له وېرې نه غواړي چې سیمه ییز چارواکي په موضوع کې شامل کړي. په ځینو سیمو کې سیمه ییز قوماندانان د اوبو په سرچینو کنټرول لري، چې کولای شي د اوبو په سرچینو د سیمې سنتي واک تر خپل اغېز لاندې راولي او د اوبو له کاروونکو سره د شخړې د رامنځ ته کولو چې په منفي توګه له نظامي تصمیمونو څخه اغېزمن دي لامل شي

د اوبو د کارونې لومړیتوبونه

ملي قانون

د ۲۰۰۹ کال د اوبو قانون د ښبلو او ژوند کولو ته لومړیتوب ورکړي.

---

a path to water “

xxviiimirabs

د بشري حقونو قانون او بهترينې نړيوالې لارېxxix

د ملګرو ملتونو د اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي حقوقو کمېټه، تاييدوي چې اوبه د کورني او شخصي استفادې او يا هم له قحطي او ناروغي څخه د مخنيوي لپاره بايد لومړيتوب ورکړل شي. اوبه بايد د نړيوال ميثاق له اصلي اصولو سره سم د اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي حقوقو له مخې لومړيتوب ورکړل شي، دغه ميثاق د افغانستان له خوا په ۱۹۸۳ کال کې تاييد شوي دي. له دې قانون څخه د سرغړونې بېلګه د سيند د اوبو بندول، تر ځمکې لاندې اوبو ککړول او همداراز خلکو ته د اوبو د سرچينو کمول دي.۲۴۵

د کانونو راويستل نه بايد په داسې سيمو کې وشي چې اوبه او ځمکه لږ وي او سرچينې ورسره کمې کړي، ځکه چې د اوبو د سرچينو ، د اوبو د کارولو د لومړيتوب په تنظيم کې، کورني استفاده لومړيتوب لري او د کانونو راويستل وروسته ځاي لري.۲۴۷

د ژوندانه چاپېريال

د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون ۱۵ ماده، GoIRA مسول بولي چې «د ځنګلونو د ساتنې او ښه والي او همدارنګه د ژوندانه د چاپېريال لپاره ضروري اقدامات برابر کړي.» په ۲۰۰۷ کال کې، دولت د ژوندانه د چاپېريال د قانون په وضع کولو سره دغه وجايب عملي کړل.۲۴۸

د ژوندانه د چاپېريال په موضوعاتو کې، د ژوندانه د چاپېريال قانون د اساسي قانون په استثنا سره پر ټولو نورو قوانينو نافذ دي.۲۴۹ دا په دې معني ده چې د ژوندانه د چاپېريال او کانونو د قانون تر منځ په توپير سره د ژوندانه د چاپېريال قانون واکمن دي.

دغه قانون د «ژوندانه د چاپېريال بيا جوړونه، له طبيعي سرچينو تلپاتې استفاده او ساتنه، ژوندي او مړه ارګانيزمونه او نورو پورې اړونده موضوعاتو د مديريت او کاري لارې لپاره وړاندوېينه کوي. ۲۵۰ لاندې بنسټيز اصول د ژوندانه چاپېريال په قانون کې تنظيم شوي دي:

هغه اشخاص چې د منفي اغېزو په ځانګړې توګه د هوا د ککړتيا لامل کېږي، اقتصادي او اجتماعي لګښت، مخنيوي، کمښت، او يا

د ژوندانه د چاپېريال قانون د هغو فعاليتونو لپاره چې چاپېريال اغېزمن کوي احکام وضع کړي دي. د ژوند د چاپېريال د ارزونې په ګډون (EIA) ۲۵۱ او د مضرو اغېزو د کمښت د پروګرام ناتصديق شوې کړنلاره له يوه بورډ متخصصينو سره (EIA) او د عامه ګډون د اثبات لپاره لازم شرطونه..

د ژوندانه د چاپېريال قانون له کانونو د ګټه اخيستنې او راويستنې په اړه داسې بيانوي" جواز لرونکي او نور قانوني صلاحيت لرونکي او هغه اسناد چې له کانونو د ګټې اخيستنې او راويستنې اجازه ورکوي او په پايله کې هغه چاپېريال اغېزمن کوي، نه بايد چې د ژوندانه له چاپېريال څخه د ساتنې ملي ادارې له ليکل شوي جواز پرته خپل فعاليتونه ترسره کړي.".۲۵۲ دا هم د خطرناکو خځلو د مديريت او ککړتيا د کنټرول همدارنګه د ژوند ډولونه او د اوبو د سرچينو د ساتنې مديريت په چارو کې شاملېږي.

اداره

د ژوندانه د چاپېريال قانون د ژوندانه چاپېريال (NEPA ) د ملي ادارې پلي کوونکي ارګان ته اجازه ورکوي چې سيمه ييز مقررات او لازمې کړنلارې رامنځ ته کړي، څارونکي وټاکي، له قانون او مقرراتو څخه د دوي له ورته والي ځان ډاډه کړي او له امرونو څخه پيروي کمه کړي.۲۵۳

د ژوندانه د چاپېريال قانون همدا راز " د هر شخص لپاره چې د ژوندانه د چاپېريال له ويجاړېدو څخه اغېزمن شوي وي او يا هم طبيعي سرچينې او د ژوندانه چاپېريال د يوه جدي ضرر له واسطه ګوابنل کېږي" اجازه ورکوي چې يوه قانوني لاره ورته وپلټي.۲۵۴ که دغه اعمال د يوه شرکت په ځېر ترسره شوي وي، نومونړي شرکت، رييس او بل هر مسول به يې ځواب ويونکي وي.۲۵۵

د اوسېدو د سيمې د اغېزو مديريت او ارزونه

xxixInternational best practice& human rights law

xxxFood production trump questionable mining

د ژوندانه د چاپیریال د قانون په بنسټ NEPA مخکې تر دې چې وزارت او یا بله ملي صلاحیت لرونکې مرجع یوه شخص یا یوه شرکت ته اجازه ورکړي چې " یو فعالیت، پروژه او یا هم د پلي کېدو وړ تګلاره رامنځ ته کړي چې د ژوندانه په چاپیریال ناوړه اغېزې خلک او شرکتونه له دې ډول فعالیتونو څخه تر هغې چې د NEPA تصدیق پیدانکړي منع شوي دي.۲۵۷
د ژوندانه د چاپیریال د قانون له مخې په اوس او راتلونکي وخت کې چې د اوسېدو په سیمه هره واقعي او بالقوه اغېزه چې د ژوندانه چاپیریال، بشري روغتیا، خوندیتوب، فرهنګي او اقتصادي ضرر ورسوي او یا هم د ټولنې او خلکو د توانايي خنډ شي د مضروxxxi اغېزو تعریف ورکول کېږي.۲۵۸
کومې پروژې د NEPA لازموونکې دي ترڅو چې د اوسېدو د سیمې د اغېزو ارزونه تصویب کړي؟
ډېر شمېر فعالیتونه د خلکو او یا شرکت له خوا ترسره شوي دي چې د ژوندانه په چاپیریال یې ضرر لرونکې اغېزې لرلې دي، نو په دې دلیل سره د NEPA تایید یوه اړتیا ده.

۳۰. د لومړي کټګوري فعالیتونه، په هغو فعالیتونو کې شامل دي چې په عمده او بې سابقه توګه مضرې اغېزې لري، لکه د کانونو ل، د اوسپنې پروسس، سکاره، طلا، سلفر، قېمتي ډبرې، د ذوب د فابریکو جوړول، د لویو بندونو جوړولو او د ډېرو خطرناکو زهري ۲۵۹

۳۱. د دویمې کټګوري فعالیتونه، په هغو فعالیتونو کې شاملېږي چېد ژوندانه په چاپیریال یې ضرر لرونکې اغېزې لرې دي، لکه په کوچني کچه د برېښنا تولید، د ریک راویستل، ماسه، آهک ډبرې، سفال ګري، سلفر او نور له ۱.۵ میلیونه په لړ لګښت سره منرالونه، وړوکي بندونه، کورني ډېرانونه او لږ شمېر صنعتي ډیرانونه.۲۶۰

۳۲. د ژوندانه د چاپیریال په حساسو ځایونو فعالیتونه.۲۶۱

۳۳. د NEPA له خوا ټاکل شوي فعالیتونه، په هغو فعالیتونو کې شاملېږي چې د ژوند په چاپیریال سختې اغېزې لري.۲۶۲

د کانونو د راویستلو د تګلارې په ۱-۲-۳ برخو کې، "په افغانستان کې د کانونو د راویستلو ټول فعالیتونه د تلپاتې پرمختیا له اصولو سره سم ترسره کېږي. هېڅ یو پروګرام د اجتماعي او سیمه ییز ژوندانه د چاپیریال (EISA) د اغېزو او یا هم د ژوندانه د چاپیریال د مدیریت یو پروګرام چې مفصل او په وخت وېشل شوي وي، چې د NEPA او MOM له خوا په ترتیب سره تصویب شوي وي، تصویب کېدای شي. لږ تر لږه EMP باید مایع او جامدې زبالې، د اوبو او خاورې د ککړوالي کموالي او مخنیوي، د درنو بارونو د لېږد اغېزې او د ونو پرې کول مدیریت کوي او پاملرنه ورته وکړي.»
د عینک په مسو کې، په ۲۰۰۹ کال کې د ژوندانه د چاپیریال یوه ارزونه وشه، خو د ځینو ستونزو له امله په لږو اقداماتو او د NEPA له خوا د ژوندانه د چاپیریال د مدیریت پروګرام تایید نه شو.۲۶۳ د عینک د سیمه ییزې ټولنې غړي نړیوال بانګ ته خپله د یوې عریضې له لارې د MCC شرکت د ناکامي، د ژوندانه د چاپیریال د ارزونې د برابرولو له امله څرګنده او وړاندې کړه.۲۶۴
د ټولنیزو اغېزو او د اوسېدو د سیمې یوه ارزونه څه ده؟
د د ژوندانه د چاپیریال(ESIA) او اجتماعي اغېزو ارزونه عبارت ده د کانونو د راویستلو د پروژو د ټولو مثبتو او منفي کړنو یو مفصل راپور دي، همدارنګه څرګندوي چې د منفي اغېزو د کمولو لپاره څه ډول پروګرام تر لاس لاندې دي او د ځای په ځای کولو څه ډول پرګرامونه تر کار لاندې دي.۲۶۵
د ESIA د شاملولو لپاره د EIA مقررات د لاندې شرایطو لرونکي دي.۲۶۶

۳۴. کوم فعالیت؟ له یوه فعالیت څخه یوه بشپړه تشریح، ضررونه اومطلوبیت یې.

---

xxxiAdverse effect

۳۵. په کوم ملکیت کې؟ د ژوندانه د چاپېریال، ملکیت او د ګاونډي د ملکیت یوه بشپړه تشریح چې هلته به فعالیتونه ترسره شي، د جغرافیایي، فزیکي، اجتماعي او فرهنګي په څېر دي.

۳۶. حل لارې، ځاي په ځاي شوي او اغېزې یې څه دي؟

۳۷. یوه پېژندنه او د ټولو اثرونو تشریح او ارزونه (په خاور، اوبو، ځنګلونو، اقلیم، د بشر روغتیا، حیوانات او نباتات، طبیعي منظرې، پخواني ملکیتونه، فرهنګي میراثونه، فرهنګي ارزښتونه، د ژوندانه، اجتماعي او اقتصادي ژوند رفاه، د بشري سکونت سیمه او تعاملات یې، الترناتیيف یا د فعالیتونو ځاي په ځاي کول د فعالیت د ترسره کولو په معنې، د مخنیوي لپاره اقدامات، د مضرو اغېزو د کمولو لپاره او اقدامات یوازې د څارنې لپاره دي.




Monitoring and risk assessment provide the information necessary to prioritize and implement risk management and remediation measures.

۳۸. عامه ګډون؟ د عامه ګډون د پروسې د شرح کولو او شته اندېښنې.

پاملرنه! پوره پاملرنه ولرئ چې د اجتماعي اغېزو او ژوندانه ( ESIA ) د چاپېریال یوه ارزونه له ستراتیژیکي، اجتماعي او سیمه ییز ژوند د ارزونې او د کانونو د وزارت د راویستنې په صنایعو (SESA-EI) تېر نه وزئ.

ESIA د پروژې پورې اړوند یو ځانګړي قانوني راپور دي چې د هغې په بنسټ شرکت د کانونو د راویستنې فعالیتونه ترسره کوي.

SESA-EI د دولت د تګلارې یو سند دي چې د کانونو د وزارت له خوا او لپاره، د راویستنې د صنایعو او وړاندیز شوې تګلارې د متراکمو اغېزو د پېژندنې د پلې کېدو لپاره دي.

د ټولنیزو اغېزو ارزونه او د ژوندانه چاپېریال څوک ترسره کوي؟

شرکتونه معمولاً د ESIA د لیکلو او ترسره کولو لپاره یو سلاکار په کار ګماري. سلاکار باید په لومړي پړاو کې "منځپانګه جوړونهxxxii" د ټولنې له غړو سره د لیدنې او بیا لیدنې له لارې ترسره کړي، له هغوی سره د کانونو د راویستنې عملیات تر بحث لاندې ونیسي او د ټولنې د غړو نظریات ثبت کړي. وروسته یې له نورو څېړنو سره ترکیب کړي چې بیا سلاکار د ESIA راپور راویستونکي شرکت ته وړاندې کوي (د پروژې عناصر). راویستونکي شرکت له هغې وروسته د ESIA راپور هغې نمایندګیو ته چې په قانون کې یې وړاندوېینه شوې (NEPA and MoM) سپاري.

عامه ګډون او معلومات

ملي قانون

د ژوندانه د چاپېریال قانون بیانوي چې: " سیمه ییزه ټولنه باید د طبیعي سرچینو د تلپاتې مدیریت په اړه د تصمیم نیونې په بهیر کې شریکه وي".۲۶۷ نوموړي قانون همدا ډول بیانوي چې دولت "دنده لري د بشري روغتیا، د ژوندانه چاپېریال او طبیعي سرچینو په اړه د تصمیم نیونې په بهیر کې خلکو ته معلومات او فرصتونه ورکړي"۲۶۸ او ټینګار کوي چې د ESIA په بهیر کې د ګډون او دې ډول معلوماتو ته هر کس د لاسرسي حق لري.۲۶۹ (په یاد ولرئ چې د ژوندانه د چاپېریال په موضوعاتو کې، د ژوندانه د چاپېریال قانون د اساسي قانون په استثنا نظر ټولو نورو قوانینو ته، که چېرې له قوانینو سره په ټکر کې راشي د پلي کېدو وړ دي.۲۷۰) د منرالونو MoMP د قانون مخکني لیکنه لازموي چې د جوازونو د ثبتولو، غوښتنو او نامحرم راپورونو، (د کلني راپور، د اجتماعي اغېزو ارزونه او ژوندانه د چاپېریال په ګډون) لپاره عام خلک لاسرسي ولري آسانتیا ورکړي.۲۷۱

---

xxxiiScoping

د ژوندانه د چاپيريال ۷ مه ماده " د قانوني کارونې لپاره له عرفي او سنتي لارو سره سم له طبيعي سرچينو استفاده، " د ټولنو حق په رسميت پېژني. معلوماتو ته د لاسرسي، په غونډو کې برخه اخيستل، لاريون او له طبيعي سرچينو څخه د تلپاتې ګټې اخيستنې په ګډون له ټولو پوښتنه کول. ۲۷۲.

د GoIRA ۳۸ مه ماده لازموي چې د ملي ټولو ساتل شوو سيمو پورې اړوندو فعاليتونو کې سيمه ييزې ټولنې ته برخه ورکړي.

د ژوندانه د چاپيريال د قانون ۱۹ ماده، اغېزمنو کسانو ته ورکوي ته دغه حق چې د وړانديز شوو ESIA ESMP پروژو په اړه يې خپل نظر بيان کړي. دا ځل د پروژې پر مسول تېل کېږي چې د يوې عمومي محکمې په موجوديت کې د NEPA رضايت څرګند کړي.۲۷۳ د ژوندانه د چاپيريال قانون همداراز "هر چاته" اجازه ورکوي چې د NEPA عمومي مدير ته د غوښتنليک د ورکړې او لغوې په اړه بيا نظر ورکړي.۲۷۴

د سيمه ييزو ټولنو لپاره د ESIA په پروسه کې ګډون يوه موکه ده چې په ESIA کې خپلې اندېښنې په رسمي توګه ثبت کړي او هغه به د مضرو اغېزو د کمښت په پروګرام کې ترسره کړل شي، خامخا به ستاسې د اندېښنو حل ته د دولت او يا شرکت له خوا پاملرنه کېږي.

د ESIA په عمومي ګډون سره اصول او بهترينې کړنې

عامه اغېزمن ګډون په دې معني دي چې د ESIA بهير او راپورونه بايد په ښکاره ډول وي: نه بايد چې د ټولنيزې ارزونې او ژوندانه د چاپيريال هېڅ راپور چې له لاس لرونکو اړخونو څخه په بالقوه توګه اغېزمن شوي دي پټ وساتل شي.۲۷۵

په ډېريو وختونو کې، چې يو سلاکار او يا يو دولت له سيمه ييزو ټولنو سره مشوره کوي، د سيمه ييزې ټولنې د تعريف او برداشت له مخې له سلا او مشورې سره جوړجاړي نه لري. دا د سيمه ييزو ټولنو لپاره ډېره مهمه ده چې پوه شي، له دوي سره په کومه لاره او ميتود سلا کېږي او څنګه کولاي شي هغه د ټولنې له يوه پروتوکول او يا سلا سره ثبت کړي.

خلک چې په بالقوه توګه اغېزمن شوي دي، بايد د دوو کلونو په بهير کې چې يو ESIA په کې ترسره کېږي، بشپړ او خپلواک ګډون ولري. دا څه معني ورکوي؟ اغېزمن شوي خلک بايد د راټولولو او وروسته د معلوماتو د تفسير په برخه کې وا قعي ګډون ولري. د عامه ګډون په بنسټ يوازې خبرې اترې او ليدنه، بې ارزښته ده. ۲۷۶

د راټولو شوو معلوماتو تفسيرول چې په يوه ESIA کې د سيمه ييزو ټولنو او پلويانو لپاره يې ډېر تخنيکي او ستونزې زېږوونکي وي. دولت او شرکت د معني لرونکي مشارکت لپاره، کيداي شي لګښت وکړي.۲۷۷ د بېلګې په توګه د کاناډا هېواد د اغېزمنو کسانو لپاره

د لاسرسي وړ کړې دي، څو هغوي وکولاي شي، د معلوماتو په ټولولو، په سيمه ييزو ژبو د اسنادو د ژباړې، د تخنيکي اصطلاحاتو توضيحات، له ESIA څخه د يوې لنډې بيا کتنې لپاره د EIA د يوه تخنيکي سلاکار په کار ګمارنه او يا سيمه ييزو ټولنو ته د ESIA د پوهې وړ کولو او ګډون سره تخنيکي مرستې ترلاسه کړي.

د ژوندانه چاپيريال د قانون نړيوال ټرونxxxiii د ژوندانه په چاپيريال د کانونو د راويستنې د اغېزو په اړه يو لارښود کتاب خپور کړي دي. دغه کتاب کولاي شي ټولنو او ملاتړو سره يې مرسته وکړي چې د کانونو د راويستنې د اغېزو په ارزونو پوه شي، د کانونو د راويستنې په پروژو کې تېروتنې تشخيص کړي، تصميم نيوونکو ته قناعت ورکړي، د کانونو د راويستنې د پروژو په اړه چې کوم منفي د اي – تک انټرنېشنل، د عامو د ګډون لپاره د علومو مرکز، د ژوندانه د چاپيريال د قانون نړيوال ټرون او نورې بېلابېلې موسسې د ټولنو او نادولتي موسسو لپاره د EIA تخنيکي مرستې برابروي.

د ESIA پروسه يوازې هغه وخت ګټوره ده چې پايلې يې په څارنه ولاړې وي. د شاملو کسانو له پېژندن وروسته ژر، د ESIA په

---

xxxiiiEnvironmental Law Alliance Woldwide

پروسه کې د يوې ډېرې ښې لارې په توګه، ټول کانونه بايد روا، خپلواکې چې د غړو استازي به هم پکې شامل وي، سلاکارې شوراوې جوړې کړي. ۲۷۹

**د نفتو او کانونو راويستنه**

**قانوني چوکاټ**

کانونه او تر ځمکه لاندې نورې سرچينې او همدارنګه پخواني آثار به د دولت ملکيت وي. له عامه ملکيتونو څخه ساتنه، سمه استفاده په ۲۰۱۰ کال کې، دولت د منرالونو قانون چې دغه حکم نافذوي وضع کړ.

نن ورځ، د منرالونو د قانون نوې مخکې ليکنه تياره شوې ده چې پارلمان ته د تصويب لپاره انتظار باسي. دغه برخه د منرالونو د قانون په بنسټ د زده کړې له لارښود څخه چې په ۲۰۱۰ م کال پورې اړه لري او همدارنګه د (۲۰۱۲) (۱۳۹۱) کال اړوند د منرالونو د قانون د انګليسي ژباړې د يوې غير رسمي مخکې ليکنې په بنسټ چې پارلمان ته ورکړل شوې ده ليکل شوې ده. ۲۸۰ (هر ځاي چې د منرالونو د قانون احکام تر ۲۰۱۰ م کال پورې اړه لري او د منرالونو د قانون مخکې ليکنه تر ۲۰۱۲ م کال پورې اړه ورته وايو، مهرباني وکړئ د کانونو د تر ټولو تازه او نوي قانون به بنسټ مشوره ورکړئ.

د کانونو قانون د پېژندنې، کشفونې، پراختيا، ګټه اخيسته او د سرچينو مرستندويه فعاليتونه، د اوبو او نفتو په ګډون پراوونو کې دي. ۲۸۲. د ځمکې د سطحې ګټه د منرالونو حق نه کېږي. د کانونو وزارت صلاحيت لري چې له منرالونو څخه د ګټه اخيستنې حق د قانون د احکامو په بنسټ ورکړي. ۲۸۳

د ۲۰۰۹ م کال د هايدرو کاربنونو قانون، د ۹۷۲ شمېرې فوق العاده صادر چې د ۲۰۰۹ کال د فبرورې په مياشت کې و ضع شو. ۲۸۴ دغه قانون له نفتي او ګازي سيمو څخه ګټه اخيستنه تنظيموي او د ساتنې، ګټه اخيستنې، پراختيا او د ګازو او همدارنګه د نفتو توليد ته قانوني چوکاټ رامنځ ته کوي. ۲۸۵

د کانونو د راويستنې قانون او هم د هايدرو کاربونونو لپاره د پراختيا مقررات ورکړل شوي دي. همدارنګه د سرچينو د راويستنې په اړه د تګلارې يو شمېر وسايل، د کانونو د راويستنې ملي تګلاره۲۸۶، له نورو تګلارو سره چې په هره يوه کې فرعي موضوعات شامل دي لکه، صنعتي منرالونه، د ځمکې د قليلې عناصر، د کانونو د راويستنې لومړني لارې او همدارنګه د ژوندانه د چاپېريال ستراتيژيکي او د راويستنې د صنايعو سکتور (SESA-EI) ارزونه کېږي هم پراختيا ورکول کېږي. ۲۸۷

د قوانينو سلسله مراتب. د منرالونو قانون د نورو بېلابېلو قوانينو په سيمو کې، په ځانګړې توګه د ځمکو قانون، اوبه او د ژوندانه په چاپېريال نںوتي دي. له داسې چارو سره د مخ کېدو په صورت کې، هر وخت په لومړي درجه کې د موضوع اړوند قانون ته پام وکړئ، لکه د ژوندانه د چاپېريال قانون، د اوبو قانون، د ځمکې بېلابېل قوانين او همدارنګه اساسي قانون. که د موضوع په اړه د منرالونو قانون چوپ وي او يا هم او يا هم د موضوع له مشخص قانون سره په ټکر کې وي، په دې صورت کې د موضوع اړوند قانون د کار وړ او نافذ دي. ۲۸۸

**د منرالونو حقوق**

د منرالونو تر قانون لاندې، د کانونو وزارت کولاي شي، له منرالونو څخه د استفادې حق، کسانو او ارګانونو ته چې د افغانستان تابعيت ولري، يا هم بهرنيو اتباعو ته چې قانوني اجازه ولري، يا هم په افغانستان کې کسب او کار ولري ورکړي. همدارنګه لوړو دولتي چارواکو، د امنيتي حوزې د څانګې رييس، حقوقي وکيل، د وسله والو ځواکونو غړي، پوليسو او نورو دولتي کارکوونکي له منرالونو څخه د ګټې اخيستنې حق نه لري. ۲۸۹

د ۲۰۰۹ کال د هايدروکاربونونو د قانون په بنسټ، ټول هايدروکاربونونه د دولت اختصاصي ملکيت دي. د کانونو وزارت يوازې د مسول مقام په توګه کولاي شي قراردادونه د توليد او ګټه اخيستنې، د توليد او خدمتونو چې د کار د تړون له مخې د يوې برخې امتياز د راويستل شوو هايدروکاربونونو څخه ورکوي ورکړي. دولت يې خپل حق د هايدروکاربونونو پاتې برخې پورې ساتي. د قرارداد د شرايطو په بنسټ، تړون کوونکي کېداي شي د توليد شوو هايدروکاربونونو برخه يې واخلي، وېې پلورې او يا صادره کړي. ۲۹۰

اداره

د کانونو وزارت د کشفونې، جواز ورکولو، پراختیا، د کانونو راویستل او هایدرو کاربونونو په وړاندې د دندو د ترسره کولو مسولیت لري. د کانونو وزارت ته لازمه ده چې د منرالونو او نفتي موادو فعالیتونه د منرالونو او هایدرو کاربونونو له قانون سره تنظیم کړي. د کانونو د وزارت دندې د تګلارو تشکیل او پلي کول (د خصوصي سکتور د پرمختګ په ګډون)؛ د وزیرانو شورا ته د وړاندیزونو ترتیبول، د طبقه بندي اړوند، د طبقه بندي له منځه وړل یا هم په هغې ځایونو کې چې منرالي فعالیتونه په کې منعه دي دویم ځلي طبقه بندي ، ورکړه، لېږد، له منرالونو څخه د استفادې د حقوقو لغوه کول؛ د دولتي ارګانونو د منرالي فعالیتونو څارنه او د امتیازونو د ټول ۲۹۱
د مزایدې د پروسې، د کانونو د راویستنې د قراردادونه، د ځمکې له سطحې څخه د د معافیتونو ورکړه او د بین وزارتي یوه کمیسیون په وړاندې د حق الامتیاز د بیې د تایید لپاره د منرالونو قانون جوړ شو. د بین وزارتي کمیسیون غړي د کانونو، مالیې، اقتصاد، سوداګرې، بهرنیو چارو وزارتونو، د ملي امنیت د سلاکار او د ژوندانه د چاپېریال ملي اداره دي.۲۹۲
.۲۹۳

د جواز ورکولو پروسه

د جوازونو ډولونه

د ۲۰۱۲ م کال اړوند د منرالونو د قانون مخکې لیکنه، د کانونو د راویستنې بېلابېلو ډولونو او مصوبو ته اجازه ورکوي، د پېژندنې د جواز او مقدماتي مطالعې په ګډون، د اکتشاف جواز، د ګټه اخیستنې جواز، په واړه مقیاس کې د کانونو د راویستنې جواز او همدارنګه د لومړنیو لارو په کارولو سره د کانونو راویستنه.۲۹۴ د هایدروکابونونو قانون د ګاز او نفتو په برخه کې بېلابېلو جوازونو ته د کشفونې او تولید د جوازونو په ګډون اجازه ورکوي.

د کانونو د کشفولو جواز

د منرالونو تر قانون لاندې، خصوصي ارګانونه کولای شي د کشفونې د درې کلن جواز د ترلاسه کولو لپاره غوښتنلیک ورکړي چې کولای شي دویم ځلي نوي شي.۲۹۵، د ۲۰۱۰ م کال د منرالونو د قانون تر چوکاټ لاندې، د کشفونې د جواز لرونکي اړ دي چې د ترسره کولو وړ له ټولو قوانینو او مقرراتو سره چې د روغتیا، د کارکوونکي خوندیتوب، بشري حقوق، د اوبو کارول، د ژوندانه د چاپېریال ساتنه او د اغېزمنو ټولنو د ساتنې په اړه دي، عمل وکړي.

له کانونو د ګټې اخیستنې جواز

د منرالونو د قانون په چوکاټ کې د ګټې اخیستنې لپاره جواز د ۳۰ کلونو لپاره ورکول کېږي او په پرلپسې توګه په هرو پنځو ۱۵کلونو کې نوي کېږي، تر هغې چې کاني زېرمې خلاصې شي.۲۹٦
د ګټې اخیستنې د جواز د ورکړې لپاره، باید د پروژې ملاتړې د مالي کافي ظرفیت په لرلو سربېره لاندې پروګرامونه او مطالعې د کانونو وزارت ته ورکړي او د کانونو وزارت یې باید تایید کړي. دغه پروګرام او مطالعې عبارت دي له: (۱) یوه مقدماتي مطالعه، (۲) د اجتماعي اغېزو او ژوندانه د چاپېریال یوه ارزونه، (۳) د ټولنې پرمختیایي هوکړه لیک، د اړتیا په وخت کې د خسارې د ورکړې او نوي ځای په ځای کېدو هوکړه لیک، د جواز لرونکو ته لازمه ده چې له ذخیرو څخه له دې مطالعاتو او پروګرامونو سره سمه ګټه د ۲۰۱۰ م کال د کانونو د قانون په بنسټ، د ګټه اخیستنې د جواز لرونکي باید د ټولو «د ترسره کولو وړ قوانینو او د روغتیا په اړه مقررات، کاري خوندیتوب، بشري حقوق، له اوبو ګټه اخیستل، د ژوندانه د چاپېریال ساتنه او له اغېزمنو ټولنو څخه ساتنه وکړي.۲۹۸

موږ به يې وروسته تشريح کړو چې مقدماتي مطالعه او د ټولنې پرمختيايي هوکړه ليک څه دي. (موږ د ټولنيزو اغېزو ارزونه او د ژوندانه چاپېريال او همدارنګه د اغېزو د کمولو پروګرام چې په مخکني څانګه کې «د ژوندانه د چاپېريال ساتنه» راغلي دي توضيح کوو.)

د کار د ترسره کولو د وړتيا مطالعه

يو د ترسره کولو وړ مطالعه، د کان مالي او تخنيکي وړتياوې راښيي او همدارنګه ښيي چې د کومو شرايطو له مخې او د کان د کومې طرحې په کارولو سره په کافي اندازه د پانګه والو لپاره ګټوره ده چې به هغې کې پانګونه وکړي او همدارنګه دولت ته به څومره عايد ورکړي. د ترسره کولو وړ مطالعه په لاندې توکو کې شامله ده:

اعداد، د ترسره کولو وړ مطالعه يوه اندازه لګښت ته اړتيا لري لکه: د کان جوړول تر هغې وخته چې توليد ته تيارېږي (د پانګه والو لګښتونو په نوم سره هم يادېږي.) او د کان عملياتي لګښتونه د توليد له لومړي ورځې بيا تر پايه پورې (د عملياتي لګښتونو په نوم هم يادېږي.) او د کان له خوا د متوقعه بياورکول.

د ترسره کولو د وخت مطالعه د جوړولو، عملياتو او د کان د تړلو د وخت په مهال وېش پورې اړه لري.

د نقشو په ګډون د ترسره کولو د وړتيا مطالعه چې د کان د بېلابېلو برخو موقعيت د ځمکې په مخ په دقيق ډول راښيي، لکه (باطلې حوضې، کميونونه، پمپونه او نور) دا د کان لپاره يو واقعي بازار دي، ځکه چې دغه مطالعه د ځمکې د دقيق ارزښت د ټاکلو لپاره يوه قاعده ده چې د سيمه ييزې ټولنې تر غړو پورې اړه لري چې د دولت يا شرکت له خوا د کان د اقتصادي عمر په اوږدوالي کې ګټه ترې اخيستل کېږي.

د ترسره کولو د وړتيا مطالعه همدارنګه د د ژوندانه د چاپېريال په اړه د اندېښنو د مديريت، د کار په سيمه کې د خونديتوب د ساتلو څرنګوالي او د راتلونکي په کار ګمارنې په اړه معلومات لرل (لکه تکړه کارکوونکو ته لاسرسي او د يوه سازمان راڅرګندول) او د ټولنې پرمختيايي پروګرام کېږي. ۲۹۹

**د ټولنې پرمختيايي هوکړه ليک**




Polluting industries often have no plans or funds for ongoing or future clean-up. As a result, when a company stops production or when its profile or owner changes, all pollution is a legacy "gift" to the local authorities and populations, who have limited resources and capacities to respond to the task.

د ټولنې يو پرمختيايي هوکړه ليک (CDA) هم ځينې وخت د سودIBA) xxxiv) د اغېزې د هوکړه ليک په نوم سره يادېږي چې د شرکت په عملياتي سيمه کې د (خصوصي يا دولتي) شرکت او سيمه ييزې ټولنې د استازو تر منځ له يوه هوکړه ليک څخه عبارت دي. د دې هوکړه ليک په بنسټ هغه کېږي د پروژې منفي اغېزې تشخيص شي، سيمه ييزه ټولنه د منفي اغېزو له امله د خسارې جبران وغواړي او د سيمه ييزې ټولنې برخه د پروژې په ګټه ترسره کړي. (موږ د CDAS جزيات په پنځمه فرعي څانګه کې مو "د ټولنې د پرمختيايي هوکړې په اړه مشورې" توضيح کړي دي. د ۲۰۱۲ م کال اړوند د منرالونو د قانون مخکې ليکنه CDA د خبرو اترو وړ يوه هوکړه ليک په ډول نه تعريف کېږي، بلکې هغه د يوه تيار شوي هوکړه ليک په توګه د جواز لرونکو په واسطه (په مشوره له) د امعه له غړو څخه اغېزمن کېداي شي. ۳۰۰

**د کانونو د راويستنې لپاره د جواز ثبتول**

د کانونو د دې قانون په بنسټ، د کانونوxxxv د ثبت يوه برخه، د کانونو د وزارت په چوکاټ کې رامنځ ته کېږي. د کانونو د ثبتولو برخه مسوليت لري چې د کانونو د راويستلو د حق د ترلاسه کولو د غوښتنليک د پروسس کولو لپاره د حق الزحمې بيه معلومه کړي، د ورکولو لپاره يې غوښتنليکونه پروسس کړي، تخنيکي ارزونې او د ژوندانه چاپېريال غوښتنليکونه ترسره کړي، ثبتول، ورکول او يا د منرالونو د راويستنې د حقوق، د تمديد ثبتول، د حقوقو لغوه کول او لېږدول، د امنيتي ګټو ثبتول او د ملکيتونو د ثبت سروې د نقشو د انکشاف لپاره د غوښتنليکونو ردول. ۳۰۱

**د جواز فسخ کول**

د ۲۰۱۰ م کال د منرالونو د قانون په بنسټ، د منرالونو د راويستنې حقوق کولاي شي په ډېرو دلايلو سره له منځ لاړ شي، د ګټه اخيستنې ځنډول او کشفونې، د ټاکل شوي حق الزحمې نه ورکول، ماتوالي، د سيمه ييزو ټولنو د بشري حقونو نقض کول او د دولت دستورونه.۳۰۲

**د کان تړل**

د ۲۰۱۲ م کال اړوند د منرالونو قانون جواز لرونکي د مالي امنيت په برابرولو اړ باسي چې د ژوندانه د چاپېريال دندې او خپل اجتماعي محافظت ترسره کړاي شي، د سيمې د بيارغونې په ګډون، نوې ځاي په ځاي کېدنه، د کان تړل کېدل او د ټولنو د اغېزمنو کورنيو خساره ورکول. ۳۰۳

---

xxxivImpact-benefit agreement

xxxvMining Cadastre




د كانونو له راويستنې ترلاسه شوي عايد

د راويستنې د صنايعو د روڼوالي ابتكار (EITI) له مدني ټولنو او دولتونو څخه جوړ شوي يو نړيوال ايتلاف دي چې د طبيعي سرچينو د عوايدو په مديريت كې خپلواكي او حساب وركولو ته خلک هڅول كيږي ٣٠٤ EITI

EITI د نړيوال معيار لرونكي دي چې په نفتي سرچينو، ګاز او د هبوادونو په نورو طبيعي سرچينوكې روڼوالي رامنځ ته كوي. ٣٠٥، هېوادونه د EITI له معيار سره سم، دولت ته له نفتو، ګازو او د كانونو د راويستنې له شركتونو د ترلاسه شوي عايد شفافيت تامينوي. هغه څه چې شركتونه يې دولت ته وركوي بايد خپاره كړي او دولت هم هغه څه چې له شركتونو څخه يې ترلاسه كوي بايد خپاره كړي.٣٠٦ يوه خپلواكه اداره بايد هغه عايد چې د EITI په كلني راپور كې خپربږي سره ورته والي وركړي، چې بيا وروسته د EITI په كلني راپور كې خپربږي، په ځانګړي توګه د پوهې وړ كېدو او هغې ته د عامو د لاسرسي لپاره.٣٠٧ افغانستان د ٢٠٠٩ م كال د مارچ په مياشت كې EITI تاييد كړي او خپله داوطلبي يې د ٢٠١٠م كال د فبروري په مياشت كې اعلان كړې ده.٣٠٨.

د افغانستان جمهوري اسلامي دولت د EITI د معيارونو د بشپړ پلي كېدو لپاره خپلې ژمنې د خپلو صنايعو د راويستنې ټولو اړوندو عايداتو او لاسته راوړنو كې د بشپړ روڼوالي له لارې اعلام كړ. افغانستان يوه څو اړخيزه ډله چې د دولت له استازو، صنايِعو او مدني ټولنې څخه دي جوړه كړه او خپل رول ته يې د EITI له پروسې څخه لوړوالي وركړي دي.

د افغانستان د جمهوري اسلامي دولت دارالانشا د هېواد د راويستنې د صنايعو د ابتكار لپاره چې د ماليې په وزارت كې موقعيت لري، خپل د ځانړنيxxxvi لومړي او دويم راپور يې وړاندې كړ چې د راويستنې د شركتونو په ټولو عوايدو او همدارنګه ترلاسه شوي عوايد د دولت له خوا ځارل شوي او محاسبه شوي دي. دغه راپور په يوه خپلواک شركت كې ځارل شوي دي او دغه افشا كول د دولتي دارالانشاء په پرليسي توګه په هر خپاره شوي راپور خبرې كوي. د EITI بورډ منلې چې افغانستان د EITI په برخه كې د پام وړ پرمختګ كړي دي. په همدې دليل يې د افغانستان نوماند كېدل د ١٨ مياشتو لپاره تمديد كړي دي.٣١٠ د افغانستان نوماند كېدل يې د ٢٠١٤ م كال تر اكتوبر پورې تمديد كړي دي چې دولت بايد تر هغې زماني پورې د EITI باور بشپړ كړي.

xxxvi National Reconciliation Report

## کار

### قانوني چوکاټ

د افغانستان د اساسي قانون ۴۸ مه ماده اعلانوي چې کار په افغانستان کې د هر شخص حق دي، هر څوک د خپل کسب په ټاکلو کې خپلواک دي. همدارنګه اساسي قانون مشخصوي چې د کارکوونکي حق د قانون په واسطه تنظيم کېږي. ۴۹ مې مادې، د ماشومانو په ګډون اجباري کار منع کړي دي.

افغانستان په ۲۰۰۷م کال کې د اساسي قانون له ۴۸ مې مادې سره سم، د حق الزحمې د شرايطو په ټاکلو سره، حق الزحمه د ساعت په حساب ورکول، له معاش او له معاش پرته رخصتي، کاري شخړې، روغتيايي شرايط او کاري خونديتوب سره سم د کار قانون د کار قانون لړ ترلږه د کار زده کړې عمر ۱۴ مياشتې دي، په وړ صنايعو کې د کار د پيل سن لږ تر لږه ۱۵ کاله او د ټولو کارونو د پاي ته رسېدو لپاره ۱۸ کاله ټاکل شوي دي. ضرور نه ده چې کارکوونکي په اوني کې له ۴۰ ساعتو ډېر کار وکړي. په اوني کې دې له ۱۵ تر ۱۸ کلونو پورې کارکوونکو او حامله مېرمنو لپاره دې تر ۳۵ ساعتونو پورې راکم کړل شي. هر کار کوونکي د ډوډۍ خوړلو او لمانځه لپاره د وقفې، عمومي رخصتي (د جمعې په ګډون) او کلني رخصتي حق لري. ښځې د نسايي ولادي ستونزو له امله درې مياشتې له معاش سره د رخصتي حق لري.

د کار د قانون په بنسټ ځيني صنايع ډېر خونديتوب لري. کارکوونکي چې په ناقانونه صنايعو او يا تر نورو شرايطو لاندې (چې روغتيا ته مضر وي) کار کوي، کاري ساعتونه يې په اوني کې تر ۳۰ ساعتونو پورې محدود دي. ښځې او نوي ځوانان له سختو فزيکي کارونو او ناقانونه صنايعو کې له کار کولو چې روغتيا ته مضر وي منع شوي دي. هغه کسان چې د شپې له خوا کار کوي بايد ډېره حق الزحمه ورکړل شي او کاري ساعتونه يې بايد يو ساعت کم کړل شي.

د کار د قانون لسم فصل همدارنګه روغتيايي شرايط او د کارکوونکو خونديتوب هم تنظيم کړي دي او حکم کوي چې د کار هره سيمه بايد د کارکوونکو لپاره روغتيايي شرايط او د کار خوندي چاپېريال برابر کړي، سره ددې چې په دې اړه څه ډول دغه معيارونه پلي او ټاکل شوي دي لږ معلومات په لاس کې لرو. کارکوونکي بايد په خپلو اړوندو صنايعو کې بايد د کار د خونديتوب لپاره زده کړه او تجهيزات ترلاسه کړي او هغه چې له خطره په ډکو صنايعو کې کار کوي بايد له يوې طبي کتنې وروسته په کار وګمارل شي.

نړيوال معيارونه هم همدارنګه د ترسره کېدو وړ دي. افغانستان د ماشومانوو د حقوقو کنوانسيون په ۱۹۹۴ م کال کې تصويب کړي دي چې په حق الزحمې لرونکي کار کې د ماشومانو د ګډون معيارونه تنظيموي. افغانستان د کار د نړيوال سازمان ۵ اصلي کنوانسيونونه (ILO)، د مساويxxxvii ورکړې په ګډونC ۱۰۰، د اجباري کار منع کولC۱۰۵ ، تاوتريخواليC۱۱۱، د حق الزحمې لږ اندازه C۱۳۸ (۱۴کاله ټاکل شوې ده)، د ماشومانو لپاره د کار تر ټولو بد ډولونه چې په کانونو کې د ماشوم په کار ګمارل، د ماشوم لپاره د کار تر ټولو بد ډول ښودل شوي دي.

### اداره

په افغانستان کې د کار قانون د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو د وزارت (MoLSAMD) له خوا پلي کېږي. دغه وزارت په ټول هېواد کې د کار د څارنې په موخه ۲۰ څارونکي په کار ګماري. دغه څارونکي يوازې د وړتيا په مشوره ورکولو کې کار کوي او د کسب او کار مالکين حق لري چې هغوي ته د کار اجازه ورکړي او يا يې رد کړي. د کورنيو چارو وزارت هم د ماشوم لپاره د له خطره ډک او اجباري کار اړوند قانون پلي کوي. د سلاکار د لېږلو سربېره دواړه وزارتونه په سخت ډول د دې قانون د پلي کېدو لپاره له پوره توانايي کمزوري دي.

---

xxxviiC۱۰۰ Equal Remuneration

د کار نړيوال سازمان د پلي کېدو د ميکانيزم په بنسټ ILO چې افغانستان يې بايد له کړنو څخه په دوراني توګه متعهد شوو تړونونو ته راپور ورکړي. کېداي شي موسسې د دې ډول راپورونو په اړه خپلې څرګندونې وړاندې کړي. د کار نړيوال سازمان د دې نظرياتو په مټ کېداي شي څرګندونې يې دولت ته وړاندې کړي. يو کس يا يوه موسسه هم کولاي شي د کار نړيوال سازمان ته يو ليکلې شکايت وړاندې کړي چې کېداي شي د يوه راپور په ترتيبولو سره د کميسيون د وړانديز شوو بدلونونو په اړه څېړنه وکړي. په هر حال، د کار نړيوال سازمان د پوليسو او د کار د چارو څارونکي نه لري چې يوه دولت يا ارګان ته د معاهدو او وړانديزونو د ترسره کولو امر وکړي.

ساتونکې تګلارې

قانوني چوکاټ

هغه پروژې چې په افغانستان کې د GoIRA د نمايندګيو او هغو شرکتونو چې د دې حق د ورکړې مسحق بلل شوي دي، له لاندې مالي سرچينو څخه کولاي شي خپل لګښتونه تمويل او يا پور واخلي:

۳۹. يو پراختيايي بانګ، لکه: نړيوال بانګ، د آسيايي پرمختيايي بانګ، د پراختيا او بيارغونې لپاره اروپايي بانګ او نور.

۴۰. د استوا له اصولو سره سم يو له ۷۸ سوداګريز بانګونو څخه.xxxviii

۴۱. د صادراتي پور يوه نمايندګي (د يوې دولتي او يا خصوصي ادارې په معني ده چې د خصوصي شرکتونو لپاره د خطر لرونکو پرژو له امله مالي مرسته برابروي.)

پور اخيستونکې پروژې د مالي تمويلوونکو د محافظتي تګلارې په پيروي اړې دي. له حفاظتي تګلارې هدف د پروژې له لارې د اغېزمن شوو ټولنو ساتنه ده. د هر مرسته کوونکي د ساتنې د تګلارې قاعدې توپير سره لري خو عمومي موضوع يې د اغېزو، غير داوطلبانه نوي ځاي په ځاي کېدنې او کليوال خلک پکې شامل دي.۳۱۳

TAPI ) پايپ لاين په پروژه کې د آسيا د پراختيايي بانګ پروژه، تر دې روژو پورې ټول اړوند فعاليتونه بايد د ساتنې له تګلارې TAPI ) پايپ لاين پورې اړونده هره نوې ځاي په ځاي کېدنه بايد د آسيايي پراختيايي بانګ د غيرداوطلبانه نوې ځاي په ځاي کېدنې د تګلارې پيروي وکړي چې د نسبت ملي قانون ته ډېره مطلوبه ده.

اداره

په مجموع کې، پراختيايي بانګونه، سوداګريز بانګونه او د صادراتي پورونو ادارې د محافظتي تګلارو د پلي کېدو د ترسره کېدو ښه شاليد (سابقه) نه لري. څارنه يې په اغلب ګومان سره کمزورې او او يا هېڅ نه وي. د يو شمېر پراختيايي بانګونو له ډلې او د صادراتو د پورونو ادارې د حساب ورکونې د روڼ ميکانيزم په جوړولو سره پرمختګونه کړي او د شکايتونو د ترلاسه کولو لپاره يې له داسې کسانو څخه چې فکر کوي په منفي توګه د پروژې د تمويل، د بانګ او د يا هم د صادراتي پورونو د ادارې له خوا اغېزمن شوي هم يو ميکانيزم جوړ کړي دي.۳۱۵

۴۲. د شکايت ارزونه، د شکايت لپاره د څېړنې لپاره دي چې آيا بانګ او پور ورکوونکې اداره له اجتماعي او ژوندانه د چاپېريال له تګلارې څخه پيروي کړې کنه،

۴۳. د ستونزو حل کول/ د شخړو حل لاره، د لاس لرونکو کسانو په اړه د شکايتونو او د ليست شوو موضوعاتو رامنځ ته کولو، طرحه کولو او ملاتړ لپاره دي.

۴۴. د ارګان سلاکار، د ترلاسه شوو شکايتونو په بنسټ د بانګ رييس او يا د ژوندانه د چاپېريال د موضوعاتو مديريت ته د سپارښتنې او لاربون په معني ده.

د حساب ورکونې ځينې خپلواک ميکانيزمونه د تګلارو او کړنلارو د اغېزمن تضمين لپاره له نورو څخه اغېزمن دي. يوه اندازه نادولتي

---

xxxviii Equator Principles

په افغانستان کې د ټولنې غږي پخوا له دې ميکانيزم څخه کار اخيست، ټولنې د عينک په مسو کې د نړيوال بانګ د پنل د بيا کتنې لپاره شکايت ورکړي دي.
نړيوال بانګونه د استواxxxix اصولو ته ژمن دي تر اوسه له پروژې څخه د اغېزمنو کسانو لپاره د حساب ورکونې کوم واحد او د لاسرسي وړ کوم ميکانيزم نه لري. په هر صورت، د استواxl د ټولنې اصول ماموريت نه لري چې دا ډول شکايتونه حل او ترلاسه کړي. په هر صورت ځينې بانګونه د محافظتي تګلارې د مطابقت لپاره د څارنې عمل ترسره کوي. که چېرې دغه څارونکي د پروژې سيمې ته لاړ شي او له اغېزمنو کسانو سره خبرې وکړي، کيداي شي دوي يې په راپور کې راغلي شکايت وڅاري.

بشري حقوق

قانوني چوکاټ

د ۲۰۰۴ م کال په اساسي قانون کې، ۳۸ مه ماده د حقوقو د ساتنې لپاره ځانګړې شوې ده. چې تر ټولو مهم يې په لاندې ډول دي:
د ښځو او نارينه وو مساوي حقوق، د ژوند او آزادي حق، له محکمې بهر د مجازاتو او ځورونې منع کول، د بيان او راټولېدنې حق، په ټاکنو کې د رايې ورکولو او ګډون حق، د تعليم حق، د کار حق، د خوندي ملکيت د لرلو حق، خپلواک او په امن.
افغانستان همدارنګه د بشري حقوقو اړوند يوه اندازه نور تړونونه هم تاييد کړي دي، چې د هغې موضوعاتو له ډلې يې يو څه د ۲۰۰۴ م کال په اساسي قانون کې نه دي راغلي. د بشري حقوقو نړيوال تړونونه چې لاندې اشاره ورته شوې ده په افغانستان کې د کارېدنې وړ دي:
CAT ) (۱ Apr ۱۹۸۷*)
ICCPR ) (۲۴ Jan ۱۹۸۳*)
د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د ټولو ډولونو د لغوې کنوانسيون (CEDAW ) (۵ Mar ۲۰۰۳*)
د نژادي تبعيض په وړاندې د ټولو ډولونو د لغوې نړيوال کنوانسيون (ICERD ) (۶ Jul ۱۹۸۳*)
د اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي حقوقو نړيوال کنوانسيون (ICESCR ) (۲۴ Jan ۱۹۸۳*)
د ماشومانو د حقوقو کنوانسيون (CRC) (۲۸ Mar ۱۹۹۴)
په وسله واله نښته کې د ماشومانو د شرکت په اړه د ماشوم د حقوقو د کنوانسيون اختياري پروتوکل (۲۴ Sep ۲۰۰۳ )
CRPD ) ۱۸ Sep ۲۰۱۲
د معلولو اشخاصو د حقوقو کنوانسيون (CRPD ) (۱۸ Sep ۲۰۱۲*
اداره
د اساسي قانون دغه ضمانتونه کولاې شي، د افغانستان د بشري حقوقو د خپلواک کميسيون (NHRI) له خوا پلي شي، د افغانستان د بشري حقوقو ملي ارګان يو خپلواک ارګان دي چې د اساسي قانون په بنسټ جوړ شوي دي او د بشري حقوقو د تر پښو لاندې کولو په اړه څارنه او څېړنه کوي او قانوني مراجعو ته د بشري حقوقو د ماتولو راپور ورکوي.
د بشري حقوقو AIHRC د ملي ارګان په توګه، د راويستنې په صنايعو کې يو څرګند او پېژندل شوي نړيوال رول لوبوي. د نړيوالې همغږي کمېټه (ICC) د بشري حقوقو ملي ارګان د اډينبورګ اعلاميه چې د بشري حقوقو NHRIs د ملي ارګان رول په کسب او

---

xxxix Equator Principles

xl Equator Principles

کار کې په رسمیت پېژني تصویب کړي دي. لکه، په کسب او کار کې د ناسم چلند په اړه د څارنې وضعیت، د بشري حقوقو د ماتونې په اړه سلاکار ارګانونه، ښوونه او پوهه ورکول. د NHRIc استازو د آسیا په پاسفیک حوزه کې چې د کوریا په پایتخت سیول کې ترسره کېده، د ادینبورګ د اعلامیې د پلي کېدو په اړه د په یوه ورکشاپ کې د ۲۰۱۱ م کال د اکتوبر په میاشت برخه اخیستې وه.

د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمېسیون یوازې د کورنیو حقوقو د نقض د حل لپاره نه دي، بلکې کاري حوزه یې د اساسي قانون، ټولو تړونونو او نړیوالو میثاقونو ، (د بشري حقوقو د نړیوالو میثاقونو په ګډون چې پورته یاد شول) پورې شامله ده. پر دې بنسټ، آن که یو حق په اساسي قانون کې هم یاد شوي نه وي، که دغه حق په یو له دې اسنادو کې راغلي وي، تر اوسه هم یو کس کولای شي، د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون ته د اړوندې موضوع په اړه شکایت وکړي او د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون د ملګرو ملتونو په کچه نسبت کمښتو ته پراخه میکانیزمونه لري.

د نړیوالو تړونونو ځینې چې دلته لیست شوي دي، د شکایت لپاره په ملګرو ملتونو کې انفرادي میکانیزمونه لري. که دولت د دې ارګان قضایي صلاحیت ومني، د شپږو لیست شوو تړونونو لپاره (هغه چې د ستوري نښه لري)، هر څوک کولای شي د ملګرو ملتونو په داسې حال کې چې تصمیمونه لازمي نه دي خو کولای شي په افغانستان کې د داخلي ارګانونو لپاره هڅوونکي وي.

په حقوقو ولاړ پرمختګ داسې پرمختګ دي چې د خلکو هوساینې ته پراختیا ورکوي، د ملي اقتصاد د پرمختګ په معني نه دي. په حقوقو ولاړ پرمختګ په دې معني دي چې خلک یې د حقوقو په اړه معلومات لري او غوښتونکي یې دي او دولت په بهتره توګه توان لري دغه حقوق عملي او ساتنه یې وکړي او اړوند شرکت هم د خلکو بشري حقوقو ته درناوي لري. له دې حقوقو ځینې یې عبارت دي له: د معلوماتو حق، د ژوندانه د یوه سالم چاپېریال د لرلو حق، د ګډون حق، د خوړو حق، د اوبو حق، د مناسب استوګنځي حق، د کلیوالو ښځو او نارینه و حقوق دي.

د خپلواکې هوکړې حق، پخواني او باخبره

UNDRIP) د ځمکې د ملکیت په اړه له ۲۶ مې تر ۳۲ مې مادې پورې بنسټیز اصول وضع کړي دي. په ۳۲ (۲)، UNDRIP برخه کې په افغانستان د آګاهانه، خپلواکې او د کلیوالو خلکو پخواني (FPIC ) موافقې د ترلاسه کولو لپاره، کله چې له پروژې څخه اغېزمن کېږي تېلې ده، په ځانګړې توګه هغه کسان چې د راویستونکو صنایعو له امله اغېزمن شوي دي.

دا څرګنده نه ده چې په افغانستان کې کوم قانون او حکم FPIC (یا د یوې ورته پروسې ملاتړ کوي)، که دا ډول ملاتړ شته وي آیا دا ملاتړ به د ټولو اغېزمنو ټولنو څخه وشي او یا به تر محدودو ډلو پورې ځانګړي وي. د اساسي قانون ۴ مې مادې په افغانستان کې ۱۴ قومونه د ورو لږکیو په ګډون سره په رسمیت پېژندلي دي.

په داسې حال کې چې دلته ترUNDRIP پورې اړوند د کسیز شکایت میکانیزم نشته، د ملګرو ملتونو سازمان د کلیوالو خلکو د حقونو په اړه یو ځانګړي خبریال لري، چې په کلیوالو خلکو د راویستونکو صنایعو د اغېزو په اړه یې په خلکو څېړنه کړې، وړاندې کړې دي.۳۱۸ د ملګرو ملتونو سازمان د کلیوالو د موضوعاتو په اړه یوه کلني غونډه جوړوي چې کېدای شي د نادولتي سازمانونو استازي او یا د کلیوالو په موضوعاتو کې فعال کسان برخه په کې واخلي.

**۱۱.د مدني ټولنې لپاره وسایل**

**دغه برخه د مدني ټولنې لپاره له خنډونو سره پیلیږي او په صنعتي توګه د کانونو د راویستنې په برخه کې ستاسې د فعالیتونو یو مهال وېش هم درکړل شوي دي. نو موږ د وسایلو توضیح ته ځو:**

**د منظمولو له لارې، د سیمه ییزو اطلاعاتو د مرکزونو ډېروالي، د ټولنې د اراضي حقوقو پیاوړتیا، د ټولنې له اړیکو ملاتړ، د ټولنې په رهبري سره د اغېزو د ارزونې آسانتیا او د ټولنې د پرمختیایي هوکړې په اړه سلا ورکول.**

**سند جوړول او څارنه، د دې په ګډون چې دا کار یې یوازې، او که یې له نورو سره په ګډه وکړ. یوه مقدماتي مطالعه یې څنګه وکړه، هغه لارې چې تاسې کولای شئ وڅارئ، د څارنې لپاره د اغېزو ډولونه، څارنه په کومو معیارونو ترسره شي.**

**د حساب ورکولو سېستم جوړول، د عدالت غوښتلو په اړه هغه کسان چې لاس په کې لري، پروګرام ورته جوړ کړئ، د شرکت او پروژې په اړه څېړنه وکړئ، دولتي چارواکي او شرکتونه تر فشار لاندې ونیسئ.**

**د خبر ورکولو کړنې او تګلاره دولت او شرکتونه د کلیدي موضوعاتو په اړه، روڼوالي، امنیت، د کانونو د راویستې لومړني لارې او سیمه ییز ظرفیتونه.**

**د خنډونو مدیریت**

**څنګه چې تاسې دا مهم کار له سیمه ییزې ټولنې د ملاتړ او خپلو هېوادوالو لپاره ترسره کوئ او د عدالت غوښتلو لپاره د دولت له ټولو خواوو او له یو شمېر لاس لرونکو شرکتونو سره د سرچینو په راویستلو کې په کار بوخت یاست، له شک پرته به تاسې له یو شمېر خنډونو سره مخ شئ. د دې خنډونو په وړاندوېینې سره تاسې کولای شئ په فعاله توګه یې مدیریت کړئ. د بېلګې په توګه ستاسې په موسسه کې د بحث او ستراتیژۍ له مخې، له خپلو همکارانو سره خبرې چې د مدني ټولنې په نورو ډلو کې کار کوي او د اړوندې موضوع له کارپوهانو سره د ستراتیژۍ جوړولو او پر دې ستونزو د بریالي کېدو لپاره خبرې کول.**

**هغه ستونزې او لومړني خنډونه چې د مدني ټولنې ډلې، د سرچینو د عادلانه راویستنې لپاره د عدالت غوښتلو لپاره زموږ له کتنو سره سم، ورسره لاس او ګرېوان دي عبارت دي له:**

**ثبوت او مسولیت: د دې ثابتول چې په ټولنه راغلې اغېزې یوازې د شرکت له خوا ترسره شوې او یا له نورو سره یو ځای ستونزې زېږوونکې دي. که چېرې د شرکت له خوا رامنځ ته شوې وي، نو بیا د کوم ارګان له خوا د شرکت په جوړښت، شبکه او یا تر شرکت پورې اړوند دي.**

**اطلاعاتو ته د لاسرسي په لاره کې خنډونه: اطلاعاتو ته د لاسرسي ستونزه، لکه د اغېزو ارزونه، تګلارې او د شرکت داخلي کړنې،**

**د ګډون کمزوري بهیر: د دولت او شرکت پروسه د مشوره ورکولو او معني لرونکو خبرو لپاره تر ډېره کمزورې دي.**

**تمویل: د کانونو د راویستنې د پروسې په اړه، د ټولنې د پوهې او وړتیا د لوړولو لپاره د تمویل د لارو پیداکول او د پخواني هوکړې له موجودیت پرته له هغوی سره خبرې اترې کول کولای شي ستونزې وزېږوي. د پروژې عواید به له څو کلونو وروسته ترلاسه شي چې له هغې مخکې پروژه د پام وړ اغېزې خوروي. کله چې عواید ترلاسه کېږي، د وسایلو د بیې د بدلون له امله به ډېر توپیر وکړي چې دا په خپل نوبت سره پلان جوړونه له ستونزو سره مخ کوي. ۳۱۹**

**سناریو**

**په لاندې ډول د صحنې جوړول به له تاسې سره مرسته وکړي چې دغه ستونزې او له وسایلو د سمې استفادې اړتیا سمه وپېژنئ:**

د کیسو جمهوریت په خپل هېواد کې له منرالونو ګټه اخلي چې د هغې په واسطه د دولت بېړني اړتیاوې رفع کړي. کیسو د ډېرو منرالي سرچینو لرونکي دي: مس، طلا، اوسپنه، او پټرول. ماکوپر انټرنېشنل، د مسو په برخه کې د کانونو د راویستنې د منځني کچې یو شرکت دی، دغې شرکت خپل د فعالیت جواز د خامو نفتو او کانونو د قانون له احکامو سره سم ترلاسه کړي دي.

دغې شرکت ځان ته د تانیا په ناحیه کې یو انحصاري ملکیت ځانګړي کړي دي، په ۲۰۰۵ م کال کې نوموړي شرکت د نوې ځاي په ځاي کېدنې یو پروګرام برابر کړ. د تانیا د ناحیې د سنتي شورا درې کسه مشران نارینه په غونډه کې کښېناستل. شرکت ژمنه ورکړې چې د ټولنې ۵۰ غړي به په ډله ییزه توګه په داسې ځاي کې ځاي په ځاي کړي چې وکولاي شي په سنتي توګه خپل ژوند ته ادامه ورکړي په لومړنیو طریقو د کانونو راویستلو په ګډون. په ۲۰۰۶ م کال کې د قومي ډلو د دښمنۍ له امله چې له نوو کسانو سره یې لرله، د ټولنې غړو ته په دوو بېلو ځایونو استوګنځي ورکړل شول. د ټولنې غړو په دې باور دي چې د ځمکې په وړاندې یې عادلانه بیه نه ده ورکړل شوې او دوي نه شي کولاي په هغو سیمو کې چې ځاي ورکړل شوي دي په سنتي توګه خپل ژوند ته ادامه ورکړي.

د شرکت تر ملکیت لاندې سیمې ته (خپلې پخواني ځمکې ته) د ټولنې د بېلو ډلو بېرته راتلل چې خپلو څرځایونو ته لاسرسي ولري چې له امله یې د کانونو راویستنه همدارنګه ادامه لري. د ماکوپر شرکت د غصب کوونکو د شړلو لپاره دقیق اقدامات نیولي. امنیتي ځواکونه چې هر شکمن کس ویني، پوښتنه ترې کوي او ډبوي یې.

د ماکوپر شرکت همدارنګه د مسو د محلول د لېږد لپاره یوه بندر ته د ۲۰۰ کیلومتره په شاوخوا یو پایپ لاین غزولي او د اوبو د تصفیې لپاره یو نوي سېستم جوړ کړي دي

دغه شرکت وایي چې د سیمه ییزې کرنې لپاره مخکې تر استفادې د دویم ځل لپاره اوبه د نړیوالو معیارونو په بنسټ تصفیه کېږي. د ټولنې غړي وایي چې تصفیه شوې اوبه بدبویه او بد خونده دي. دوي احساسوي چې له معدني بوتلي اوبو پرته نور هېڅ ډول اوبه د کور د استفادې لپاره نه لري چې دا بوتلي اوبه ډېرې قېمته ورته تمامېږي. دوي همداراز فکر کوي چې تصفیه اوبو یې د کرنیزو حاصلاتو په کیفیت او حجم منفي اغېزې کړې دي، په ځانګړې توګه په غنمو چې د دوي د خوړو لویه برخه جوړوي.

یوازې په دې کال کې، ډاکټر د ټولنې په غړو په ځانګړې توګه ماشومانو کې د څو ډوله ویټامینونو کموالي ښودلي دي، هغې همدارنګه دا چې کانونو د ویستلو له امله د سیمابو (جیوه) خپرېدل د ټولنې د غړو په روغتیا څه ډول اغېزه کوي. د ماکوپر شرکت او د نفتو او کانونو وزارت د دې لپاره چې د ډاکټر کتنې بې باوره کړي له طبي بورډ څخه غوښتي چې کاري جواز یې ترې واخلي.

په صنعتي توګه د کانونو په راویستنه کې د فعالیتونو مهال وېش

| پړاو | ددولت دندې | ملي قوانين | د يوې سيمې فعاليتونه | ټولني& مدني ټولنه |
|---|---|---|---|---|
| Preparation تياري | وزارتي ظرفيت جوړونه | قانوني او مقرراتي اصلاحات | له سيمي سره لومړي اړيکه | د حقوقي زده کړو معلوماتي مرکزونه<br>د سيمه ييز وړتيا د پروتوکل ټولنه |
| تر ۱۵ کلونو پوری د پېژندنې پړاو | جواز ورکول<br>او خارنهESMP<br>تفتيش& او خارنه | ځمکه، د ژوندانه چاپيريال، &<br>د منرالونو قوانين | وړاندوينه، جيولوژيکي سروې & ترسيم<br>د اړتيا وړ ځمکې د ترلاسه کوول لپاره مذاکره | لومړني معلوماتي مرکزونه<br>عامه ګډون<br>د سيمه ييزو وړتياوو وړاندې کول<br>امنيت |
| تر ۲۰۱۰ کال پوری کشفونه | جواز ورکول<br>او خارنه ESMP,<br>RAP<br>تفتيش& او خارنه | اوبه، د ژوندانه چاپيريال ,<br>کار,تدارکات&<br>د منرالونو قوانين | ژوورنه او زېربنا جوړول<br>ځمکې ته د لاسرسي لپاره مذاکره & نوي استوګنځي<br>د ESIA لپاره مشاور<br>امنيت | عامه ګډون<br>د ټولني تر مشري لاندې د اغېزو ارزونه<br>CDA د سيمه ييزو وړتياوو وړاندې کول |
| جوړ جاري تر ۲۰۰۷ کال پوری | جواز ورکول<br>او خارنهESMP<br>تفتيش& اوخارنه | اوبه، د ژوندانه چاپيريال , کار,<br>تدارکات& د منرالونو<br>قوانين | د زېربناوو عمليات<br>د لينونو تېرول<br>چاودنې، پروګرامونه<br>د پمپ سېستم<br>سيمه ييزه وړتيا | CDA پلي کول<br>اغېزې، ګډون، خارنه، د سيمه ييزو وړتياوو وړاندې کول<br>امنيت |
| د تل لپاره تړل عمليات | تفتيش& او خارنه | اوبه، د ژوندانه چاپيريال، &کار، د<br>منرالونو قوانين | د شعاوو کنټرول,<br>د اوبو مديريت<br>Flora &biodiversity<br>د سيمه ييزې وړتيا مديريت | CDA پلي کول<br>ارزونه، اغېزې، ګډون<br>امنيت |
| | د پاي ته رسېدو او تړل کېدو له پروګرام څارنه<br>تفتيش&او څارنه | اوبه، د ژوندانه چاپيريال،&د منرالونو<br>قوانين | بيارغونه، باثباته کول، تداوي<br>& سيمه دويم ځلي شنه کول | د څارونکي پلان پاي<br>د دوامداره پروګرام پلي کول |

د سيمه ييزو ټولنو پياوړې کوي

د کانونو د راويستنې د فعاليتونو د څارنې د ښه والي په وړاندې د شخړې د مخنيوي يوه له ښو لارو څخه، باخبره ګډون د دوه اړخيزو د طبيعي سرچينو د تصميم نيونې په پروسه کې د سيمه ييزو ټولنو معني لرونکي ګډون، د ژوندانه د چاپېريال د قانون په بنسټ پېژندل شوي دي. په هر صورت، دا يوازې هغه څه نه دي چې دوي يې په آساني سره عملي کړاي شي.

د سيمه ييزو ټولنې تنظيمول

کله چې يو شرکت د ګټه اخيستنې لپاره راځي، دغه شرکت کېداي شي خلکو ته دغه باور ورکړي چې دوي له رييس او د ټولنې له مشر سره خبرې کړې دي، او بشپړې هوکړې ته رسېدلي دي. کله چې دوي ګټه اخيستنه پيلوي، خو سمدلاسه پوهېږو چې دوي په – د کانګو په دموکراتيک جمهوريت کې مدني ټولنه د دې موضوع لپاره عدالت غواړي.
تاسې کولاي شئ د ټولنې له استازو سره په کار کولو د سيمه ييزې ټولنې په تنظيمولو کې مرسته وکړئ. د ټولنې غړو ته غوږ ونيسئ، د ټولنې د غړو تر منځ اړيکې رامنځ ته کړئ، د دوي لرليدونه تنظيم کړئ. دا هم ډېره مهمه ده چې د معلوماتو د شريکولو لپاره او د ټولنې له غړو سره د منظمو غونډو د ستراتيژيو په اړه بحث کول ولرئ. د اړتيا په وخت بېړني غونډې جوړې کړئ. ۳۲۱ د نظر اخلاف او دوه زړي کېدل، چې د ننني مشورې په پروسو کې د نه منلو وړ دي. نو د مدني ټولنې د ملاتړ کوونکي په توګه تياراوسئ چې د ټولنې له بېلابېلو برخو سره مرسته وکړئ او د مرستې يوه ګډه کمېټه ورته جوړه کړئ؟
نورې ټولنې چې د کانونو له راويستنې څخه اغېمنې شوې دي، دې پايلې ته رسېدلې چې په دې موضوع د پوهېدو لپاره چې د کانونو له راويستنې څخه د ټولنو هيله څه ده؟ او ټولنې څه لرليد لري؟ د داخلي مشورو کول د ډېر ارزښت وړ دي. دوي همدارنګه پيداکړه چې د ټولنې د اړتيا وړ او لازمو مهارتونو ډولونه او د هدفونو د پېچلي کېدو له امله، په ټولنه کې د کمېټو په جوړولو سره، ټاکلو موضوعاتو ته د رسېدو لپاره ګټور دي. ځينې کمېټې په بالقوه توګه د لاندې موضوعاتو لرونکې دي: د ژوندانه په چاپېريال د اغېزو کتل، اقتصادي، اجتماعي او د ژوندانه د چاپېريال څارنه، د ټولنې هوساينه، د ښځو کمېټه، د امنيت د کسب او کار د پرمختيا موکې، فساد، زده کړه او په کار ګمارنه او د کان د پاي ته رسېدو د ټولنې د بېرته په پښو درېدو وړتيا.
بل درس له تېروتنو څخه د ټولنو د لرې کولو لپاره د يوه پيوستون جوړول دي. ۳۲۲ په افغانستان کې تر دې وړاندې اغېزمنو ټولنو دا کار کاوه: له لوګر څخه تجربې او اخيستل شوي درسونه، د ټولنې او مدني ټولنو له مشرانو سره په باميانو او ميدان وردګو کې د NRMN شريکول.

د ټولنې د اراضي حقوقي پياوړتيا

د طبيعي سرچينو د پرمختللې کشفونې لپاره ځمکې ته لاسرسي ډېر مهم دي. کله چې دولت يا د يوه جواز لرونکي ځمکې ته لاسرسي پيداکوي، اړتيا ده چې د ټولنې غړي يې بايد د قانون له مخې د ځمکې له حقوقو خبر وي. افغانستان چېرته چې د ځمکو معاملې نژدې ۹۵ سلنه غير رسمي دي او ډېر لږ ملکيتونه د رسمي قبالې له لارې ثبت شوي دي. د معلوماتو له مخې له ۲ سلنه لږ ښځې د ځمکې خاوندانې دي. بله موضوع د کډوالو بېرته راګرځېدل او په ځمکې يې دعوې دي. د عينک په مسو کې کرنيزه ځمکه، څړځاي او اوبه ډېره حساسه موضوع وه، دغه شخړې به په هر هغه ځاي کې چې کانونه راويستل کېږي تکرار شي.
د ځمکې د نيولو او يا ځمکې د اخلال په وړاندې مخکې تر مخکې د خسارې ورکول، دا ډېره مهمه ده چې ټولنه يې د ځمکې له حقوقو خبر ولري او هغوي ته به ډېر ژر د ۶۰ مې پروژې د ژوندي دوران د کشفونې په پړاو کې سند ورکړل شي. تاسې کولاي شئ له تخصصي نمايندګيو او د ټولنې له غړو سره د يوه ګډ کار له لارې د اداري پروسيجر په ثبت او مخته وړلو کې مرسته وکړئ. تاسې له دوي سره مرسته کوي شئ چې د ځمکې په اړه يې اسناد او معلومات ټول کړي. هغوي څومره وخت هلته ژوند کړي او هلته څه حق لري؟۳۲۳ دغه توکي د هغې

اسنادو په برابرولو کې شاملېږي چې په څمکه کې د ټولنې د غړو ملکيت ښيي، دوي په دې څمکه څومره وخت ژوند کړي، جمعي حقوق او هغه اسناد پکې شاملېږي چې د ځمکې سرحدات وښيي.۳۲۴

د سيمه ييزو معلوماتو د يوه مرکز جوړول

د ټولنې د تيارولو لپاره د معلوماتو يو مرکز د لنډمهاله او اوږدمهاله اغېزو په وړاندې کولای شي ډېر ګټور وي او د ټولنې د هيلو په اداره کولو کې هم مرسته کوي. د افغانستان خلک د کانونو د لويو پروژو د راويستنې په برخه کې لږ تجربه لري. په عينک او حاجي ګک کې له خلکو سره مرکو وښوده چې هغوي د اوږدمهاله اغېزو نه بلکې يوازې د لنډمهاله اغېزو په اړه فکر کوي. دا په بشپړه توګه د پوهې وړ ده چې له دريو لسيزو جګړو وروسته د دوي د خونديتوب او امنيت حس په سخته توګه زيان ليدلی.۳۲۵

۱۰ شکل، د هيلو اداره کول۳۲۶




دلته او د دې هېواد په نورو ځايونو کې کېدای شي د خپل راتلونکي په اړه د سملاسي او ناځايي تصميم د نيولو توانايي ونه لري. دا وخت ته اړتيا لري چې د راويستنې په بهير پوه شي، له متخصصينو سره د مشورې او هدف په اړه پوهه ولري. کارکوونکي، سلاکاران او نورن کوونکي چې د کانونو د راويستنې له شرکتونو سره کار کوي، په ډېر ګمان سره په يوه ببرني يا تر ټاکلي، زماني او سازماني د سيمه ييزو سرچينو مرکزونه کولای شي د دې فاصلو په له منځه وړلو کې ګټور وي.

مدني ټولنه کولای شي، د سيمه ييزې ټولنې د معلوماتو د سرچينې مرکزونه داسې تنظيم کړي چې د راويستنې د پروسې د پړاوونو، له پروژې څخه د راتلونکو عوايدو او زماني واټن، په سيمه ييزو ټولنو د پروسې اغېزې او فوق العاده خوندونه، قانوني دندې او د ټولنې حقوق او لاس لرونکو لوبغاړو سره معلومات او زده کړې شريکې کړي.

ښه به وي چې دغه مرکزونه په ولايتونو کې چېرته چې په لوړه کچه د کانونو راويسته ترسره کېږي جوړ شي، لکه: لوګر، باميان، ميدان وردګ او مزار. مرکز بايد په کليو کې چې په اغېزمنه حوزه کې قرار لري د لاسرسي وړ وي. په ځانګړې توګه ښځې او ځوانان.

د ټولنې له پيوستون څخه ملاتړ، نمايندګي او تصميم نيونه




Mining companies often speak and present data in language that is too technical for the local population.

شکل ۱۱ ZOI کاری کاتور شبکه محیط زیست

دلته د مدني ټولنې لپاره ډېرې لارې شته دي چې له ټولنې سره نور هم د پيوستون په جوړولو کې مرسته وکړي. د ټولنې د نه دولت داري او مشروع نمايندګي پياوړې کوي او د شرکت، مرکزي او سيمه ييز دولت، په وړاندې د چنې وهلو موقف بهتره شي، په پاي کې به مرسته وکړي چې څنګ ته شړل شوو ټولنو، د کانونو د راويستنې کورنيو او نړيوالو شرکتونو لپاره به د لوبو ساحه برابره شي. دا ډېره مهمه ده چې په ټولنه کې ژر پيوستون رامنځ ته شي او د پروژې د دوران د کشفونې په پړاو کې پيل شي.

په دې برخه کې موږ په لومړي پړاو کې د ټولنې په پيوستون خبرې کوو او وروسته د ټولنې د پيوستون د ملاتړ لپاره توضيح کوو، د نمايندګي سېستم او د منلو وړ او مشروع تصميم نيونه. د ټولنې د مشوره  ورکولو يو پروټوکول او د ټولنې يو هر اړخيز پروټوکول.

د ټولنې د پيوستون اړتيا

له منافعو څخه د دفاع او ساتنې او د شرکت او دولت په وړاندې د ټولنې د حق لپاره د ټولنې پيوستون د لاندې دلايلو له مخې ډېر د ارزښت وړ دي:

اختلافات ټولنو ته ډېر زيان اړوي. له پيوستون پرته، ټولنې د زيانونو، د دولت او شرکت د عمدي او غير عمدي لاسوهنو څخه ډېر ضرر ويني. هر وخت ټولنې يووالي نه لري، دوي ډېر وخت او فضا ته اړتيا لري چې دا داخلي توپيرونه وپېژني، په دې شرط سره چې د شرکت، سيمه ييز او مرکزي دولت له خوا هېڅ ډول لاسوهنه نه وي.۳۲۸

شرکتونه اجندا ټاکي. معمولاً ټولنه نه بلکې شرکت د پرمختيايي پروګرام طرحه وړاندې کوي او دولت د سياسي او اجتماعي هيلو ژمنې ورکوي. د خبرو اترو او مرکې په بهير کې شرکتونه ترجيح ورکوي چې د ټولنې د ګټو په نسبت خپلو وړانديزونو ته ډېر لومړيتوب ورکړي.۳۲۹

دولت او شرکتونه د ناسمو اطلاعاتو له سياستونو استفاده کوي. د ټولنې ډېري غړي د شرکت له خوا د معلوماتو له وړاندې کولو له دې امله شکايت لري چې شرکت يوازې د پروژې په ګټه تېنګار کوي. دوي د ژوندانه د چاپېريال د مستقيمو او غيرمستقيمو اغېزو، مالي او د پروژې د بشري حقوقو په اړه هېڅ معلومات نه وړاندې کوي. د خلکو پوښتنو ته ځواب نه ورکول کېږي، خبرو اترو او د نيوکو وسايلو ته وخت نه ورکول کېږي.۳۳۰

شرکتونه په واک کې توازن له منځه وړي. شرکت له څو لارو په واک کې د توازن نشتوالي پياوړي کوي، د بېلګې په توګه د ټاکنې له لارې د خبرو تګلورې، ژبه، اجندا، مهال وېشې، هغه څوک چې معلومات او وسايل وېشي، هغه څوک چې سلاکاران او حقوق پوهان راولي او آن تر دې پورې هغه څوک چې د خبرو لپاره وخت اخلي.۳۳۱

ټولنې د پروژې د پيل په پړاو کې د مذاکراتو لپاره کافي وړتيا نه لري. يو شرکت يا دولت د پروژې په لومړيو پړاوونو کې د مذاکرې او خسارې د جبران لپاره لوړ موقف لري خو د خبرو لپاره د سيمه ييزې ټولنې وړتيا او د غوښتنو اعمال يې کمزوري وي. ۱۰ يا ۲۰ کاله

وروسته کله چې د پروژې عمده اغېزې څرګندې شي، د سيمې د خلکو غوښتنې به ډېرې شي. دا داسې وخت دی چې بيا د ژمنو د عملي کولو لپاره وخت کم وي، په دې وخت کې د ټولنې وګړي خبرو ته ډېر تياري لري په داسې حال کې چې شرکت او دولت په دې وخت کې خبرو دومره علاقه نه لري.۳۳۲

د ټولنې د سلا ورکولو د پروتوکول په اړه

د ټولنې د سلا ورکولو پروتوکول عبارت له يوه چوکاټ څخه دي چې ټولنه يې د تصميم نيولو په پروسه کې د بشپړو تنظيماتو لپاره پرمختګ ورکوي. د ټولو ټولنو په عمومي توګه د دولت داري ځينې ډولونه په عرفي او يا د پخوانيو شته اسنادو له مخې په ياد دي.
ډېري وخت د دولت داري دا ډول سېستم په کافي اندازه پياوړي نه دي چې د تصميم نيونې له پروسې او د لويو بدلونونو چې د کانونو د راويستنې له پروژو څخه په لوړه کچه رامنځ ته کېږي، د پيوستون په واسطه د يو بل ملاتړ وکړي. لاندې وړانديزونه د موجوده سېستم د بدلولو په معني نه دي لکه (شوراګانې يا د ټولنې پرمختيايي شورا)، خو هغوي پياوړي کوي چې د پېچلو او حساسو موضوعاتو د مديريت لپاره چې د کانونو د راويستنې له لويو پروژو څخه راوتلې وي، څرګندې شي.
ټولنې کولاې شي د سلا ورکونې له پروتوکول څخه يې د خبرواترو لپاره چې د پروسې د شرايطو او جزياتو لپاره له نورو خواوو سره خبرې وکړي، کله د سرچينو د راويستنې شرکت. مدني ټولنه کولاې شي د خبرواترو د پروسې د جزياتو اړوند د ځينو عناصرو په اړه چې هغوي کولاې شي د سلا ورکولو په پروتوکول کې هغه حل کړاي شي او سلا ورکړي.۳۳۳
د ټولنې ګټې او لومړيتوبونه د سرچينو په پرمختګ کې تنظيم کړئ. لکه (د منفي اغېزو کمول، د سولې په راوستلو کې مرسته، د زده کړو برابرول، بوختيا او د مېرمنو او نارينه وو لپاره ګټوره پرمختيا.)
عبارت دي له تعريف او د غونډو د حوزې له مشخص کولو څخه او همدارنګه د ټولنې د غړو، کټونکې، همدارنګه ژبه، څوک چې اجندا تنظيموي، له غونډې مخکې د ټولنې په اړه د اړتيا وړ اطلاعات، همدارنګه د ژباړې د خدمتونو د وړاندې کولو تمويل او په غونډه کې د حاضرېدو او تياري لپاره لګښتونه دي.
د کورنې تصميم نيونې پروسه ټولنه تنظيموي، لکه په ټولنه کې د ننه له ټولو غړو سره د سلا څرنګوالې، د ترلاسه شوو معلوماتو د خپرېدو لپاره د اړتيا وړ وخت او معبرو او مشروع ارګانونو ته چې د ټولنې د ټولو ډلو له ګټو نمايندګي کړي، د ښځو، ځوانانو او ضررمنو ډلو ته د خسارې د جبران ورکول.
د خبرو اترو لوايح.  د ټولنې او شرکت تر منځ د خبرو شرايط تنظيموي، په کوم  ډول چې ليکل شوي او د دواړو خواوو د منلو وړ وي.
 د خبرواترو شرايط بايد د زماني چوکاټ لرونکي او د ټولنې د استازو د منلو وړ وي ترڅو د ټولنو له غړو سره سلا  وکړي. دغه زماني چوکاټ دواړه خواوې په حساس وخت کې د بې انصافه زماني فشار له کارولو راګرځوي.
سند، سند، سند.  خبرې اترې بايد د هغې په ټولو جزياتو سره په کتبي توګه سند کړل شي، لکه هغه مينوټونه چې اړوندو خواوو لاسليک کړي او په اړه يې هوکړه کړې وي. د هوکړې د نشتوالي لاملونه هم بايد سند کړل شي.
شرکتونه په غالب ګمان سره د محرميت غوښتونکي دي. په داسې حال کې چې ځينې نورې خواوې په يوه خلاص چاپېريال کې د خبرو علاقه لري چې دا هم کېداي شي مضر وي، ځکه چې له ټولو څخه د روڼوالي او حساب ورکونې دريځه بندوي. د دې موضوع د حل ۳۳۴
شرکتونه په غالب ګمان سره په ټاکلو حقوقو سترګې پټوي لکه له د قضايي حل لارو د ګټې اخيستنې حق. دلته د سترګو پټولو د مخنيوي د ملاتړ لپاره څلور عنصره لرو.

---

xliWaiver

۱. دوي بايد متقابل وي؛

۲. دوي بايد تر داسې موضوعاتو پورې تړلي وي چې د خبرو په بهير کې ترسره کړاي شي؛

۳. دوي بايد د اړوندو خواوو لپاره د خبرو په بهير او له هغې وروسته لازمي وي، په ځانګړې توګه هغه وخت چې دوي په يوه موضوع هوکړې ته رسېږي. کله چې خبرې ناکامې او يا پاي مومي، سترګې پټول قانونيت نه لري؛

۴. سترګې پټول نه بايد په جرمي اعمالو کې وشمېرل شي. د جرمي مخالفينو قانوني تعقيب په خصوصي خبرو کې شاملېداي نه شي او د عامه ګټو د ساتلو لپاره به د دولت يوه قانوني دنده وي؛.۳۳۵

کله چې دواړه خواوې يوې هوکړې ته ورسېږي، لکه CDA، د هوکړې ټول جزيات بايد سند کړل شي،۳۳۶

۵. د پلي کېدو وخت او شرايط؛

۶. له پلي کېدو څخه د څارنې سرچينې او مسولیتونه؛

۷. د شخړو د حل ميکانيزم، پلمه جوړونو ته رسېدنه، هوکړه نه کول او بې نظمي؛

د ټولنې د پروتوکولونو په اړه

څنګه چې په عرفي، ملي او نړيوال قانون کې په رسميت پېژندل شوي دي، د ټولنې اجتماعي پروتوکول عبارت د قواعدو او مسولیتونو له منشور څخه دي چې په بنسټ يې ټولنې عرفي ارزښتونه او نړې ليدنه يې د طبيعي، فرهنګي او بيولوژيکي سرچينو په بنسټ تنظيموي. (د مشورې پروتوکول د ټولنې د دې مفصل پروتوکول يوازې يوه برخه ده). يو اجتماعي پروتوکول پرمختللي وسايل او اجتماعي دي چې د ټولنې د اړتياوو او غوښتنو په بنسټ په بېلابېلو ډولونو اوړي چې په واسطه يې ټولنه برخليک او حقوق خپله وټاکي.

د ټولنې پروتوکول، عرفي قانون، ارزښتونه، سنتي ارګانونه، له طبيعي سرچينو سره يې ارتباط او پرمختيايي لومړيتوبونه په يوه ټولنه کې تنظيم او مفصل بندي کوي. په دغې ټوليز پروتوکول کې لاندې پراخه موضوعات شاملېږي:

۸. د ټولنې د حکومتداري ډول او د ارګانونو د نقشې رسمول،

۹. د ټولنې د طبيعي سرچينو د نقشې رسمول او د دې سرچينو په وړاندې د ټولنې وجايب او دندې؛

۱۰. د ټولنې د وړتياوو تشخيصول؛

۱۱. د ملي، سيمه ييزو او نړيوالو د حقوقو په چوکاټ کې د ټولنو حقوق؛

۱۲. د سلا يو رسمي چوکاټ دي (يوازې د سلا د پروتوکول په بنسټ چې پورته توضيح شوي دي) او هغه څه چې په دې برخه کې د پخواني هوکړې، باخبري او خپلواکي لامل کېږي.؛

۱۳. د ټولنې پراختيايي لومړيتوبونه؛

۱۴. تر ټولو ښه لاره له ټولنې سره د ګټې او د خسارې د جبران شريکول دي.؛

د ټولنې د پروتوکولونو ارزښتونه

نورې ټولنې چې د سرچينو په راويستنه کې تجربه لري، د هېواد د قوانينو او حقوقو د پوهېدو په اړه، د ټولنې د دوديزې او سنتي پوهې راټولول او همدارنګه د استفادې وړ ځمکو د نقشې برابرول او د فرهنګي ځايونو په اړه خبرې کوي.۳۳۷ د ټولنې د پروتوکول پراختيا او همدارنګه د دې پروتوکول وروستي پايله له سيمه ييزو ټولنو سره مرسته کوي چې د عرفي قوانينو په رڼا او د سرچينې د راويستنې، له ځمکې سره د فرهنګي او معنوي اړيکو، اوبو، قلمرو او طبيعي سرچينو په پروژو کې يې فوق العاده اغېزې تشخيص کړې دي چې د بيه کولو حس ښېرته پيداکړي.

په داسې حال کې چې په هره ټولنه کې دا پروسه توپير سره لري، د ټولنې د پروتوکول معني او ښه والي تر لويي، د ټولنې د افکارو محصول او همدارنګه د ټولنې د هر غړي ګډون او هڅه د ټولنې له مشر نيولې د ټولنې تر کشر پورې، اړه لري.

په ځانګړې توګه سپين ږيري، ښځې، ماشومان او معلولين (د فزيکي، زده کړې او بدني ودې د معلول په ګډون). ۳۳۸

د ټولنې له پروتوکول کار اخيستل۳۳۹

له اجتماعي پروتوکول څخه د ګټه اخيستنې دليل دادي چې ټولنه د سرچينو د راويستنې له شرکتونو سره په خبرو او مذاکرو کې شاملې کړي او پوهه يې د اړتياوو او لومړيتوبونو په بنسټ لوړه کړي، د ټولنې د حقوقو لپاره يې د ملي او نړيوالو قوانينو په چوکاټ کې

د ټولنې دا ډول پروتوکولونو ته د افغانستان په ګاونډيو هېوادونو کې پراختيا ورکړل شوې ده، (په ايران کې کوچي او کليوال قبايل، اوښ څروونکي، مالداران، په هندوستان او پاکستان کې دوديز طبيبان) په افريقا او همدارنګه په مرکزي او جنوبي اسيا کې. د ګانا هېواد ټولنې له دې پروتوکول څخه د ګډې همکاري لپاره له کانانونو د راويستنې له يوه استراليايي شرکت څخه ګټه اخيستې ده. ۳۴۲ خنډونه

په عرفي قانون پوره تمرکز (ملي او نړيوالو قوانينو ته په نه پاملرنې سره) کېداي شي ښځې د خپلو ټولو خنډونو او اړتياوو له وړاندې کولو څخه په بشپړه توګه بې برخې کړي. ټولنې بايد وهڅول شي چې دې دغه پروتوکول ته په يوه مشارکتي، معني لرونکي او ګټور انکشاف ورکړي. کيداي شي دغه پروسه، د اختلافونو او شخړو لامل شي چې دې چارو ته بايد پيشبيني شي، مخنيوي يې وشي او په سمه توګه ترسره شي. د دې پروسې پراختيا نه شي کولاي د ټولنې د روڼ اند يا هم بهرنيو اړخونو له خوا تعديل او يا بدلون ورکړل

د اجتماعي اغېزو د ارزونې آسانتيا

د څارونکو اغېزو د ارزونې کمزوري

د ژوندانه چاپېريال او اجتماعي اغېزو اروزنه، د پرمختللو کشفونو په بهير کې د ګټه اخيستنې د جواز د ورکړې لپاره يوه څارونکې اړتيا ده (۴ مه برخه وګورئ)

د سيمه ييز او اجتماعي ژوند دغه ارزونه چې د اړونده شرکتونو له مشاورت سره ترسره شوې ده د عمده کمزورو ټکيو لرونکې ده:

دلته د شرکتونو د تماميت او امانت داري په اړه هم موضوعات مطرح کېږي: د EAI سلاکارانو خپل راپورونه NEPA ته نه بلکې د کانونو د راويستنې يوه شرکت ته يې ورکړي دي. دغه موضوع شرکت ته دا امکان ورکوي چې د EAI د راپور منځپانګه د NEPA تر تسليمي مخکې په خپله ګټه تعديل او بدله کړي. يوه بله اړونده موضوع داده چې دا شرکت له EIA سره يوه اندازه اداري تشريفات له لارې د جواز غوښتنه کوي) دغه راښيي چې دوي د اغېزمن تطبيق قصد او يا هم له اصلاحي اقداماتو څخه د څارنې لپاره په ESMP کې وړانديز شوې نه لري.

په داسې حال کې چې هيله کېږي د EAI لپاره به د سلاکارانو راپور، خپلواک، حرفه يي او لوړ کيفيت ولري خو بيا هم د ګټو د تضاد EAI سلاکارانو ته پيسې ورکوي. دا په دې معني ده چې د پروژې د ژوندانه د چاپېريال منفي اغېزې بې ارزښته وښيي، له همدې امله د

دلته د پوهې او سيمه ييزو ګټو موضوع هم مطرح ده: په داسې حال کې چې کېديا شي د EAI سلاکاران ډېر د باور وړ او متخصصين وي، خو د ځمکې او سيمه ييزو ټولنو په اړه د بهرنيو سلاکارانو پوهه هېڅکله هم د سيمې د خلکو په اندازه نه وي. سلاکاران څو ځله د ټولنې د مهمو موضوعاتو په پوهېدو کې ناکام شوي دي او دغه پروسه په يوه ارزښت لرونکي سېستم کې ځاي په ځاي شوې ده چې سيمه پيژندنه او پوهه کم ارزښته کوي. يوازې سيمه ييزې ټولنې د شرايطو، اړتياوو، ارزښتونو او وضعې په اړه په بشپړو جزياتو پوهېږي. همدارنګه د سيمې خلک د EAI د کار په پايلو کې تر بهرنيو سلاکارانو ډېرې پټې ګټې لري.

په ډېر ګمان سره د څارنې د اغېزو ارزونه د بنسټيزو کارونو او کافي سرچينو د کمښت له امله د لاسته راوړنو او توصيو د ډاډ لپاره

د ټولنې تر مشري لاندې د اغېزو ارزونه

د ټولنې تر مشري لاندې (يا د ټولنې تر کنټرول لاندې ) د اغېزو ارزول يوه پروسه ده چې د اطلاعاتو د توليد، پوهې او د يوې پروژې د احتمالي اغېزو د پېژندلو لپاره، د ټولنې د خلکو له پوهېدو سره سم، د پروژې په اړه په ټولنه کې بېلابېلې ځرګندونې، د دې اغېزو د ادارې او کمولو لپاره مناسبې ستراتيژي او د پروژې د ګټې ډېرول د ټولنې له خوا طرحه او رهبري کېږي. د اغېزو د دې ارزونو هدف او ځرنګوالي کولای شي په يوه ټولنه کې د روغتيايي وضعيت، هوساينې، فرهنګ، د ژوندانه د چاپېريال، بشري حقونو، اقتصاد او يا له پورته توکي د سيمه ييزې ټولې، په استراليا، کاناډا، غانا، کلمبيا او فلپين کې د اصلي او کليوالو ډلو، له خوا او همداراز د خلکو د

د ټولنې تر مشري لاندې د اغېزو د ارزونې ارزښت

د ټولنې تر مشري لاندې د اغېزو يوه ارزونه د انديښنو د وړاندې کولو او تر ټولنې پورې اړوندو موضوعاتو ته يو وړ چاپېريال رامنځ ته کوي. د اغېزو دغه ارزونه د پروژې د اغېزو او د دوی د ځرګندونو په اړه د ټولنې په پېژندلو سره، د دې لپاره چې څنګه کولای شو پروژه په اغېزمنه توګه مديريت کړو، ارزښت ورکوي. او همدارنګه مشروعيت، قدرت او د سيمه ييزې پوهې وړتيا د سرچينو د مديريت کولو لپاره چې ژوند اغېزه پرې کړې وي په رسميت پېژني. همدارنګه دوی د اطلاعاتو د تبادلې لپاره له وړ ميتودولوژي او کانال څخه استفاده کوي او هم د ټولنې چلندونه تر ممکنې اندازې پورې له وړانديز شوې پروژې سره سم عياروي او په څنګ کې مرسته کوي چې د سيمې د خلکو د ګډون او اړيکو وړتياوو ته پراختيا ورکړي.۳۴۶
دې پروژې ته ورته د ټولنې پروتوکول او مشوره، او همدارنګه د ټولنې تر رهبري لاندې د اغېزو ارزيابي کولای شي، په ټولنه کې د انکشاف په اړه د شخړو په اوارې او اداره کولو کې کليدي رول ولوبوي. دليل دا دی چې دغه پروژه پراخه ډلې لري او ګټې يې له پروژې سره سمې تشخيصوي او يو مناسب چاپېريال چې په هغې کې دغه موضوعات تر خبرو او پلې کېدو لاندې راځي، رامنځ ته کوي.۳۴۷ د ټولنې تر رهبري لاندې د اغېزو يوه ارزونه، همدارنګه د سرچينو د راويستنې د پروژې په اړه د باور وړ او بشپړ معلومات وړاندې کوي، هغوی پياوړي کوي چې په اغېزمنه توګه د عامه ګډون له لارې د خپلو حقوقو د تر لاسه کولو لپاره د ژوندانه د چاپېريال د قانون په چوکاټ کې برخمن شي.

د ټولنې تر مشري لاندې د اغېزو د ارزونې د پروسې ځرنګوالي

د ټولنې تر مشري لاندې د اغېزو د ارزونې پروسه کولای شي په لاندې څو طريقو ترسره شي:

۱. خپله د ټولنې په واسطه. د ټولنې او يا د باور وړ نادولتي سازمان په استازيتوب يوه ډله کولای شي دغې پروسې ته د کتنو او ويلو د زده کړو له لارې آسانتيا ورکړي او ټولنې ته د هوساينې او سوکالي شاخصونه ور وپېژني، او همدارنګه د اغېزو د ارزونې پايلې تشخيص او راټولې کړي او د ټولنې په مشري به د بشري حقوقو د اغېزو د ارزونې يوه بېلګه وي.(دغه برخه په " سند او ځارنه" او د هغې په فرعي برخه کې "د اغېزو ډولونه" وګورئ)

۲. د ټولنې له خوا د يوه سلاکار په کار ګمارنه. د ټولنې استازي کولای شي، د اغېزو د ارزونې په برخه کې يو سلاکار چې په اړونده برخه کې تخصص ولري او د ټولنې د تاييد وړ وي اجير او په کار وګماري. د سلاکار رول دا دی چې ټولنې ته د اغېزو د ارزونو لارو په اړه مشوره ورکړي، د سيمې خلکو ته زده کړه ورکړي، د پروژې له خونديتوب سره مرسته وکړي او د پروسې تمويل اداره ۳۴۸

دې ته له پاملرنې پرته چې له کوم ميتود کار واخيستل شي، په دې پروسه کې د معلوماتو او مشورو شريکول، دې ته په پام سره چې د ځارل شوو اغېزو له ارزونې سره به توپير ولري. د سلاکارانو له خوا له ټولنې سره د معلوماتو شريکول يوه اړخيزه پروسه نه ده، بلکې يوه تکراري او په سيمه ييزه ژبه د ليدلو وړ پروسه ده. مشورې يوازې د ټولنې د ځرګندونو د اسناد کولو او ټولولو يوه فضا نه ده، بلکې په ټولنه کې د پوهې د راوړلو او د بېلابېلو ځرګندونو هوکړه ده. ۳۴۹

د ټولنې تر مشرۍ لاندې د اغېزو له ارزونو استفاده

د ټولنې تر رهبرۍ لاندې د اغېزو یوه ارزونه کولای شي په بېلو طریقو سره د ګټې وړ وګرځي. له ډلې څخه یې د راتلونکي عامل په توګه د څارونکو اغېزو ارزونه د پروګرام د کمښت لپاره د وړاندیز د بهتره کېدو د شاهد او د پروژې پر اقتصادي عمر، د څارنې د پایلې لپاره یو بسنټ چې په ټولنه ولاړ وي.۳۵۰ د بېلګې په توګه: تاسې کولای شئ، د اغېزو پایله، د ټولنې تر مشرۍ لاندې، د ESIA عامه څارونکي ګډون په پړاو کې په اغېزمنه توګه ووینئ، دا کار تاسې ته اجازه درکوي هغه څه چې سلاکارانو نادیده نیولي پرتله او در وپېژني. په ټولیزه توګه تاسې کولای شئ د سلاکارانو د چاپېریالي او ټولنیزو اغېزو ارزونه د ۲۰۰ لاربښود په کارولو سره چې د ELAW له خوا د تخنیکي سلاکارانو په مرسته تیار شوي دي و ارزوئ.

د ټولنې د پراختیا د هوکړې په اړه مشوره

د مذاکرې وړ هوکړو په اړه

د بېلابېلو هوکړه لیکونو له ډلې څخه یو شمېر کولای شي، د سیمه ییزو ټولنو، د کانونو د راویستنې د شرکتونو، دولت (سیمه ییز یا مرکزي)، په منځ کې د کانونو د ټولو پړاوونو د خبرو وړ وګرځي. دغه هوکړه لیکونه چې د تفاهم لیک، مرام لیک (LoI)، د مشورې هوکړه، د ټولنې د پراختیا په اړه هوکړه (CDA) او یا هم د سود په اړه هوکړه (IBA) په کې شامل دي.
په عمومي خبرو کې د ټولنې د پراختیا هوکړه (CDA) د سود د هوکړې (IBA) په نوم هم یادېږي چې د شرکتونو (خصوصي او یا عمومي) او د شرکتونو په عملیاتي سیمه کې د سیمه ییزو ټولنو د استازو تر منځ د مذاکرې یو هوکړه لیک دي چې د پرمختللو کشفونو په جریان کې او د عملیاتو له پړاو مخکې پرې هوکړه شوې ده. د زده کړې په دې لاربښود کې موږ ټولو هوکړه لیکونو ته د CDA اصطلاح کاروو چې عبارت دي له: ( MoU, LoI, CDA or IBA) څخه.
CDA په هڅه کې دي چې له منفي اغېزو وپېژندل شي، د مخنیوي پروژه او یا هم لږ تر لږه کم کړل شي او د سیمې ټولنې د منفي اغېزو په وړاندې چې ځان ساتنه ترې نه شي کېداي، خساره یې جبران کړي او همداراز سیمه ییزو ټولنو ته ډاډ ورکړي چې هغوی به د پروژې په یو څه ګټه کې شریک کړي چې له دې پرته به دوی ته دا ګټه ورنکړل شي. دغه امتیاز ورکول کولای شي د کار او کسب، بوختیا، د ښوونې او روزنې له لارې په بشري پانګه پانګونه، زده کړه، د ټولنیزو خدمتونو او زېربناوو تمویلول او د پروژې له عوایدو

تر ټولو مهم دا چې، CSAs د وړاندوینې او د شرکتونو او ټولنې تر منځ د شخړې د مخنیوي لپاره، د خبرواترو د یوه کانال رامنځ ته کولو، د مخکې اخطار ورکولو سېستم او هغه عملیات دي چې د ستونزو او اړو دوړ چې په اوس وخت کې د راپورته کېدو په حال کې دي د حل لامل شي.
۲۷ شکل په چاد کې د نفتو په اړه کارټوني خبرې اترې۳۵۲

د CDA هدفونه د پړاوونو او د کان د راویستنې د پروسې د ډول په بنسټ توپیر لري. دغه هدفونه کولای شي شامل وي په:
سیمې د اوسېدونکو په کار ګمارل
سیمې خلکو سوداګریزو موکو ته لاسرسي (د سیمې له وړتیا سره سم)
سیمې د خلکو لپاره ښوونیز فرصتونه
ځمکې د مالکینو لاسرسي چې ځمکه اجاره کړي شي، البته د ایمیني دلایلو په پام کې نیولو سره
اید مشترک کول، د یوه هېواد د تاریخي دلایلو په بنسټ سلطنتي کورني ته د ورکړې په ګډون
ه پروژه کې پانګونه

.۵۱ د کان د کارکوونکو لپاره له بېلابېلو فرهنګونو سره د چلند زده کړه

.۵۲ امنيتي هوکړه ليک

.۵۳ د ژوندانه چاپېريال او د وروستي پروګرام جوړونې په مديريت کې د ټولنې ګډون

.۵۴ د سرک، اوسپنيزې پټلې، د برېښنا توليد، د اوبو راويستنه، د منرالونو پروسس او د منرالونو د کيندنې له لارې د منرالونو د لېږد رالېږد د اغېزو مشخص کول

.۵۵ د منرالونو د ارزښت او يا حجم له لارې، نغدي ورکړه




د CDA په اړه موضوعات:

پايداره او عادلانه نتايجو ته زمينه چمتو کوي، خو په هغه صورت کې چې د ټولنو او پانګه اچونکو تر مينځ د چنو وهلو fundamental equality in bargaining په چنې وهلو کې له مساواته پرته، CDA خلکو ته د استخراج په پروسو کې د جعلکاري او تقلب موقع برابروي.

په دې مرحله کې په چنې وهلو کې مساوات او په مذاکراتو کې دقت چلينج ورکونکي ( incredibly challenging ) دي. دا چلينج د مدني ټولنو د پياوړتيا له پاره يوفرصت چمتو کوي، تر څو د محلي ټولنو له پاره تخنيکي ملاتړ چمتو او په لوبه کې توازن وساتي. له بل لورې د دې لامل هم ګرځي چې مدني ټولنې په پروسه او مذاکراتو کې دخيلې کړي. په دې برخه کې مو د ځينو هغو ستونزو او چلينجونو ليست چې وړاندوينه يې کېږي، چمتو کړي دي:.

CDA مذاکره يوه اوږده او وخت نيونکې پروسه ده تر څو ټولنې وکولای شي چې خپل ځانونه مذاکراتو ته چمتو کړي. له همدې امله د CDA له پاره د تخنيکي وسايلو تيارول او مذاکرات دوه، درې کاله وخت غواړي. د مذاکرې دا پروسه بايد د کانونو تر استخراج مخکې پای ومومي. CDA بايد د مشارکتي څېړنې له پاره تر پنځو کلونو پورې اړونده او ضروري مقررات ولري، تر څو په دې وتوانېږي چې د دوهم ځل مذاکراتو له پاره چې د CDA د شرايطو په اړه دې تياري ولري. تاسو کولای شې چې د ټولنو د پوهې د کچې په لوړولو، له ټولنو څخه ملاتړ وکړي تر څو په لنډ وخت کې د CDAد مذاکرې له پاره مثبت او منفي اړخونه وټاکي.

CDAsارزيابي ته په کتو سره. د دې له پاره چې د ټولنې اړتياوو او ګټې ته پام وشي، دا پروسه بايد پر يوه بشپړه ارزيابي ولاړه وي، داسې ارزيابي چې اغېزې يې پر سيمه ايزو ټولنو پرتې وي او ګټه ور ورسوي. په دې کې چاپېريال، اجتماع، اقتصاد او د پروژې بشري په ټولېزه توګه د ټولنې ګټې او پر دوی منفي او مثبتې اغېزې په ځان کې نه رانغاړي، بلکې دا د CDA د مذاکراتو د پيل له پاره يو تهداب ګڼلي شو، داسې تهداب چې لا ستونزې لري او ډېر کار بايد ورباندې وشي. تاسو کولای شې چې دې ستونزو ته هغه مهال د پای ټکی کېږدي چې ارزيابي اسانه او په دې برخه کې پر ټولنه اغېزو ته پام وکړي.

CDA پايله ( د ښيګڼو مقياس او د خساراتو د جبران او کمولو له پاره اقدامات ) له يوې خوا د ټولنو او د ځمکو د خاوندانو نسبي چنې وهل او له بل لوري هغه شرکتونه په ځان کې رانغاړي چې د کانونو د استخراج مسوليت لري. د چنې وهلو دا قدرت په ټولنه، د سياسي محلي سازمانونو په پياوړتيا او کمزورۍ، بشري قدرت، محلي ټولنو ته د مالي او معلوماتي سرچينو په اړه د معلوماتو او د کانونو د استخراج په برخه کې د ټولنو د پخوانيو تجربو له مخې تعين کېږي. ۳۵۵ تاسو کولای شې چې دا چلنجونه د سازماني ميکانېزم په ملاتړ، او د ټولنې په وابستګۍ لکه د ټولنې پروتوکول، د مالي او تخنيکي ملاتړ تر لاسه چمتو کول، د کانونو د استخراج په اړه هغه معلومات چې تاسو زده کړي دي، له مخې چمتو کړې.

اومشروعيت. دا ممکنه نه ده چې ټوله ټولنه تل د CDA په اړه مذاکره وکړي. د يوې CDA د برياليتوب راز په دې پورې تړلی چې د يوې ټولنې هغه مشروع نمايندګان چې په سميه کې منلي وي او د ټولنې پر ټولو اړخونو پوه وي په مذاکراتو کې برخه واخلي او کارونه

تنظيم کړي. ۳۵۶. که څينې ټولنې له خپلو ګټو محرومه پاتې کېږي، دا د ټولنو د چنو وهلو توان او هوکړه ليک ( توافقنامه ) تر اغېزې لاندې راولي. ۳۵۷ تاسو کولاي شي چې داستونزه په ټولنه کې د پېژندل شويو ميکانيزمونو او د ټولنې ګټو ته په پام او په ټولنه کې مشروع نمايندګانو ته په کتو سره لکه په ټولنه کې د پروتوکول له مخې حل کړي.

د متاثره شويو ټولنو تعريف: دا په خپله يوه ستونزمنه موضع ده. دولت او شرکتونه شايد له يوه کوچيني تعريف سره علاقه ښکاره کړي، تر څو د خساراتو جبران او مخالفتونه را ټيټ او خپله ګټه تر لاسه کړي. کله کله د خلکو د ژوند د سيمې او کان په اړه څو اړخېزه اندازې اخيستنې ته اړتيا ليدل کېږي.

کيداي شي چې دا کار کله کله ډېر ظالمانه وي او د سمېې د اوسيدونکو حق تلف شي. دا ځکه چې څينې خلک په سيمه کې د چاپيريال، فرهنګي او تاريخي ارزښتونو، ټولنېزو ناوړه اغېزو او د بيکاري له امله تاوانويني. په مقابل کې نور خلک ګټه تر ې اخلي او اغېزمن شوي کسان له پامه غورزول کېږي. داسې رپوټونه شته، په څينو سيمو کې مستحق کسان او ګروپونه له پامه غورځول شوي او تاسو کولاي شي چې د پروسې ټولنيزه بڼه ترسيم کړي او په دې اړه معلومات تر لاسه کړي چې ستاسو په سيمه څومره ناوړه اغېزه کوي، په دې توګه به خپل حق تر لاسه کړئ. ۳۵۹

د مالي ښيګڼو عدالت او وېش: دا ديوې موافقت نامې له مخې يوه حياتي موضوع ده. که ټول متاثره شوي کسان له مالي برخې څخه ګټه تر لاسه نه کړي، او يا هم ګټه يې يواځې يوې برخې ته ورسېږي، نو په دې توګه به له مالي برخې ګټه اخيستنه غير عادلانه او نا د هغو خلکو له پاره مالي عادلانه معيار چې منفي شديدې اغېزې يې تجربه کړې دي. دې ستونزې ته هغه وخت رسيدګي کېږي چې د مذاکراتو پروسه شفافه وي، د تصميم نيونې پروسه بايد د ټولنې غړو ته شفافه، ساده او د لاسرسي وړ وي.

CDAs د نورو ذيدخلو لورو لخوا د يوې ځانګړې نتيجې د سپارلو تهد لري. د CDA تطبيق او تحويل عمل ته اړتيا لري او کله کله او يا هم نور اقدامات.

د تطبيق موضوع د اجرا په قابليت پورې اړه لري: که مربوطه شرکت په دې ونه توانېږي چې خلکو ته ګټه ور وسپاري، نو په دې وخت کې د محلي ټولنو لخوا څه ترسره کېداي شي؟ روښانه او واضع ژبه، سم بيان، ځانګړې ژمنې او اهداف، د CDA د ژمنو د تطبيق له پاره مذاکرات، له پروژې څخه په دوامداره توګه منظم او سيستماتيک نظارت او راپور ورکونه، د هوکړه ليک له سره کتل او په دې اړه خبرې، دا هغه څه دي چې دې ستونزو دته د پاي ټکي اېښودلاي شي.

له ټولنو څخه ملاتړ

د دې له پاره چې د ټولنې د پرمختګ په هوکړه ليکونو کې د دې موضوعاتو سم مديريت وشي او ښه نتيجه تر لاسه کړو، په دې بايد يوه شو چې ټولنې سرچينو ته اړتيا لري. دا منابع شايد د مدني ټولنو د موسسو لخوا چمتو شي. په توافق نامې پورې اړونده د ټولنې د لومړنيو اړتياوو منابع چې د مذاکراتو په هوکړه ليک پورې اړه لري،، د مذاکراتو له پاره د ټولنې چمتو کول او يو والي، د ټولنې هغه مذاکره کونکي چې د پروژو له متصديانو سره بايد ووينې. په ټولنه کې د هغو کسانو چمتو کول چې حرفه او تخصص ولري، تر څو د لويو پروژو په اړه مختلط مذاکرات په لاره واچوي. ۳۶۰

د مذاکرې په اړه د يوه ليدلوري له پاره ضروري مهارتونو درلودل، د مذاکرې د نورو اړخونو له پاره د لومړيتوبونو پيژندل او انکشاف، د وړاندېز شويو اهدافو درک، د عوايدو او د خساراتو د جبران معلومول چې له يوې خوا د ټولنې اړتياوې پوره شي او له بل لوري د ټولنې تجارتي ضرورتونه وپېژندل شي. د تطبيق په خاطر د اغېزو د کمېدو طرح، د اجرا وړ او ځانګړي هوکړه ليک، ليکل چې په عين وخت کې له چاپيريال سره جوړ جارې ولري، بدلون منونکي او د پلې کېدو وړ وي.

دا ټول تخصصي مهارتونو ته اړتيا لري، ځکه نو کله کله د بهرنيو کارمندانو استخداملو ته ضرورت ليدل کېږي. د دې ستونزې د له ۳۶۱

هغه لارې چارې چې مدني ټولنې يې په مرسته دې موضوعاتو ته لاسرسي موندلي شي عبارت دي له:

۵۷. د محلي ټولنو له پاره د قانوني او مالي ملاتړ چمتو کول.

۵۸. د ټولنې دمذاکره کونکو له پاره د مذاکرې په اړه د زده کړې د اسانتياوو برابرول.

۵۹. مذاکره کونکو ته دا مشوره او لارښونه کول چې څنگه د مذاکرې CDAs پروخت خپلې خبرې قطع نه کړي او دوي ته له بهرنيو متصصينو سره د ارتباطي لارو پيدا کول.

۶۰. د ټولنې د نورو سرچينو د استخراج په اړه له ټولنې سره د معلوماتو شريکول.

۶۱. د ټولنې د کنټرول، رهبري او ارزيابي په اړه د يوې څېړنې چمتو کول.

۶۲. د ټولنې د استازېتوب د سيستم د حمايت له پاره د ټولنې د پروتوکول اسانتياوي چمتو کول. همدارنگه مدني ټولنې کولاې شي چې د سيمې خلکو ته مشوره ورکړي، چې څنگه په گډه د دې ستونزو مخه ونيسي. ځيني راپورونه وايي چې ډېر وخت يواځې يوه زوررور شخص د نورو خلکو په نمايندگي په مذاکراتو کې برخه اخيستې، حال دا چې دا شخص نه مشاور دی او نه هم حقوقي وکيل.۳۶۲

د ټولنې له پاره يو بل مهم ټکي دا دي چې بايد د کانونو د استخراج په منفي او مثبتو اړخونو پوه شي، مدني ټولنې بايد دوي وپوهوي چې د کانونو د کېندنو پر مهال په ټولنه کې کوم بدلونونه راځي، په تېره بيا ټولنېز او د چاپيرال بدلونونه. مدني ټولنې بايد د کان تر استخراج مخکې په سيمه کې ټول حقايق وڅېړي، په دې بايد پوه وي چې سيمې مخکې تر کېندنې څه ډول بڼه لري، شرايط يې څه دي او اوسېدونکي يې په څه ډول چاپيريال کې ژوند کوي. دوي بايد ټول بدلونونه نظارت او وليکي. دا نظريات بايد د عملياتو په پيل او د کار په جريان کې هم له پا مه ونه غوځول شي. دا ثبت شوي اسناد په له مدني ټولنو او د سيمې له خلکو سره مرسته وکړي چې کافي شواهد په لاس کې ولري او که د کان د استخراج له امله متضرره کېږي، نو د دې اسنادو له مخې به تاوان وغواړي. په دې بره کې دا د نظارت او سند جوړونې مختلفې اغېزې.

انفرادي که جمعي نظارت ؟

دا ستاسو په تصميم پورې اړه لري چې څه ډول نظارت وکړي ( له کومو اغېزو او کومو ستندرډونو څخه کار واخلي ) او نظارت مو بايد څنگه وي ( له سنتي لارو چارو څخه استفاده کوئ که نه، علمي او هغه لارې چارې په کار وړي چې پر مشاهدو ( ليدنو) ولاړې دي). دا د نظارت او پر خلکو د نظارت پر نتيجې، اغېزې لري. له خلکو هم بايد وپوښتل شي چې څه ډول نظارت غواړي او د کوم ډول نظارت پلوي کوي. ايا دا ډول نظارت دوي ته د منلو وړ دي که نه؟ که تاسو د يوه مسلم او روښانه څه په اړه نظارت کوي، لکه د يوه پل ارتفاع معلوموي او يا هم د يوه سړک د عرض په روښانه کولو کې نظارت کوي، نو دا کار که د يوه کس لخوا هم تر سره شي، نور بې ويني او په دې توگه د نورو له ديده هيڅ هم پټ نه شي پاتې کېدلای.

خو که تاسو له يوه داسې څه څخه نظارت کوي چې اندازه کول يې ستونزمن کار وي، او د حساسيتونو د پارولو وېره ورسره وي، نو دا کار ستونزمن دي. په تېره بيا هغه موضع چې ډېر علتونه لکه اوبه، چاپيريال، فرهنگي اغېزې، اجتماعي عوامل او نور ورسره تړلي وي. په دې توگه ډېر احتمال شته چې دا ډول نظارت خلکو ته قناعت ورکونکي نه وي، په دې توگه به د خلکو او نظارت کونکو تر مينځ شخړې را پيدا شي، د دوي د بحث ډېره برخه به پر دې وي چې څه، په څه ترتيب بايد نظارت شي او له کومو ستندردونو څخه بايد استفاده وشي.

په ياد ولري چې موږ په پيل کې دې ته اشاره وکړه چې ستاسو په وړاندې يوه لويه ستونزه د علت، معلول او د مسوليت ايجادول دي. د بېلگې په توگه: ولې په يوه سيمه کې اوبو ته لاسرسي کم دي او په بله سيمه کې ډېر، ايا په رښتيا هم د اوبو سطح ټيټه شوې ده؟ څنکه دا واقعيت درک کولاې شي؟ ايا دا ستونزه د کانونو د استخراج او تر ځمکې لاندې د سمڅو د کېندلو له لاسه را پيښه شوې ده که نه عمومي وچکالي ده؟ يا اوبو ته اړتيا څو برابره شوې ده، ځکه نفوس ډېر شوي او روښانه ده چې ډېر خلک، ډېرې اوبه مصرفوي. که دا ټول علتونه د اوبو په کموالي کې رول لري، نو څوک په کومه سطح کې مسول دي؟

همدا خبرې دي چې د نظارت په کټو او اهمیت باندې پوهېږو. تاسو باید په پیل کې له دولتي مقاماتو ( که په سیمه پورې اړه ولري که په مرکز پورې ) او تطبیق کونکو کمپینو ( مخصؤصا استخراج کونکي، مدیران، عرضه کونکي، پیمان کاران...) سره اړېکې ونیسئ او په قانوني توګه په دې اړه خبرې وکړئ. له بل لوري د اړتیا په صورت که په سیمه کې له دیني عالمانو اونورو مخورو کسانو سره خبرې کول هم اړین دي. په دې توګه به یو داسې توافق تر لاسه شي چې له چا سره باید مرسته وشي، څوک مرسته ورسره وکړي او په څه تر تیب نظارت کول ضروري دي. دا ډول اړېکې د ډېرو ستونزو د راپیدا کېدو مخه نیسي.

ژر مه نهیلي کېږي، ځکه دا ډول توافق ډېرو منلو، لیدنو او بحثونو ته اړتیا لري، تر څو یوه داسې نتیجه تر لاسه شي چې ټولو خواوو ته د منلو وړ وي. کله کله شاید یوه درېیمګړي ته ضرورت پیدا کړي، خو د داسې کس پیدا کول په زحمت ارزي، ځکه شاید دولت او یا هم کمپني پر تاسو باور ونه لري او په موضؤع کې درېیم کس هم دخیل کړي. که تاسو پر یوه توافق سره سلا شي نو دا کار به په راتلونکي کې د ډېرو شخړو او نا باوریو مخه ونیسي. له خپلو هڅو مه نهیلي کېږئ، څومره چې بحثونه او خبرې ډېرې وي، په هماغه اندازه د باور فضاه رامینځته کېږي او توافق ته لاره هواروي. په دې توګه به مدني ټولنو هم په ښه توګه خپل مسولیت تر سره کړي وي او اعتبار به يې لا پیاوړي شوي وي.

د یوې ابتدایي مطالعې تر سره کول

د عکسونو، ویډیو، نخشې او اظهاراتاتو له مخې یوه ابتدایي مطالع د دې ښودنه کوي چې د پروژې تر پیل کېدو مخکې د ټولنې اوسنی وضعت په څه ډؤل دي. ابتدایه یا لومړنې مطالعه شاید لاندې برخې ولري:

د اجتماع نېټه، د هغو خلکو شمېر چې په دې سیمه کې ژوند کوي، د هغې ټولنې د ژوند په اړه معلومات او دا چې عاید يې له کومه دي ( د خوراک او اوبو د اندازې ثبت، خدماتو ته لاسرسي، پر فرهنګ اغېزې ). همدارنګه د ځمکې د مالکیت وضعیت او د ټولنې د غړو د مالکیت وضعیت.۳۶۳ ښه به دا وي چې د ابتدایي مطالعې نتیجه د جنسیت، قومیت، اجتماعي او اقتصادي وضعیت له مخې تفکیک شي.

دا ابتدایي مطالع به د خلکو او مدني ټولنو درک، مقیاس او محتوا (severity, scale and scope ) او د پروژې د تطبیق په صورت کې منفي او مثبت اثرات روښانه کړي. له بل لوري به دا مرسته هم راسره وکړي چې تر استخراج مخکې او وروسته وضعیت په سمه توګه ښکاره شي. ۳۶۴

د بېلګې په توګه، یوه ټولنه ادعا کوي چې د نفتو د زېرمې را ایستل يې د څښاک د اوبو خوند ور خراب کړي دي. که دولت او یا هم مربوطه کمپني ته شکایت وکړي، نو خبره يې نه منل کېږي او ورته وایي چې د اوبو خوند د کان تر استخراج مخکې هم همداسې و او د کان استخراج د اوبو خوند نه دي خراب کړي. که په داسې حالاتو کې ابتدایي معلومات ولرو، نو دا معلومات د خلکو له پاره یو ښه ثبوت ګڼل کېږي. په دې سند کې مخکې تر کان ایستنې د اوبو د خوند په اړه معلومات شته او په دې توګه دوي له مربوطه ادارو څخه تاوان اخیستلای شي. که امکان ولري، نو خلک او ټولنې باید د خپلې سیمې په اړه هغه معلومات ثبت کړي چې په محیط زیست کې رسمي ښه لري. دا د دوي له پاره یو لوي ثبوت دي او که په راتلونکي کې خبره اوږده شي، نو دوي کولای شي چې په محاکمو کې دا اسناد وړاندې او خپل حق وغواړي.

د سند جوړونې او نظارت لارې چارې: ښه دا ده چې ابتدایي اسناد په مستندو شواهدو ولاړ او ستندرد ښه ولري تر څو دا ړتیا په صؤرت کې محکمې ته وړاندې شي. دا کار به د ټولنې اعتبار نور هم لوړ کړي، له بل لوري لیکلي ابتدایي ستندرد اسناد په دې هم ښه دي چې کېدای شي کله کله محکمې د ډېر وخت له پاره وځنډېږي، په دې وخت کې به د استخراج کار دوام ولري او که دا ډول سند موجود نه وي، نو نورې ستونزې به هم پیدا شي.۳۶۵

**د اطلاعاتو ډولونه**

په دې برخه کې د پروژې د پيل او نورو فعاليتونو له پاره مختلف اطلاعات را ټولېږي چې عبارت دي له:

مرکې او ليدنې: په انفرادي او ګروپي بڼه ليدنې او د خلکو د خبرو ثبتول، مځکې له مځکې تحقيق او د وضعيت څېړلو ته اړتيا لري.

د ياد داښتونواخيستل - د عمليې په اړه ټولې مرکې، ګزارشونه، ليدنې، د خلکو خبرې، اخبار، مهمې پيښې. .. او نور په يوه کتابچه کې وليکې. ځان ډاډه کړې چې يا داښتونه مو مستند، او په جزياتو سره ليکلې دي. د هر يا داښت له پاره نېټه، وخت، زمان، مکان، نوم او د خلکو موقعيتونه مهم دي.

د اسنادو تحليل- د دولت او شرکتونو پاليسي، ورځپاڼې، او د غير دولتي سازمانونو ګزارشونه ټول د اسنادو له تحليل سره تړلې دي۳٦٦ تاسو کولاې شې چې دا معلومات د انلاين په بڼه او يا هم په شخصي توګه تر لاسه کړې.

متخصص- په ځينو برخو کې د يوې موضوع د څېړلو له پاره متخصص ته اړيتا لرو، لکه ( دا اوبو د نموني ازمايښت، د کان د قرار داد تفسير، د يوې کمپنې مستقلانه ارزيابي EIA ) او داسې نور…

سروې- له خلکواو د دوي له استازو څخه د امارو، ارقامو او نورو معلوماتو د لاسته راوړنو پوښتنو ته سروې وايي. موږ کولاتې شو چې سروې د تليفون او يا هم مخامخ له خلکو سره د خبرو په واسطه تر سره کړو.

احصائيه /رسمي امار- رسمي امار او ارقام په لاس راوړئ! د بېلګې په توګه، په يوه مشخصه سيمه کې د مشخصو اشخاصو فروفايل، ناروغي، نظافت، زده کړه، د مالياتو ورکړه، او نور… تاسو کولاې شې چې دا معلومات له دولتي انترنټ پاڼو، د ملګروملتونو او نظارتي سازمانونو له ګزارشونو، د نړيوالي روغتيا له انټرنټ پاڼو، يونيسف، يا نظارتي پيمانونو… څخه تر لاسه کړې. دا امار ډېر وخت د شخص يا ګروپ نظريات قوي کوي.

د مخامخېدنو مدارک او شواهد: - که امکان لرې په مخامخ ليدنو کې عکس او ويډيو واخلې. تاسو کولاې شې چې له کان او تر کېندلو مځکې له سيمې څخه هم عکسونه او هم فلمبرداري وکړې. خو له عکس او يا هم فلم څخه تر استفادې مځکې بايد له هغو کسانوڅخه اجازه واخيستل شي چې عکسونه مو تر ې اخيستې او يا مو فلمبرداري ترې کړې ده. شايد ځيني عکسونه محرم وي.

نخشه- نخشې هغه ګټوره وسيله ده چې په لاس يې هم ترسيم کولاې شې. نخشې مختلفې بڼې لري. لکه د دولتي نخشې او يا هم د کمپنې نخشه او يا هم انلاين نخشې چې په هغو کې د کان شاوخوا د منازعې احتمالي سيمې په نښه شوې وي. د بېلګې په توګه، که وغواړو چې د يوې بومي سيمې په اړه تصؤير ولرو، او په دې پوه شو چې پر دې سيمو تطبيق کېدونکې پروژې څومره اغېزه پرېښودلاې شي، نو نخشې ضروري دي. ۳٦۷

صوتي وسايل- تاسو شايد د غږونو ثبتولو او يا هم مشورو ته اړتيا ولرې، د دې کار له پاره د ثبت الې مهمې دي، خو شرط يې دا دي چې مرکه کېدونکې کسان بايد په دې خبر وې چې تاسو يې خبرې ثبتوې.

يا داښت: د ثبت پر وخت ياد اښت اخيسته هم اړينه ده، ځکه کله کله د ثبت الې سم کار نه کوي او کېداي شي چې ان خبرې ثبت نه شي.

مشارکتي لارې چارې:

اوس به په محلي ټولنو کې د معلوماتو د راټولولو په نورو مشخصو لارو چارو خبرې وکړو. دا مشارکتې لارې چارې په خپله د ټولنې لخوا هم رهبري او په کار وړل کېداي شي.

دا لاره د معلوماتو د شريکولو د اسانتياوو، د دخيلو لورو د تحليل او عمل او په ګروپي کارونو کې استفاده کېږي. اصلي اصول يې ۳٦۸

ترسيم او موډل جوړونه_ په دې موډل کې له خلکو غوښتل کېږي چې د خپل ژوند ځيني اړخونه د رنګونو او يا نورو وسايلو په واسطه ترسيم کړي. کېداي شي يو بزګر د کروندې او يا هم درمند تصؤير وکاږي، او د هغو خطرونو په اړه خبرې وکړي چې شايد د ده کرونده ورسره مخ شي. د سيمې خلک کولاې شي چې د خپلو پلرونو څخه په ميراث ور پاتې ځمکې، مقدسات، تاريخي ځايونه، او هغه سيمې چې طبي بوټي لري ترسيم کړي. ترسيم او موډل جوړونه په بحث کې انګېره راولي، وېرې او غوښتنې را مينځته کېږي او د ټولنې اصلي کسان په اساني سره خپلې ستونزې ويلي شي. ۳٦۹

دا ګروپ شايد شپږ او يا هم دولس تنه غړي او يو لاربنود ولري. په ګروپ کې د ګروپ غړي په خپل زړه په ازاده توګه بحث کولاي شي، دا هغه لاره ده چې په عملي کېدو يې د خلکو د تصور په اړه دقيق معلومات، د دوي باور او اربنتونه معلومولي شو.د ګروپ د بحث موضوع يواځې پوښتنه او ځواب نه دي، بلکې يوه وسيع ناسته ګڼل کېږي چې دموضوع ګڼ اړخونه تر خپل پوښښ لاندې راولي. ۳۷۰

د دا ډول مرکو تر سره کېدل،د موضوع په اړه د خلکو عمومي نظريات او د دوي د پوهې کچه را ښيي. که مرکه کېدونکي علاقه وښيي او وغواړي چې د يوې خاصې موضوع په اړه خبرې وکړي، نو په دې صورت کې بايد نورې واضع پوښتې هم مطرح شي، مثلا! نيمه ساختاري مرکې تر ډېره رسمي بڼه نه لري، بلکې دوستانه خبرو ته ورته دي. ۳۷۱

Timelines (زماني جدول)- د خلکو د ژوند د اصلي پيښو ليست به مو په دې وپوهوي چې د يوې پروژې اغېزې کومې دي.د پيښو ارتباط او د هغوي تقريبي نېټې د ارزيابي له ټيم سره مرسته کوي تر څو بدلون او د بدلون علت يو له بل سره وترړي. ( مثلا: د شرکت لخوا له کيماوي مواو څخه استفاده او د اوبو د کيفيت خرابوالي، يا د شرکت په ورتګ سره د خلکو د کرنې پر حاصلاتو منفي اغېزې. ).۳۷۲

په دې مېتود کې له برخه اخيستونکو څخه غوښتل کېږي چې د ټولنې اغېز شيندنکي کسان،ګروپونه او ارګانونه را وپيژني، همدارنګه د افرادو، ګروپونو او ارګانونو تر مينځ د روابطو د ښودلو له پاره له سمبولونو او خطوطو څخه استفاده وشي. دا کار کېداي شي چې د برخه اخيستونکو او دخيلو مراجعو تر مينځ د موضوع په ترسيم کې ګټور تمام شي. ۳۷۳

په دې روش کې خلک د خپل شخصي ژوند په اړه خبرې کوي. دوي د ژوند خوشالونکې شيبې او پيښې وايي، له دې کيسو څخه کېداي شي مهم حقايق تر لاسه کړو، دا يوه غير رسمي لاره ده او د وضعيت په اړه يو بشپړه تصوير راکوي.

په دې روش کې خلکو ته ځينې عکسونه او انځورونه ور ښودل کېږي، له دوي څخه غواړو تر څو راته ووايي چې له دې عکسونو او انځورونو څخه يې څه واخيستل. کله چې خلک د دې تصويرونو ارتباط له خپل شخصي ژوند سره ويني، نو په خبرو راځي او په مينه د موضوع په اړه غږېږي. د تصويرونو ښودل شايد کومه حساسه او مهمه موضوع راوسپړي او د موضوع په اړه بحث ته لاره هواره کړي.. ۳۷۴

په دې روش کې له برخه اخيسونکو څخه هيله کېږي چې يو نقش ولوبوي. دا مهمه نه ده چې نقش د هغه وضعيت په اړه وي چې موږ د لوبې په جريان کې برخه اخيستونکي د دې اجازه نه لري چې خپل نقش يا رول پرېږدي. دا برخه اخيستونکي به په غير مستقيمه توګه د وظعيت په اړه خپل ذهن وسپړي او خبرې به وکړي. دا حرکات به ستاسو پام غير شفاهي اړيکو او رفتارونو ته ور واړوي. تاسو کولاي شي بر خه اخيستونکو ته ووايي چې له معين وخت وروسته خپلو رولونو يا نقشونو ته بدلون ورکړي، دا روش په ځوانو برخه اخيستونکو کې د استفادې وړ دي، خو زاړه او عمر خوړلي کسان هم ګډون پکې کولاي شي. که ماشومان برخه پکې واخلي، نو نتيجه به يې لا هم په زړه پورې وي. ۳۷۵

(Participatory water monitoring)- نه يواځې يوه علمي څېړنه ده بلکې د خلکوتر مينځ باور او اعتماد هم پياوړې کوي. په دې توګه تاسو د خلکو له سياسي، اجتماعي او فرهنګي معلوماتو څخه د خپلې څېړنې له پاره ګټه پورته کولاي شئ. دا روش په ګډه سره يوې موضوع ته د حل لاره موندلې شي، همدارنګه هغه ستونزې هم را برسېره کولاي شي چې له موږ نه پټې پاتې دي.

په دې برخه کې ځينې مختلف فکرونه تر استفادې لاندې راځي. لکه

د ټولنې څخه دوامداره ليدنه، د شرکت له نظارت څخه د ټولنې د ناظرينو خبرېدل او په دې اړه دوامداره څېړنه، له دخيلو لورو څخه د يوې نظرياتي کمېټې جوړېدل ( يوه ګډه حقيقت پلټونکې کمېټه)، او يا هم له يوه مستقل تخنيکي متخصص سره قرار داد. ۳۷۶

۲۸ شکل، حقوق اودموکراسي، د بشري حقوقو د اغېزې ارزيابي




د اغېزو ډولونه:

په دې برخه کې مختلفې اغېزې موجودې دي چې کولاي شو له دې اغېزو څخه نظارت وکړو. د ځینو هېوادونو او مدني ټولنو لخوا یو شمېر وسایل او افزارو ته پرمختګ ورکړل شوي چې په واسطه یې په کار پیل کولاي شو. موږ به په خپلو ورروستیو یا دابښتونو کې د هغو ځایونو نومونه او ادرسونه درته ووایو چې تاسو دا افزار پکې موندلې شي. په دې کې به په ټیټه کچه هغه نظارت او اغېزې هم موجودې وي چې د کانونو له استخراج څخه پیدا کېږي. ۳۷۷ د روغتیا او د ټولنې د رفاه ۳۷۸، پر ښځو اغېزې ۳۷۹، بشري حقوق او چاپېریال ساتنه، ټول پکې شامل وي. ۳۸۰

MoMP شرکت سره یې د جواز د تنظیم له پاره په لاره اچولې دي. دا جواز له تطبیق پرته یوازې په تاخچو کې پاتې شوي دي. مدني ټولنه کولاي شي چې د ESMP د ابزارو او امکاناتو په چمتو کولو کې مهم رول ولوبوي. لکه د اجرا له پاره له مشارکتي شبکو څخه نظارت او د ضرورت پر مهال د کار د بندیدو امر.

کله چې دولت تصمیم ونیسي چې له کوم شرکت سره چېعامه خدمات وړاندې کوي لکه ( د اوبو رسولو شبکه، پلونه جوړول او نور ) قرار داد وکړي، او یا هم یو هېواد خپله عامه شتمني پر یوه شرکت پلوري نو ځیني معیارونه ضرور دي چې باید په پام کې ونیول شي. په دې برخه کې یو قرارداد لاسلیک کېږي تر څو د دواړو لورو وظایف او مسولیتونه روښانه کړي. دا قرار داد ډېر جزیات لري، لکه، خریداري، زماني وخت، قیمت او داسې نور... په دې قرارداد کې شاید د شغلونو پیدا کول، پانګه اچونه، بشري حقوقو ته درناوي او محیط زیست هم راغلي وي. دا ټول د اجراعاتو په تر سره کولو کې مرسته کوي او باید دواړې غاړې درناوي ورته ولري. که شرکت د دې اهدافو په لاسته راوړلو کې بریالي نه شي، د قرار داد له مخې شاید له نغدي جریمې او یا هم نورو اجراعاتو سره مخامخ شي. ۳۸۱

د دولت او شرکت له قرارداده پرته، تاسو کولاي شي چې له دولت سره د قرار داد د توافق پر ټکو، بانکونواو هغه موسسې چې دا پانګه اچونه تر حمایت لاندې راولي، هم نظارت وکړئ.

پور ورکونکي د دې له پاره چې پروژې ته پور ورکوي، غواړي چې ځیني خاص شرایط تحمیل کړي. دا شرطونه شاید په مالي وضع پورې اړه ولري. د بېلګې په توګه، دا یادونه شوې وي چې پیسې به څه وخت ور سپارل



کېږي. او يا هم شايد نور پراخ ساحات په بر کې ونيسي، لکه چاپيريال، د کار معيارونه او نور... شايد دولت هم خپل ځانګړي شرايط ورته وړاندې کړي، لکه، د ځومره شغلونو پيدا کول، او داسې نور... دا معلومات د هغو اجراعاتو په اړه اړين دي چې شرکت يې په نظر کې نيسي. ۳۸۲ .

۲۹ شکل، د نړيوال بانک پر قرارداد نظارت

تاسو کولاي شئ چي د مشاورينو، د قراردادونو د مطالعې او نورو اړخونو له لارې پر دې قراردادونو نظارت وکړئ. ۳۸۳ ۳۸۴

معلومات ورکونکې پاليسي، د د ولت کړنلاره او رکنونه

مدني ټولنې په محلي، ولايتي او مرکزي سطحو د دولت د پاليسي په اړه د اطلاع رسونې مسوليت لري. همدارنګه دوي د هغو شرکتونو د شمېر په اړه هم معلومات ورکوي چې د استخراج په پروژو کې دخيل دي. په دې برخه کې څو کليدي ټکو ته اشاره کوو:

: شفافيت، امنيت، د کان کېندنې او نورې پروسې، موږ دا ټول محلي او کوچنيو ظرفيتونو ته په کتو سره وړانديز کوو.

شفافيت

په افغانستان کې تر دې مخکې هم د قرار دادونو او له دې لارې د عوايدو په اړه شفافيت مهم ګڼل شوي دي. په دې برخه کې د شفافيت په اړه دوو نورو مهمو ټکو ته اشاره کوو:

د يوه ملي انټرنيټي معلوماتي مرکز جوړول:

NRMN کولاي شي چې يو ملي انټرنېټي معلوماتي مرکز جوړ کړي. په دې مرکز کې به د طبيعي سرچينو په اړه وروستي پرمختګونه او معلومات راغونډ او د سند په بڼه محفوظ شي. دوي کولاي شي چې د کان د وزارت اړونده اسناد په پښتو او دري ژبو وژباړي، د افغانسان د استخراجي صنايعو د ابتکار شفافيت د چاپيريال ساتنې معلومات، د افغانستان د کانونو په اړه وروستي خبرني، د پژواک Global Witness)؛ او د کانونو په اړه نور نړيوال معلومات لکه د نړيوال بانک سايټ، GOXI او نور مهم اسناد راټول او د خلکو او مدني ټولنو په واک کې ورکړي. يو ښه مثال يې "په يوګاندا کې نفت ا" ويب سايټ دي چې د يوګاندا د نفتو په اړه هر اړخيز معلومات پکې موندلي شو.. ۳۸۵




Transparency, inclusiveness and trust all depend on stakeholder identification and dialogue.

Zoi NRMN، کولاي شي چې په دې اړه مرسته وکړي. لکه، په افغانستان کې د طبعي زېرمو په اړه د پاليسيو د لنډيز خپرول، په دې اړه نخشې، ګرافونه او نور د ډېرو خلکو پوښتنو ته ځوابونه ويلاي شي. دا کار دا معلومات راکوي چې کوم کان، چېرته او په څه ډول شرايطو کېندل کېږي. د ا لنډې پاليسي د ordiad&Openoil لخوا هم خپرې شوې دي.

د يوې ملي پروسې په اړه خبرو اترو ته زمينه برابرول:

NRMN شايد د کانونو د استخراج، ديموکراسي او انکشاف په اړه د خبرو کولو يو ښه ځاي وي.

دا ډول خبرې په انفرادي او ګروپي ناستو، شخصي ليدنو او نورو اړخونو (دولت، شرکتونه، مدني ټولنې، چاپېريال، اکاډمي او نورو...) سره تر سره کېداي شي. دوي کولاي شي چې د کان د استخراج، قرار دادونو او په دې اړه د نورو برخو په اړه خبرې وکړي. همدارنګه دوي کولاي شي چې د تلويزيون، راډيو، او نورو رسنيو له لارې يو معلوماتي کمپاين پر لاره واچوي او معلومات ورکړي. دوي په دې کمپاين کې د کانونو د استخراج مثبت او منفي اړخونه په ډاګه کولاي شي او په ټوله کې د افغانستان د کانونو په اوسني او راتلونکي حالت غږېداي شي (د زېر بناوو، عوايدو او نورو په اړه معلومات ورکولاي شي). دا ډول ډيالوګونو په لاتينه امريکه کې ښه او مثبته نتيجه ورکړې دي. ۳۸۶

امنيت

په دې برخه کې د دې مهمې مسلې په اړه دوو ټکو ته اشاره کوو:

د رضاکارانه اصولو له تطبيق څخه ملاتړ Voluntary Principles ( VPs)

د امنيتي ادارو لخوا د بشري حقوقو څخه د سرغړونې پر اساس ( ۳ برخې ته مراجعه وکړئ)، په ۲۰۰۰ کال کې يوه مهمه ناسته تر سره شوه. په دې ناسته کې د دولتونو، ګروپونو، د کانونونو د داستخراج شرکتونو، غير دولتي موسسو NGOs او نورو دخيلو ادارو

يو شرکت کولاي شي چې د يوې ځانګړې پروژې په عملي کولو کې رضاکارانه اصول پلي کړي، يو دولت دا توان لري چې په ملي کچه له رضاکارانه اصؤلو څخه ګټۀ واخلي، همدارنګه څو هېوادونه کولاي شي چې د نړې په سطه له دې اصولو څخه استفاده وکړي.

د ا اصول د مس عينک په کان کې د بشري حقونو د ساتنې او امنيت په برخه کې پکار واچول شو. ۳۸۸

مدني ټولنې کولاي شي چې د رضا کارانه اصولو، نظارت، د زده کړې اسانتيا، د خبرو سازماندهي، د اتحاديو په جوړولو او د نورو اړونده مسايلو په اړه د خلکو د پوهاوي کچه لوړه او په دې اړه هر اړخېز معلومات ورکړي.

د منازعو د حل د لارو چارو پياوړي کول:

تر اوسه نه MoMP او نه هم په افغانستان کې په طبيعي سرچينو کې دخيل نور شرکتونه او ادرې په دې توانېدلي چې د منازعو د حل له پاره يو پوخ تهداب کېږدي.

د دخيلو لورو مشارکت: دا مشارکت د دولت يا شرکت هغه ارګان ته وايي چې په دوه اړخېزو خبرو کې ( يواځې د اطلاعاتو د رسولو له پاره نه ) برخه واخلي او له هغو خلکو سره وغږېږي چې د کان د استخراج په صورت کې متضرره کېږي. د دې مشارکت بل هدف دا دي چې دخيلو غاړو ته، په تېره بيا متاثره شويو خلکو ته دا زمينه برابره کړي چې په تصميم نيولو کې برخه واخلي او له حساب، کتاب څخه خبر ووسي.

د مس عينک په کان کې د دولت کړنلارې کومه مثبته نتيجه نه ده ورکړې. ( ۳ برخې "امنيت" ته مراجعه وکړئ ) له بل لورې په دې کان کې د MCC شرکت هم تر اوسه په سمه توګه خپله وظيفه نه ده تر سره کړې. ( له هغو سازماندهي شويو جلسو پرته چې دې شرکت له افغان دولت سره نيولې وې. )

په ساده توګه، دا په افغانستان کې دخيلو لورو او MoMP له پاره يو نوي مفهوم دي. کومو شرکتونو چې په افغانستان کې پانګونه کړې ده، مدرنې او عصري مشارکتي شېوې نه لري، په حقيقت کې هغه چينايي کمپني او د چين نور دولتي شرکتونه چې په بهر کې پانګه اچونه کوي، يواځې د بهرني هېواد له مرکزي حکومت سره مذاکرات کوي او بس. دوي يواځې هغه پاليسي تصويبوي چې د دولت په صلاحيتونو پورې محدوده وي. دا پاليسي د يوه غير فعال مشارکت بڼه لري.




دولتي شرکتونه شايد دا فکر وکړي چې محلي دولت له مرکزي دولت سره منظمې اړيکې، خو په حقيقت کې دا يو ناسم تصور دی. دا شرکتونه شايد د محلي دلالانو په واسطه د دولت مسير تعقيب کړي. چينايي شرکتونه شايد په دې باور وکړي چې د بشر حقوق د غربي هېوادونو له خوا يوه جوړه شوې طوطيه ده او مدني ټولنې هم د غرب لخوا جوړې شوېدي، څکه نو پر دوی باور نه کوي. دولتي چينايي شرکونه په دې کې شهرت لري چې دوي، ډېر وخت له خپل هېواده کاريگر راولي او د سيمې له بشرې قوې څخه کار نه اخلي.

د منازعې لگښت: له مناظرو څخه په متاثره شويو هېوادونو کې تجربو ښودلې چې په دخيلو لورو پورې تړلې مشارکتې شيوې د منفي پايلو او منازعې لامل گرځي. په تېره بيا چينايي شرکتونه دې مناظرو او په ټولنه کې له ستونزو او د مناظرې په مقابل کې د ديناميکي غبرگون د نه موجوديت له لاسه زيانمن شوي دي.

م کال کې يې کارونه په ناڅاپي توگه بند شول.
۲۰۱۲، کال کې په سوډان هېواد کې د سيهو گروپ پر شرکت، د دې شرکت د کاريگرو لخوا حمله وشوه چې په نتيجه کې يې شل
۳۸۹
نويو علمي څېړنو ښودلې چې دا ډول پيښې پر يوې پروژې مستقيم او غير مستقيم منفي اغېزې لري چې په دې کې د پروژې کار په ټپه دربېدلې شي.
ځينې نور مصارف، لکه د امنيت په اړه د کارمندانو زماني مصارف، د امنيتي مصارفو زياتوالي، په پروژه کې د بدلونونو او تعديلاتو د راتگ مصارف، د بيمې لوړ مصارف، د ترانزيټ لوړوالي، د ملکيتونو مادي خسارې، د سرمايې ډېروالي، د پرسونل مصارف ( مړينه، تښتونه، نيول کېدل، د ساتلو له پاره لوړ معاشونه... )، د کمپنې د شهرت کمېدل، د اسهامو بيه، قضايي او دعوايي مصارف او نور هم موجود دي. ۳۹۰
د منازعې د حل لارې چارې کومې دي؟
د کانونو د استخراج په اړه مربوطې منازعې او جنجالونه هغه وخت حل کېداى شي چې د د خيلو لورو تر منځ يو داومداره او روښانه هدف موجود وي. د منازعو د حل له پاره بايد يو سالم مديريت ولرو، داسې يو مديريت چې له هر څه باخبره وي او اگاهانه تـصميم ونيسي..۳۹۱

د لاربښود د خطوطو او د زده کړې د موادو وده يا انکشاف

مدني ټولنې کولاي شي چې د منازعو د له مينځه وړلو د لارو چارو په اړه د دولت او شرکتونو له پاره لاربښونکې مواد چمتو کړي.
تر څو مدني ټولنې او نورې دخيلې خواوې په دې ډاډه شي چې منازعات او جنجالونه نه ډيرېږي بلکې دا کار يې په مخنيوي کې مهم رول لري. په دې توګه به د يوه داسې لاربښود درلودل د خلکو تر منځ د راتلونکيو جنجالونو مخه ونيسي او دا به د افغانستان د سولې له پاره مهم ارزښت ولري. د دې کار پايله به هغه مهال لا ډېره ګټوره وي چې په چمتو کولو کې يې مدني ټولنې، تجارتي ارګانونه او دولت برخه ولري او په ګډه يې چمتو کړي.
په سوډان کې اروپايي اتحادېې همداسې يو مفهوم وړاندې کړ. په دې کې يې هغه چينايي شرکتونه هم په پام کې ونيول چې د دې هېواد د کانونو په استخراج کې برخه لري. د دې مفهوم په جوړولو کې بين لمللي قوانين او رضاکارانه معيارونه هم په پام کې ونيول شول چې په سوډان کې يې د سولې په راوستو کې مهم رول ولوباوه.. ۳۹۲
تاسو کولاي شي چې د رهنما دا اصول نه يوازې شرکتونو، بلکې دولتونو ته هم په پام کې ونيسئ او د لاندې سرچينو وده يا انکشاف هم پکې هېر نه کړي:

۶۳. له منازعې څخه خپل تحليل: په دې برخه کې مشارکتي روش يا ميتود، د طبيعي سرچينو په اړه پر اغېزو او مزاياوو پوهېدل چې له بين المللي قوانيوو سره سم وي، او تر ټولو غوره او اسانه ميتودونه په پام کې نېول کېږي.

۶۴. موجود تحليلونه چې په افغانستان کې د طبيعي سرچينو د متقابله اغېزو په اړه وي، د افغانستان د ديده بان د موسسې لخوا نوي چمتو شوي راپورونه چې د يولړ پاليسيو درلودونکي وي، په دې پاليسيو کې بايد د قرارداد پر مهال محلي دلالان، د ډېرو د سکرو په اړه د کان د استخراجونکو او کمپنيو تر مينځ مديريت او د پوښښ له سيمې تر لاسه کېدونکې ګټه، ټول په پام کې ونيول شي.

۶۵. د مناجعو دحل له پاره لا نور عمومي لاربښودات : د سرچينو داستخراج له پاره چې د International Alert لاربښود ( د دخيلو لورو د مشارکتي موضوعاتو تحليل، دوهم ځل ځاي پر ځاي کېدنه، د خساراتو جبران، بشري حقوق، امنيتي تنظيمات، فساد او شفافيت ) پکې راځي هم شامل دي. ۳۹۳. د " د اکتشافاتو په جريان کې په چينايي ژبه د منازعو حل لارې ) هم بايد دخيلي وي. ۳۹۴ او يا هم د سولې او منازعاتو د له مينځه وړلو په خاطر د چاپېريال ساتنې پروګرامونه چې د ملګرو ملتونو لخوا چمتو شوي دي. ۳۹۵

په کوچيني سطح د کانونوپلټنه او استخراج:

ASM

ASM طلا، لاجوردو، قيمتي او نيمه قيمتي ډېرو په کانونو کې څومره نارينه، ښځې او ماشومان کار کوي. بله مهمه خبره دا چې د دې کاريګرو او شرکتونو کارد کاريګرو څومره خپلوانو ته ګټه ور رسولاي شي، هغه خطرونه او نورې پېښې چې پر دوې منفي اغېزې کوي ( مړينه، اجباري کارونه، تهديد او وېره..) دا په کومه سطح کې دي او




پېښېدل يې څومره شوني خبره ده. په دې پوهېدل هم مهم دي چې د سيمې اوسيدونکو، کاريګرو او د دوي کورني تر کومې اندازې په دې کان پورې تړلي دي، ايا استخراج کونکي مواد د غير قانوني او مسلح کسانو لاسونه ته ور لوېږي که نه؟ په دې ټولو پوهېدل اړينه او ضروري خبره ده.

تاریخ ثابته کړې ده چې په غیر قانوني توګه د کانونو د استخراج مخه نیول، ډېر وخت، ناوړه پایلې لري او ستونزه لا پېچلې کولای شي. خو مدني ټولنې کولای شي چې د کوچینیو کانونونو چې په غیر قانوني توګه ایستل کېږي، مخه ونیسي. دوی کولای شي چې دې کېندنې ته رسمي بڼه ورکړي او په وړه کچه د کانونو د ایستلو ملاتړ وکړي. دا کار به کم تر کمه د وړو کانونو استخراج رسمي او قانوني کړي، خلکو او هېواد ته به یې ګټه ورسېږي او په دې توګه به د غیر مسولو کسانو مخه نیول شوې وي. لکه څنګه چې په شکل کې لیدل کېږي، دا کار به د دې لامل وګرځي چې د وخت په تېرېدو سره د وړو کانونو استخراج د قانون په چوکاټ کې راولي.
۳۹۶. MoMP د ASM د رسمي کولو له پاره ځینې اقدامات تر سره کړي دي. خو مدني تولنې کولای شي چې د دې پروسې په عملي کولو کې لا لوی او مهم ګامونه واخلي.
له دې موضوع څخه د لا ښه درک اخیستلو له پاره دوهم ګام، رسمي کول دي. خو دا کار ستونزې هم لري، خو سم مدیریت، کنټرول او اقتصادي انګېزه دا کار پلي کولای شي. ۳۹۷
مدني ټولنې کولای شي چې په افغانستان کې د رسمي سازي پروسه ASM عملي کړي، خو شرط یې دا دي چې د ثبات لارې، څو اړخېزه والي، په پروسه کې څو برخه اخیستونکو او د دوی ګټي، عامه پالیسي او ابزارو ته پام، د ASM په اړه معلومات او د ASM له Alliance for Responsible Mning ) کانونو له پاره د مسولو اتحادیو لخوا ځیني منابع، د کار نړیوال سازمان،، د پایداره انکشاف نهایي راپور، د کانونو او منرالونو استخراج او په دې برخه کې نور ارګانونه، ۳۹۹ له دې پروسې سره د مرستې له پاره رابللي شو.

سیمه ایز ظرفیتونه

برخه کې یادونه وشوه. د نفتو او کانونو په استخراج کې ساده کاریګرو ته کار کم دي، خو د خلکو او سیمې د اقتصاد د سطحې په اوچتولو کې ضروري ده چې د سیمې له فزیکي توانه استفاده وشي. دا ځکه چې د کان استخراج په مستقیمه توګه د خلکو او سیمې پر اقتصیاد مثبته اغېزې لري، له همدې امله باید سیمه ایز ظرفیتونه وروزل شي، پر دوی سرمایه ګذاري وشي او په دې یې پوه کړي چې په کان پورې اړوند کارونه څنګه په سمه توګه تر سره کولای شي. خو دا کار وخت ته اړتیا لري او عملي کول یې اسانه نه دي. هغه هیوادونه چې د طبیعي زیرمو له مخې غني دي او یا هم هغه هېوادونه چې په یوه نه یوه صورت د دغو زېرمو تر اغېزې لاندې راځي، محلي ظرفیتونه پکې روزل کیږي، پر دوی باندې سرمایه ګذاري کوي او د کان په اړه یې وړتیا لوړوي. په دې توګه دا هېوادونه خپلو خلکو ته کاري زمینې چمتو کوي. محلي ظرفیتونه کولای شي چې د خصوصي سکټور له پاره یو ښه کاري فرصت چمتو کړي، خوپه دې شرط چې نوي جوړ شوي شغلونه د سرچینو د استخراج تر وخته د ډېر مهال له پاره وي. ۴۰۰
مدني ټولنه خلکو ته په کارموندنه کې ډېر رول لري، دوی کولای شي چې دولت، کمپنیو او نورو دخیلو لورو ته په دې اړه معلومات ورکړي چې کان د سیمې د اوسیدونکو د اقتصاد له پاره څومره مهم دي او که سمه ایز ظرفیتونه لوړ او په کار واچول شي نو د سیمې او هېواد پر اقتصاد به مثبت تاثیر ولري او ګټه به یې ټولو ته ورسیږي. خو د سیمې د ظرفیت او پوهې لوړول ډېر وخت او لګښت ته اړتیا لري، خو دا د مندي ټولنو دنده چې د سیمې د اوسیدونکو کاري حق وغواړي.. ۴۰۱
خو که د خلکو د پوهې د کچې د لوړولو له پاره هر عمل تر سره کېږي، باید دقیق وي او پراخه ساحه په بر کې ونیسي.
د MIDAS USAID پروژې د خصوصي سکتور څخه د ملاتړ په برخه کې ښه مثال دي. په دې پروژو کې خلک د کان په کارونو کې برخې اخیستنې ته هڅول شوي، د دوی حقوق غوښتل شوي او دوی ته یې په کان او د کان په نورو برخو کې کاري فرصتونه چمتو کړي دي. دا پروژې همدارنګه تخنیکي ضروري موادو او پالیسیو ته هم اشاره کوي.
ځکه چې تر اوسه SMEs په بواځیتوب سره په استخراجي صنایع کې بریالي نه دي ثابت شوي.

دوي دې نتیجې ته رسیدلي چې د خلکو، کمپنیو او دولت ګډ کار، د هدف تر لاسه کولو ته نږدې کړي او د ښې پایلې د ترلاسه کېدو له پاره دا درې برخې مهمې دي.

ځواب ویل

د پراختیا په حال کې وسایلو د زده کړې د لاربنود تمرکز، د جوړوونکي مشارکت او له نه شفافیت څخه مخنیوي دي. تاسې په عیني وخت کې د احتمالي ضررونو په وړاندې د خسارې د جبران د وسایلو لپاره د حساب ورکولو د رامنځ ته کولو تیاري ته اړتیا لرئ.

د عدالت غوښتلو لپاره پلان جوړ کړئ او د لاس لرونکو کسانو لپاره نقشه برابره کړئ

څنګه چې د مدني ټولنې لپاره وخت او سرچینې محدودې دي، د پوره پوهاوي لرل، د ځواک کارونې او د کانونو د راویستنې د یوې سوله ییزې پروژې لپاره د تګلارو د پلي کېدو لپاره پروګرام له مخکې جوړ شوي دي چې د ارزښت وړ دي. د زده کړې له دې لاربنود څخه ګټه اخیستل له مخکې نه د اطلاعاتو د تر لاسه کولو لپاره یوه لاره ده. د مهرباني له مخې په یاد ولرئ چې د دې معلوماتو د کارولو په وخت کې کوم چې په دې لاربنود کې ځاي په ځاي شوي دي (په ځانګړې توګه د قوانینو په اړه)، تاسې هر وخت اړتیا لرئ چې دغه معلومات بیا وګورئ چې آیا دا معلومات دقیق او نوي دي کنه.

NRMN خپل هدفونه د اغېزناک، روڼ، متوازن، تلپاتې او د سوله ییزې ګټه اخیستونکي پرمختګ لپاره د افغانستان له طبیعي او اقتصادي سرچینو څخه ټاکلي دي. کسیز سازمانونه کېداي شي، ډېر مشخص هدفونه ولري. د دې او یا د سازمانونو د اهدافو په لور د پرمختګ لپاره، یوه ملاتړې ستراتیژي کولاي شي ډېره ګټوره وي، څو وکولاي شي له وخت او محدودو سرچینو څخه ډېره لوړه استفاده وکړي. عدالت غوښتنه یوه ستراتیژیکي پروسه ده چې په تګلارو او هغو لارو چې د خلکو ژوند اغېزمن کوي واک پیداکړي.۴۰۲ په دې پروسه کې په لومړي سر کې د اهدافو ټاکل او د وضعیت ارزونه ځاي لري.

د لاس لرونکو اړخونو د نقشې کاړل یو کلیدي عنصر دي: د خلکو تشخیص (لاس لرونکي اړخونه) چې د نفوس د پرتلې او ارزښت له امله په سېستم کې ارزښت لري. د سرچینو په راویستنه کې، سېستم کولاي شي یو ډېر شمېر توکي لکه ټاکلې سرچینه، د یوې ټولنې د ژوند کولو طریقه او یا د یوې ملي موضوع په توګه راویستنه وي.۴۰۳ په پروژه کې د لاس لرونکو کسانو او د دوي د واک د سیمې د نقشې په کاړلو سره، تاسې کولاي شئ د واک په خوځښت کې د دویم ځلي لپاره توازن رامنځ ته کړئ، همکاران او بالقوه ترون کوونکي تشخیص کړئ، په عدالت غوښتنه کې او د وخت او محدودو سرچینو څخه ډېر متمرکز او ستراتیژیک وي.

دا د لاس لرونکو اړخونو د کښلو لپاره یوه وسیله ده:۴۰۴

۶۶. تنظیم. د لاس لرونکو اړخونو د نقشې د کښلو لپاره په چوکاټ کې یوه ډله بحث سره کړي او یو کس د بحث د آسانه کوونکي په توګه ټاکل کېږي. کار مو د سترګې په یوې لویې دایرې سره چې متحدالمرکز دایرې هم ولري پیل کړئ. مرکز ته تر ټولو نژدې کړي تر ټولو واکمنه کړي وي او تر ټولو لویه کړي لږ نفوذ یا واک لري.



Example of a bull's eye diagram۴۰۵۲Figure

۴۰۶

۶۷. د هوکړې کانون څه دي؟

د هوکړې اړونده ټکي، سېستم او تحلیل پیداکړئ (د سترګې د شکل مرکز) لکه په ملي کچه د کانونو راویستنه، ASM، یوه ځانګړې سرچینه، یوه ځانګړې ټولنه او نور. تاسې کولاي شئ یو او له یوه لوي هدف چې په[1] پړاو کې راغلي وټاکئ.

۶۸. خلک کوم کسان وي؟ د کلیدي تمثیل کوونکو د تشخیص لپاره (د ارګانونو، ډلو او کسانو په ګډون) سرچینه او یا ساحه چې تاسې د تمرکز لپاره هغه ټاکلې ده، یو بحث برابر کړئ. تاسې کولاې شواي د ټولنې د غړو په تشخیص سره یې پیل کړئ او یا هم له دې د لوېې سیېم څخه.

د هر تمثیل کوونکي د واک د درجې او قدرت په اړه تشخیص شوي بحث وکړئ او هغوي ته په همدې بنسټ رتبې ورکړئ. یو سمبول، شمېره او یا یې له نوم سره نورې نښې وکاروئ چې له تاسې سره د دوي د قدرت په ثبتولو کې مرسته وکړي.

۷۰. د سترګو د شکل په قالب کې د خلک کنبل. اوس د سترګو د دیاګرام په شکل کې خلکو ته نښه ورکړئ، قدرت لرونکي خلک د مرکز په تر ټولو نژدې کړي کې ځاي پر ځاي کړئ او هغه چې تر ټولو لږ قدرت لري، مرکز ته په یوه لرې کړئ کې ځاي ورکړئ او نورو ته یې د نفوذ له مخې د پوزې په کړیو کې ځان ورکړئ.

۷۱. بیانښودنه. د پایلو په اړه خبرې وکړئ، وپوښتئ چې څه به پېښ شي، د بېلګې په توګه، که د کلیدي تمثیل کوونکو رول او اغېزه بدله شوې واي، نو په هغو سېستم او هغه چې لږه توانایي لري څه ډول به یې اغېزه پرې کوله. تاسې همدارنګه کولاي شواي، دغه

د دې ترسیماتو په پایلو سره، تاسې کولاي شئ، د خلکو تر منځ د اړیکو په اړه د ډېر فهم لپاره ولري. تاسې کولاي شئ د آیا په څېر پوښتنې مثبتې او که منفي اړیکې دي، کې په اړیکو کې د ډېرې اغېزې لرونکي دي کومې اړیکې ډېرې مهمې دي. وړاندې یې کړئ.

د پروژې او شرکت څېړنه

د عدالت غوښتنې او ستراتیژي ټاکلو په پلان کې یو مهم ګام دي، ستاسې څېړنه د کانونو د راویستنې د شرکتونو د پروژې په ا ړه ده.

د سرچینو د راویستنې د پروژو او شرکتونو په اړه معلومات ټول کړئ (د شرکت د ځانګړتیاوو په اړه، مالکین، پانګه اچوونکي، تګلارې او طریقې یې او همدارنګه

د اجتماعي، ژوندانه د چاپېریال، کړنو، د ژوندانه د چاپېریال، اجتماعي اجراآتو او بشري حقوقو په څېر) په دې برخه کې موږ تاسې ته د هر یو عناصر په واسطه لارښوونه کوو..۴۰۷

د دې څېړنو د ترسره کولو لپاره ډېرې لارې شته دي. که تاسې انټرنیت ته لاسرسي لري، په انلاین توګه د دې موضوع په اړه څېړنو پیل کړئ. په لاندې برخه کې " د یوې ابتدایي مطالعې کول" او فرعي برخه " د معلوماتو د ټولولو لارې" د بشپړ لیست لپاره د څېړنې له لارې مراجعه وکړئ" هر وخت د پیداشویو معلوماتو د یوې کافي اخیستل او له هغه سند څخه چې تاسې له دې ځایه معلومات په کې اخیستل ډاډه شئ.

د پروژې په اړه څه پیداکوي شئ؟

د پروژې د چلوونکي نوم تشخیصاو تحقیق کړئ، د امکان تر کچې د پروژې په اړه اسناد ترلاسه کړئ، لکه د EIA کافي، جواز (د کمښت او راویستنې لپاره)، د مطالعه کولو وړتیا، پرمختیایي پلان او نور هر ډول اسناد.

د شرکت پروفایل او کړي کار څه دي؟

د شرکت بشپړ حقوقي نوم، هغه کال چې شرکت په کې جوړ شوي دي، صنعي ځانګې چې هلته شرکت فعالیت لري، کلني عاید او د دفتر اصلي ځاي وپېژنئ او په اړه یې څېړنه وکړئ. د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د مرکزي دفتر د موقعیت معلومول ډېر ارزښت لري. د بېلګې په توګه، که د یوه هېواد په منځ کې مرکزي دفترونه چېرته چې قانون شرکت ته د معلوماتو د پټ ساتلو اجازه ورکوي، دا ستونزه څرګندېږي چې د پانګونې لپاره جزیات ترلاسه کړي. د کاناډا، په څېر ځینې هېوادونه شرکتونه اړ باسي چې ډېر معلومات خپاره کړي، دغه معلومات له شرکت څخه زموږ پېژندنه آسانه کوي.۴۰۸ معلومات د شرکت د کلني راپور، څارونکو اسنادو او یا هم د شرکت له وېبپاڼې ترلاسه کوو. نه له دویمې سرچینې لکه (خبرونه، مقالې او راپورونه)

د شرکت مالکان څوک دي؟

د شرکت د مالکيت په اړه پېژندنه او څېړنه په دې معني ده چې آيا شرکت خصوصي دي که دولتي؟ آيا شرکت په رسمي توګه راجستر شوي دي؟ شرکت کوم ډول معامله، د توکو او که د اسعارو تبادله کوي؟ آيا تاسې کولاي شئ څارونکو اسنادو ته، په آنلاين توګه د اسعارو تبادلې او يا هم مخامخ لاسرسي ورته ولرئ؟ عمده، اصلي او لوي سهم لرونکي يې څوک دي (هغه چې لوي سهم لري)؟ دغه د پانګه والو لپاره هم دا چاره واقعيت لري. هر چا چې په پروژه کې پيسې اچولې دي او د پروژې د ترسره کولو د څرنګوالي په اړه )

که يو دولتي (SOE) شرکت وي، په دې صورت کې کوم وزارت د دې شرکت د څارنې مسوليت لري؟ دا به تاسې ته اجازه درکړي چې د شرکت لپاره له کوم وزارت څخه معلومات ترلاسه کړئ، ۴۱۰ او شرکت تر کومو شرايطو او محدوديتونو لاندې خپل عملياتي کارونه ترسره کوي.

په يوه شرکت کې پانګه وال څو کسان وي؟

د شرکت پانګه وال لکه دولت، پراختيايي او يا سوداګريز بانګونه وپېژني او په اړه يې څېړنه وکړي. د دې موضوع پېژندل مهم دي ځکه چې ځينې پانګه وال د محيطي او اجتماعي ژوند له اجرااتو سره سم د خپلو پورونو شرايط وضع کوي. دغه پانګه وال په بشپړه توګه د شخړې له مالي لګښتونو خبر دي. (فرعي ځانګې يعنې "ساتونکې تګلارې" ته مرجعه وکړئ، په ۴مه برخه کې)

د شرکت تګلاره او بنسټپاله به څه وي؟

اجرايي او اجتماعي تګلارې، د ژوندانه چاپېريال، بشري حقوق او د شرکت بنسټپاله وپېژنئ او په اړه يې څېړنه وکړئ. د شرکت يوه بنسټپاله د شرکت ارزښتونه او چلندونه تنظيموي، اصلي موضوعات چې شرکت به ورسره مخ شي او همدارنګه د شرکت پروګرام چې دا ډول موضوعات څه ډول اواروي وپېژنئ، د شرکت د کارکوونکو لپاره يو چوکاټ جوړ کړئ، د منلو وړ چلند تعريف کړئ، دا اصول د هر ډول په ځاي او د شرکت له حالت سره د سمو اقداماتو د ټاکلو لپاره د قواعدو او مقرراتو لپاره ګټور دي. بنسټپاله کېداي ۴۱۱

که د شرکت جوړښت پېچلي وي، د اصلي او فرعي شرکت د قوانينو او تګلارو په اړه فعاله څېړنه وکړئ. همدارنګه د فساد ضد قوانينو او د اخلاقي اصولو په اړه څېړنه وکړئ او هغه وپېژنئ. د شرکت کلني راپور، د شرکت د همبشني وړتيا يا CSR، د شرکت وېبپاڼې وګورئ او مطالعه يې کړئ. که د شرکت وېبپاڼه موندي نه شئ يوه کاپي يې په مستقيمه توګه وغواړئ.

يو شرکت کېداي شي د صنعتي اتحاديو د لارښوونو او قوانينو چې شرکت ورپورې تړلي دي تابع وي. لکه د کانونو او فلزاتو د راويستلو نړيواله شورا (ICMM) د کانونو د راويستنې د صنايعو نړيواله ټولنه، د کانونو د راويستنې مسايلو د حل کولو ټولنه او تلپاتې پراختيا، IPIECA او د اجتماعي او محيطي مسايلو لپاره د ګاز او نفتي صنايعو نړيواله ټولنه.

شرکت کېداي شي د رضاکارو د ټولنې غړي لکه د ملګرو ملتونو د نړيوال تړون او د امنيت او بشري حقوقو رضاکارانه اصول وي. د امنيت او بشري حقوقو رضاکارانه اصول په ۲۰۰۰ م کال کې د درې اړخيزه ابتکار په واسطه د دولت، د راويستنې د صنايعو د انرژۍ په برخه کې د شرکتونو، نادولتي سازمانونو (NGOs) په ګډون انکشاف ورکړل شو. دا غير الزامي اصول دي چې يوازې د ګاز، نفتو او د کانونو د راويستنې شرکتونو، د ساتلو، عملياتي امنيت او خونديتوب په وخت کې د بشري حقوقو او بشردوستانه قوانينو په درناوي او ساتلو سره دوي ته لارښوونې کوي.

څه ډول داخلي وجايب شرکتونو ته متوجه دي؟

که چېرې شرکت بهرني وي، کېداي شي د خپل هېواد کورنيو وجايبو ته اطاعت ولري، لکه د همکارس د سازمان لارښودونه او د څو مليتي شرکتونو لپاره اقتصادي پراختيا، د چين د خلکو د جمهوريت د وزارتونو له خوا صادر شوي لارښودونه.

د بېلګې په توګه د چين دولتي شرکتونه (SOEs) د چين د خلکو د جمهوريت د ځانګړې کميسيون او د دولتي پانګو د څارنې او اداري کميسيون ( SASAC ) تر کنټرول لاندې دي. دا په دې معني ده چې دوي د اجتماعي مسوليتونو او حقوقي شخصيتونو په اړه د

( SASAC )، د مرکزي دولت تر مستقيم کنټرول لاندې د دولتي شرکتونو د لاربنودونو تابع دي.۴۱۲ دغه دولتي شرکتونه SOEs د سوداګرې (MOFCOM) وزارت، د ژوندانه د چاپېريال د ساتنې وزارت، او په بهرنيو پانګونو کې د ژوندانه د چاپېريال ساتنې لپاره د هڅو د شريکولو،۴۱۳ له خوا د صادر شوي لاربنود په پيروي اړ دي او همدارنګه په بالقوه توګه د شنه باور چې د چين د بانګدارۍ د څارونکي کميسيون (CBRC) په واسطه صادر شوي او د يوه فرهنګ د پراختيا په اړه د ځرګندونو چې د چين د اوو دولتي ارګانونو له خوا د رامنځ ته شوي له چين بهر شرکتونو د لاربنودونو تابع دي.۴۱۴

د بشري حقوقو، اجتماعي مسايلو او ژوندانه د چاپېريال په اړه د شرکت پخواني کړنې څه ډول دي؟

د اجتماعي، ژوندانه د چاپېريال او بشري حقوق په اړه د شرکت په پخوانيو کړنو څېړنه وکړئ. په نورو پروژو کې د بشري حقوقو په اړه د شرکت سابقه څه ډول وه؟ تاسي کولاي شئ ووايئ دغه شرکت د ساتنې کومې تګلارې ته ژمن دي چې له هغې سره سم عمل وکړي؟ که تاسې انټرنيټ ته لاسرسي لرئ د دې څېړنې لپاره د يوه ښه پيل موکه لرئ، لکه په لاندې شرکتونو کې وېبپاڼو کې د شرکتونو او پروژو د نومونو په اړه:

۷۳. د سوداګرې او بشري حقوقو د معلوماتي سرچينو مرکز، د څو مليتي شرکتونو څېړنيز مرکز (SOMO)، (ټرانز نېشنل فراملي ارګان، د بشري حقوقو کميسيون، نړيواله ببښنه او شنه سوله.

۷۴. په پراخه او تخصصي پوښښ سره نړيوال لوي خبري ارګانونه، لکه الجزيره، رويټرز او بي بي سي. د ملي خبرونو وېبپاڼې.

ارګانونه او د فشار مقامونه

تاکتيکونه

خپل ځان مو وساتئ!

هغوي چې د ځمکې، ژوندانه چاپېريال او بشري حقوقو د ساتنې لپاره عدالت غواړي، ډېري وخت تر حملې، ځورولو، ګواښ، وېرې او تاوتريخوالي لاندې راځي. په دې لاربنود کې هڅه شوې ده چې د همکارۍ او بهبود لپاره ټولې شونې لارې درکړي. په هر صورت که چېرې ستونزه اواره نه شي، نو کېداي شي تاسې اړ شئ چې له مقابله کوونکو لارو سره مخ شئ. دلته يوه اندازه لاربنودونه ورکړل شوي دي.

۷۵. بالقوه ګواښونو ته پام ولرئ. موجوده قوانينو ته درناوي ولرئ چې له ډېرو ستونزو سره مخ نه شئ. تاسې اړ ياست چې فعاليتونه مو په يوه پوره آرام او سوله ييز چاپېريال کې ترسره کړئ.۴۱۵

۷۶. له يوې او يا څو شبکو سره کار وکړئ. ستاسې دوه زړي هېڅکله د پروسې په ګټه نه ده. شبکه کولاي شي ډېره ګټوره وي. د باور وړ او پيژندل شوي متحدين پيداکړئ (خبريالان، حقوق پوهان، موسسې، د سيمه ييز دولت د باور وړ استازي) تاسې کولاي شئ د نورو هېوادونو له فعاليت کوونکو سره په اړيکه کې شئ. هغوي کېداي شي ستاسې د شريک کولو لپاره ښې مشورې ولري.۴۱۶

۷۷. يوه بهرني همکاره موسسه چې ښه شهرت ولري او وکولاي شي ستاسې د کارونو له وضعې څخه په منظمه توګه څارنه وکړي درته وټاکئ. تجربو ښودلې ده د خونديتوب او د بشري حقوق د مدافعينو د هوساينې لپاره د يوې بهرني موسسې څارنه کولاي شي د ګواښونو او بدو ګټې اخيستې په وخت کې ګټور واقع شي. د همکارې موسسې د ټاکلو په وخت، ډاډه ترلاسه کړئ چې د ستونزې په وخت کې به هم له تاسې سره کار کوي.

۷۸. د منظمو کړنو ارزونه چې د اړو دوړ د ډېروالي لامل کېږي او هغه کړنې چې کولاي شي اړو دوړ تر ټولو لږ حد ته راورسوي. په ډېرو چارو کې د بهرنيو موسسو ګډون کولاي شي ستاسې خونديتوب عالي کړي، په ځينو چارو کې کېداي شي اغېزه ونه لري او آن کېداي شي وضعيت سخت کړي او يوه بده امنيتي وضع جوړه کړي.

۷۹. د ټليفون، برېښناليک، او ويا فکس د کارولو په وخت کې د ځان او چا سره چې اړيکه لرئ خونديتوب ته فکر وکړئ، تر يوې کچې شخصي اطلاعات شريک کړئ. د بېلګې په توګه، آيا ستاسې لپاره هر وخت ستاسې د اړيکو پته ستاسې د کار له ځاي څخه خوندي ده؟ او يا هم ستاسې د اړيکو لپاره ستاسې کور درته خوندي دي.

آرامه عدالت غوښتنه

که سيمه ييزې ټولنې او يا مدني ټولنه د وېرې احساس وکړي او يا هم د پروژې د اغېزو په اړه اندېښنه ولري، لومړي ګام دا دي چې اندېښنې يې د پروژې له پلي کوونکي او چارواکو سره شريکې کړي. دا کولاي شي په مخامخ توګه يې د غونډې په واسطه د عامو له پاملرنې پرته ترسره کړي. کېداي شي شرکت او يا مقامات ستاسې له اندېښنې څخه خبر نه وي. که په يوه غيررسمي لاره او لږ مقابلې سره يې پيل کړئ، تاسې ته موکه درکوي چې په يوې جوړوونکې او ګټوې کتنې سره باور جوړ کړئ او خپلو ستونزو ته د رسېدو لپاره مو ښې اړيکې جوړې کړئ.

یوه شکایت پاڼه یا عریضه وړاندې کړئ

يو شکايت لرونکي ليک، له داسې ليک عبارت وي چې د ټولنې د غړو او يا د مدني ټولنو د غړو له خوا د اندېښنې مسولو مقاماتو ته لېږل کېږي. يوه عريضه عبارت له هغه ليک څخه دي چې د ټولنې د غړو د لاسليک او ګوتې ابېښودو لرونکي وي چې له عريضې څخه د هغوي ملاتړ ښيي. ښه به وي چې په عريضه کې لاندې توکي هم شامل وي لکه: د لاس لرونکو کسانو نومونه، د موجوده وضعيت توضيح او تشريح، د ضررمنې سيمې په اړه توضيح او هغو کسانو چې په دې سيمه کې ژوند کړي او په دې سيمه کې يې د ژوند وخت مشخص کړي، مناسب قانوني مراجع، د مقاماتو او ټولنو له خوا د اقداماتو نيول او يوه بيانيه چې تاسې له چارواکو او کمپنيو څه غواړئ د دې لپاره چې څه وشي او څه ونه شي.۴۱۷

د ليک په پاي کې د يوې کتنې غوښتنه کولاي شي يو ښه نظر وي. که مو دا غوښتنه وکړه، دا مشخصوي چې تاسې تر څه وخته د ځواب په تمه ياست او د ليک په پاي کې د کتنې وخت غوښتل ګټور دي. همدارنګه ډاډه اوسئ چې تاسې د عريضې د ترلاسه کولو لپاره وړ کس لرئ، د ليک د تر لاسه کولو د نېټې ليکل د اړيکې د شمېرې په ګډون ډېر ارزښت لري.

ليدنه اومذاکره

له دولتي چارواکو او د کمپنيو له استازو سره شخصي غونډې ډېرې ګټورې وي ځکه چې تاسې ستونزې او اندېښنې په ښه توګه له هغې چا سره شريکوئ چې هغوي له هغې څه چې په ټولنه کې پېښېږي بې خبره دي. تاسې د کمپنيو له استازو او دولتي چارواکو تر کتنو مخکې د ټولنې له غړو سره چې په کتنه کې بايد څه وړاندې شي مشوره وکړئ. د کتنې په اړه د ټولنې د غړو له پاملرنې څخه ډاډه کېږل او د دې معلومول چې دوي له خپل مقابل لوري څه غواړي مهم دي. تاسې کولاي شي کتنې له ټيټي او سيمه ييزې کچې پيل، ورپسې په ولايتي کچه او په پاي کې کابل ته پراختيا ورکړئ. کله چې تاسې کابل کې د کتنې لپاره تيارېږئ بايد چې د ټولو مخکنيو غونډو په اړه اسناد چې تاسې يې غوښتنه کړې او يا مو په ټيټه کچه ترسره کړې دي وښيئ.۴۱۸

کېداي شي تاسې بيا هم د مذاکرې غوښتونکې شئ، تاسې کولاي شئ د دې موضوعاتو د پيداکولو لپاره د ټولنې پراختيايي هوکړه ليک ته مراجعه وکړئ او د خبرو له بېلابېلو کچو ګټه واخلئ.

د عامو خلکو په وړاندې سوله ييز لاريونونه

اساسي قانون د د بې وسلې لاريونونو چې د مشروع او سوله ييزو هدفونو لپاره وي اجازه ورکوي. همدارنګه د ژوندانه د چاپېريال قانون هم د خلکو له حق څخه د کتنو، لاريونونو، عرض کولو او همدارنګه له طبيعي سرچينو څخه د تلپاتې ګټې اخيستنې اړوندو

مسايلو د شريکولو ملاتړ کوي. همدارنګه عمومي لاريونونه خلک پرېشانه کوي او هغوي له امنيتي اندېښنو سره مخ کوي. د لاريون کوونکو د امنيت په اړه ځيني مشورې:

۸۰. اړيکې او پروګرام. ډاډه شئ چې ټول له پلان شوي تګلوري څخه د لاريونونو لپاره خبر وي. د اعتراضاتو ترتيب کوونکي بايد په لاريونونو کې د ګډون کوونکو لېست ولري. د اعتراضاتو ترتيب کوونکي بايد له يوه وکيل سره د اړيکې جزيات ولري که چېرې کوم څوک نيول کېږي او يا هم قانوني مرستې ته اړتيا وي له وکيل سره اړيکه ونيسي.

۸۱. سند . له لاريونونو څخه عکسونه واخلئ چې وښيئ لاريونونه مو سوله ييز دي يا هم کومې بلې موسسې ته د هر ډول تاوتريخوالي د څارنې لپاره بلنه ورکړئ.

۸۲. يو بل ته ځواب ورکړئ.د وړو ډلو لپاره ډېره آسانه او ساده وي، که چېرې يې له ډلې څخه کوم يو ونيول او يا ټپي شي راپور ورکړي. ترتيب کوونکي بايد د دوي ستونزې او حل لارې يې ورته پيداکړي.

۸۳. امنيت او خونديتوب. هڅه وکړئ چې په دې اړه د ډلې غړي په لومړيو زده کړو کې د ګډون تجربه ولري. د اوبو او هوا د بدلون لپاره يو ملاتړي پلان ولرئ. خپل قيمتي مالونه مو په کور کې پرېږدئ او د داسې توکو له وړلو چې په سهوې سره وسله وبلل شي ډډه وکړئ. د ځوانانو او ماشومانو ګډون کوونکو لپاره يو امنيتي پلان ولرئ.

۸۴.

رسني په جريان کې واچوئ

اساسي قانون د بيان د آزادي له حق څخه ملاتړ کوي. تاسې کولاي شئ خپلې اندېښنې مو په مستنده توګه د خبري کنفرانس، راډيو، ورځپاڼه، تلويزيون او ټولنيزو شبکو له لارې شريک کړئ. تاسې همدارنګه کولاي شئ له ملي او نړيوالو رسنيو هم استفاده وکړئ. هر وخت له اشخاصو څخه د دوي د شخصي جزياتو د خپرولو له امله اجازه واخلئ او د رسنيو له لوري د کيسو د بد ښودلو له امله بايد خبر وئ. همداراز مشخص کړئ چې تاسې د جګړې او شخړې د تحريک قصد نه لرئ بلکې د ستونزو د حل لپاره د لارې د لټولو په هڅه کې ياست. که د لاريون له څرنګوالي څخه د رسنيو لپاره په لاندې مشخصاتو سره يوه خلاصه برابره کړئ ډېره به ګټوره وي. د ټولنې نوم، ناحيه يا ولسوالي، ولايت، د کمپنۍ د مليت نوم، شرکت څه وخت جوړ شوي دي، شرکت تر دې وړاندې څه کارونه کړي او په راتلونکي کې د کوم کار د ترسره کولو پلان لري، د هغوي د فعاليتونو له امله څومره کسان تر اغېزې لاندې دي او يا به شي. راتلونکې اصلي اغېزې او له راتلونکو اغېزو وېره، اړوند قوانين، د کورنيو د ژوندانه د وضعيت په اړه يوه يا څو مطالعې برابرې کړئ.




د ځواب ويلو د مکانيزم له لارې چاره لټول

يوه آنلاين پلټنه د ټولو ممکنه لارو په اړه يو کلي ليدلوري، د يوې کاري لارې د رامنځ ته کولو لپاره تاسې ته درکوي. د افغانستان د محکمو، د بهرنيو هېوادونو محکمې، د پراختيايي بانګونو د ځواب ويلو ميکانيزم، د ملګرو ملتونو د سازمان سېستم، يا د نړيوال کار د

سازمان سېستم ILO. ۴۱۹ له لارې، د بشري حقوقو (FIDH) د فدرال له لوري تیار شوي لارښود، د دې میکانیزمونو د هر یوه مفهوم په مفصله توګه تشریح کوي او د یوه شکایت د سند کولو او د هغې ممکنه پایلې یې هم توضیح کړې دي.

یوه کمپنۍ تر فشار لاندې راوستل

د عدالت غوښتلو د یوه کار پیلول او غیر رسمي خصوصي کتنې یو ښه فکر دي. که ستاسې اندېښنو ته توجه ونه شوه، کولای شئ یوه عریضه او شکایت ولیکئ او وروسته خبرې او غونډې جوړې کړئ. د ځان د موقعیت د پیاوړتیا لپاره د ښو تړون کوونکو پیداکول ډېر مهم دي. لکه کارکوونکي، نړیوال سازمانونه او نور. خپل شکایت سهم لرونکو، طلب کارانو، د شرکت پانه اچوونکو، د هېواد هغه سفارت چې شرکت ورپورې تړلي دي، د شرکت د تولیداتو مصرف کوونکي او د اړونده شرکت وړاندې کوونکو ته یې وسپارئ.

که بیا هم ستاسې شکایت وانه ورېدل شو کولای شئ په عمومي اقداماتو لاس پورې کړئ. لکه په افغانستان کې له رسنیو استفاده یا هم د یوه سوله ییز لاریون سازمان کول. عمومي اقدامات کولای شي اغېزمن وي. ځکه چې کمپنیانې نه غواړي د ملي قوانینو په ماتولو، یا هم د اړوندې کمپنۍ د تګلارو ماتول، یا هم د هغو بانګونو قوانین چې دوي ته پیسې ورکوي، یا د نړیوالو معیارونو ماتوونکي او یا هم د سیمې خلکو ته ضربه شي. که اندېښنې په عمومي کچه راپورته شي، لامل کېږي چې کمپنۍ جواز او خپلې پانګې له لاسه ورکړي، شهرت یې له منځه لاړ شي همداراز د شرکت عاید هم اغېزمن کوي شي.

په پای کې تاسې له ډېرو رسمي کانالونو څخه کولای شئ عمل وکړئ لکه د محکمې د شکایت د فورم ډکول (په افغانستان کې د ننه یا بهر) او یا هم د ځواب ورکونې لپاره تړول رامنځ ته شوي میکانیزمونه. دلته له ډېرو مشورو سره یو شمېر سرچینې او لارښودونه د شرکتونو د تبلیغاتو په اړه شته دي.

د دولتي چارواکو تر فشار لاندې راوستل

هماغه ډول مو چې یو شرکت تر فشار لاندې نیوه اوس هم کولای شئ په یوه آرامه عدالت غوښتنه سره حکومت او دولت هم تر فشار لاندې ونیسئ. که ستاسې اندېښنو ته پاملرنه ونه شوه خپل شکایت مو په نېغه توګه د پارلمان غړو، وزارتونو او د ولسمشري دفتر ته وسپارئ، د غونډو او مذاکرو جوړېدل تعقیب کړئ. د رسنیو څارنه کولای شي دولت وهڅوي چې د کانونو د راویستنې عملیات په جدي توګه وڅاري. ۴۲۰

تاسې کولای شئ دولتي چارواکو ته مو د نظر وړ بدلونونه او غوښتنې، هغوي ته د سېستم په ناکاره ښودلو، د ډېرو متحدینو راټولول، د موضوع په اړه بشپړ معلومات لرل او د ملاقات د وخت تنظیمول هم پرې وتپئ. ۴۲۱. تاسې کولای شئ له رسنیو سره ډېر ژر د موضوع د عمومي کېدو او له سوله ییزو لاریونونو استفاده وکړئ.

**ضميمه**

**تعريفونه**

قضاوت کول: د شخړو د حل يو ډول دي چې له مخې يې د شخړې دواړه اړخونه هوکړه کوي. چې د دريم کس پرېکړه چې په بشپړه توګه بې طرفه دي ومني.

د تيزابو/اسيدو تصفيه: هغه وخت تشکيلېږي چې د منرالونو وړونکي سلفېد د خپلواکې هوا او اوبو په وړاندې راشي، سلفېد په سلفوريک اسېدو بدلېږي. دا کولای شي هغو موجوداتو ته چې په اوبو کې ژوند کوي ضرر ورسوي، درملنه يې ډېره سخته او ډېرې بوديجې ته اړتيا لري، کله چې په فعاليت پيل کوي سلګونه کلونه وخت نيسي.

مضرې اغېزې: هر ډول بالقوه اغېزې که هغه په حال او که په راتلونکې زمانه کې دي، که د ژوندانه چاپېريال او يا بشري روغتيا ته زيان ورسوي او يا هم د ټولنې او خلکو په توانايئ کې اختلال رامنځ ته کړي چې د روغتيا او خونديتوب د برابرولو او همدارنګه فرهنګ او اقتصادي هوساينه يې بوديجه ولګوي.۴۲۲

عدالت غوښتل: په سياستونو او کړنو د نفوذ پيداکولو يوه ستراتيژيکه پروسه ده چې د خلکو په ژوند اغېزه کوي. عدالت غوښتل د پروګرام جوړونې (د هدفونو د ټاکنې او نفوذ کوونکو ستراتيژيو) او د (پروګرام پلي کولو) فعاليت پکې شامل دي.۴۲۳

کاني کيندنې: د کانونو راويستل په وړه اندازه وي چې معمولاً چې په لاس کار کېږي، د لومړنيو وسايلو په کارونې سره د وړو ډلو او کسانو له خوا ترسره کېږي. په نړۍ کې په ميليونونو کسان له دې لارې خپل ژوند جوړوي.

چارواکي: دولتي ارګانونه دي چې د کانونو راويستنه کنټرولوي.

دوسيه جوړول: دوسيه جوړول د پروژې او اغېزو په اړه يې د معلوماتو له ټولولو څخه عبارت دي.

د پيښې مطالعه: نه يوازې يو سند دي، بلکې په يوه ټولنه کې د يوې کورنې په اړه يوه ټاکلې کيسه ده چې په دوسيه کې د ننه معلوماتو ته ډېر خصوصي شکل ورکوي، نو د همدې دليل په بنسټ رسنيو او د رسنيو اورېدونکو ته ډېر په زړه پورې وي.

مدني ټولنه: د نادولتي موسسو( NGOs) په ګډون لوېې ډلې، د مدني ټولنې موسسې (CSOs ) اجتماعي سازمانونه (CBOs)، آنلاين ګروپونه او ټولنيزې رسنې، اجتماعي خوځښتونه، ديني مشران، د کارکوونکو ټولنې، اجتماعي کار ورکوونکي، مرستندويه ټولنې او سيمه ييز ارګانونه دي.

د يوه ارګان ننني قوانين چې پيروي يې پرې لازمه ده.

تر يوه شخص نه بلکې د خلکو تر يوې لويې ډلې پورې اړه لري.

د بلابېلو ټولنو يوه ډله چې د ورته موضوعاتو لپاره سره ټولېږي. د بېلګې په توګه: د کبانو د نيولو ټولنه کېداي شي د يو بل د ملاتړ او د ګډو ستونزو د اواري لپاره سره ټول شي .

د ټولنې پروفايل/کارنامه: د ټولنې مشخصات عبارت له ټولو معلوماتو څخه دي چې تاسې کولای شئ د جمعې په اړه پوه شئ، نېټه او جاري وضعيت يې.

د ټولنې پروتوکول: د قواعدو او مسوليتونو يو منشور دي چې د هغې په چوکاټ کې ټولنې خپل عرفي حقوق او ارزښتونه تنظيموي. د ټولنې پروتوکول د طبيعي سرچينو، ځمکې او د فرهنګي او بيولوژيکي سرچينو په نظر کې نيولو سره جوړېږي، څنګه چې په عرفي، ملي او نړيوالو قوانينو کې راغلي دي.

د ټولنې استازي: عبارت له هغو کسانو څخه دي چې د نظرونو، انديښنو او د ټولنې له غوښتنو يې استازيتوب کوي، د ټولنې د ښځو، ماشومانو او ضررمنو ډلو په ګډون. د ټولنې استازي بايد رښتيني، د باور وړ او پياوړي وي. دوي بايد د ټاکنو له لارې وخت په وخت بدل شي.

د شرکت پروفايل/کارنامه: د ټولو هغو معلوماتو مجموعه ده چې تاسې يې د شرکتونو او د هغوی د فعاليتونو په اړه ترلاسه کوي شئ.

مصرف کوونکي: کسان او هغه شرکتونه چې د يوه شرکت توليدات اخلي.
سلاکار: يو کس يا يو ارګان چې د يوې ځانګړې دندې د ترسره کولو لپاره د شرکت او ارګانونو لپاره په کار ګمارل شوي دي. شرکتونه په غالب ګمان سره د EIA د راپور د ليکلو لپاره د وړانديز شوو موسسو لپاره سلاکاران په کار ګماري.
ترون کوونکي: د کانونو د راويستنې شرکتونه نور شرکتونه د ځينو کارونو د ترسره کولو لپاره په کار ګماري. د بېلګې په توګه، د کانونو د راويستنې يو شرکت کېداي شي يو سيمه ييز ساختماني شرکت د سړک جوړونې لپاره استخدام کړي. دغه ساختماني شرکت د ترون کوونکي په نوم سره يادېږي.
سيانيد: يو کيمياوي زهري عنصر دي چې د کانونو د راويستنې په پروسه کې کارول کېږي.
خطر له منځه وړل په دې معني دي چې کان تړل شوي دي او د شاوخوا سيمې يې هم پاک کاري کېږي ترڅو يې سيمه خوندي او بې خطره شي. مخکې تر دې چې يو شرکت د کانونو د راويستنې په اړه د دولت اجازه ترلاسه کړي بايد چې د خطر د له منځه وړلو لپاره يو پروګرام ولري. د فعاليتونو دربدل کولای شي د کيمياوي عناصرو او نورو اضافي توليداتو د پاکېدلو، د ځمکې او خاورې بدلول، د ژورو ډکول، د سبزي جاتو کرل او پاکې اوبه ولري.
د خاورې وړل: د خاورې وړل او د سمندر د سطحې رسوب له سمندر او يا جهيل څخه.
سلاکاران EIA: د EIA د ترسره کولو لپاره د يوه شرکت او يا يو کس په کار ګمارل. شرکتونه ډېري وخت د EIA راپورونو د برابرولو لپاره د خپلو وړانديز شوو پروژو لپاره په کار ګماري.
د محيطي ژوند او اجتماعي اغېزو ارزونه (ESIA): يو سند دي چې د ژوندانه په چاپېريال، خلکو او ټولنه د يوې پروژې ټولې ممکنه اغېزې ښيي. که چېرې منفي اغېزې تثبيت شي، EIA بايد په خلکو او د ژوندانه په چاپېريال د دې منفي اغېزو د کمښت لپاره يو پروګرام ولري.
د محيطي او اجتماعي ژوند د اداره کولو لپاره پروګرام:
دغه پروګرام د يوه ESIA په د ننه کې ځاي په ځاي شوي دي، د محيطي او اجتماعي ژوند د اداره کولو پروګرام يو اوږدمهاله پلان دي د: د ژوندانه چاپېريال ته د ضررونو مخنيوي او يا کمښت، هر ډول دويم ځلي سکونت برابرول او د خسارې د جبران موضوعات، د اغېزمن شوو خلکو د ژوند راګرځول، د دې لپاره چې څنګه کولاي شو د سيمې وضعيت د کان له تړلو وروسته د بې خطره پړاو ته راولو.
استوايي اصول: اجتماعي خطرونو د اواري لپاره د ټاکلو مالي ارګانونو په واسطه يو تصويب شوي کاري چوکاټ دي.
شواهد: شواهد له هغو معلوماتو څخه عبارت دي چې: تصويرونه، اسناد، وېډيو، ليکوه، طبي راپورونه، EIAs او نور په کې شامل دي. شواهد هغه څه دي چې په يوه پېښه کې د ثبوت لپاره په کارېږي. د بېلګې په توګه، شواهد دځمکې د يوه رسمي سند په ډول دي چې په هغې ځمکه د يوه شخص د قانوني مالکيت ښودنه کوي. په ورته توګه، د يوه رسمي ډاکټر راپور کولاي شي د يوه راپور په توګه استفاده شي چې د کانونو د راويستنې پروژې اغېزې د سيمې په خلکو بدې اغېزې لري کنه؟
ناقانونه ګټه اخيستنه: د غيرمسولو کسانو له خوا له ځمکې څخه د پلورلو لپاره د منرالولو له ويستلوعبارت دي
کشفونې: د آزموينې لپاره له ځمکې څخه نمونه اخيستل.
مصادره : د خصوصي ملکيتونو له عمومي کولو څخه عبارت دي.
راويستونکي صنايع: هره پروسه او عمليات چې د خامو موادو راويستل په کې شامل وي لکه: له ځمکې څخه فلزونه او منرالونه راويستل د مصرف کوونکو د استفادې لپاره. دغه پروسه د ګاز د راويستنې، نفت او دا چې ژورونه او خاوره وړنه هم په کې شاملېږي.
مقدماتي مطالعه: يوه مطالعه ده چې ښيي آيا د کانونو د راويستنې پروژه د پوره ګټې لرونکې ده کنه. يوه مقدماتي مطالعه به د منرالونو ارزښت وښيي چې هيواد يې له اقتصادي او سياسي پلوه څومره باثباته دي.
پلي کوونکي: خلک، ډلې او يا هغه شرکتونه چې په واقعي توګه د پروژې په پرمختګ کې ښکلې دي.
د جمعيت راتلل/ هېواد ته د کډوالو راتلل: د جمعيت چټک بدلونونه، څنګه چې خلک له نورو هېوادونو څخه په کانونو کې د کار کولو لپاره راځي.

د فرهنګي، اقتصادي او اجتماعي حقوقو نړیوال میثاق: د بشري حقوقو له مهمو نړیوالو وسایلو څخه دي چې له بشري حقوقو د ساتنې لپاره لکه: د تعلیم حق، روغتیایي پالنې او د استوګنځي حق د استفادې وړ دي.
پانګه اچوونکي: خلک او شرکتونه چې ګټې په هيله په یوه پروژه پانګونه کړي. د بېلګې په توګه، یو پانګونه کوونکي کېداي شي د کانونو د راویستنې یوه شرکت ته پیسې ورکړي چې کار پیل کړي. په دې هوکړې سره چې هر وخت د پروژې د ګټې وخت پیلېږي د فېصدي له مخې د پانګه وال پیسې بېرته ورکړي.
ځمکه په اجاره نیول: د خلکو او ځمکې تر منځ ارتباط چې د قانون او یا د عرف په بنسټ (په انفرادي او ډله ییزه توګه) ټاکل کېږي.
تصفیه: کله چې لویې ډبرې په وړو ټوټو وېشل کېږي او وروسته یو ډول کیمیاوي مواد پرې پاشل کېږي. کیمیاوي مواد قېمتي منرالونه لکه نقره، طلا او نور منرالونه ویلي کوي، چې کولاي شي د ژوندیو کیمیاوي موادو په توګه دویم ځلي ټول شي.
جواز: له پیل وړاندې لکه د کان ویستل، یو کس یا یو شرکت باید د دولت رسمي تصدیق تر لاسه کړي. دغې تصدیق ته جواز ویل کېږي.
منځګړيتوب: د شخړې د حل او فصل یو ډول دي چې په هغې کې یو دریم کس دواړې خواوې خبرو ته اړ باسي.
سیماب: یو ډېر زهري ګاز دي چې د کانونو د راویستنې په پروسه کې استفاده ترې کېږي.
د کان راویستنه: هغه پروسه ده چې په هغې کې خلک او شرکتونه منرالونه او قېمتي ډبرې له ځمکې او یا اوبو څخه راوباسي.
د کانونو وزارت: د افغانستان د کابینې په چوکاټ کې یو وزارت دي چې د کانونو د طبیعي سرچینو په اړه تصمیم نیسي.
ترتیب او منظم کول: کله چې خلک د خپلو عمده او عمومي ستونزو د اوارې لپاره په فعاله توګه راغونډېږي.
ډبرې ماتول: د غرونو د نړولو لپاره چاودېدونکي توکي استعمالولو چې د منرالونو ټوټې یې رابهر شي.
د ژوندانه چاپیریال ملي اداره: په افغانستان کې یوه نمایندګي ده چې د ژوندانه د چاپیریال د ساتنې مسولیت او له قوانینو او مقرراتو سره سم کار کوي.
ملي ګټې: د امنیت او قلمرو د ساتلو لپاره له دولت څخه د ځمکې استفاده ده.
شبکه: د خلکو یا غیردولتي سازمانونو یوه ډله ده چې د یوې عامې موضوع لپاره سره همغږي شوي دي.
د نادولتي سازمانونو شبکه: د نادولتي سازمانونو یوه ډله ده چې د یوې ورته موضوع لپاره سره راټول شوي دي. د بېلګې په توګه، په افغانستان کې د غیردولتي سازمانونو شبکه چې حق الارض، کور جوړول او د طبیعي سرچینو موضوعاتو ته پاملرنه لري.
خلک چې په ځمکه ژوند کوي یا هم په کوم بل ډول کار ترې اخلي، سره د دې چې قانوني حق نه وربانديې لري.
دغه لاره هغه وخت کارول کېږي چې منرالونه د ځمکې سطحې ته نژدې وي. دغه طریقه د ځمکې په سر د لویې کندې رامنځ ته کول دي، سرخلاصي کان کارول کېداي شي ډېره سیمه ونیسي.
مالک:  څوک چې د ځمکې قانوني مالکیت لري، نارینه یا ښځه.
مالکیت: په یوه پانګه د یو شخص له عام او تام حق څخه عبارت دي، مالکیت تر ټولو قوي حق دي چې هر څوک کولاي شي په ځمکه یې ولري. دا مالک ته اجازه ورکوي چې له ځمکې یې هر ډول وغواړي کار واخلي پرته له هغه وخت چې د قانون په ماتولو تورن شي.
غوښتلنلیک: له دولت څخه غوښتنه ده چې څه وکړي او یا هم کوم کار ودروي. د اغېزمن شوو او زیانمنو کسانو له خوا څخه یو غوښتنلیک برابرېږي.
عملي پروګرام: که یوه ټولنه د کانونو د راویستنې له امله اغېزمنه شوې وي او یا هم له راتلونکي زیان څخه وېرېږي، په دې صورت کې باید یو مخکې تر کار پروګرام برابر شي. دغه پروګرام باید د ټولنې د توافق وړ وي او د اړتیا په وخت کې باید بېلابېل خلک د مسولیتونو ترسره کول په غاړه واخلي.
خصوصي ملکیتونه: هغه پانګې چې شخص او یا خصوصي شرکتونه یې قانوني ملکیت لري.
مخکې تر وخت فعالیتونه: تر پېښې مخکې له مناسبو اقداماتو څخه عبارت دي چې د غبرګون د لغت متضاد دي.

د ملکيت حقوق: له يوې ځانګړې دارايي څخه د يوه کس (قانوني اجازه) د کارولو له حق څخه عبارت دي. کېداي شي لېږدېدونکې دارايي چې (شخصي دارايي هم بلل کېږي) او يا نه لېږدېدونکې (لکه ځمکه وي.
آزموينه: د وړو کانالونو د کيندنې او ژوربېدو په واسطه د خاورې نمونه اخيستل او همدارنګه له ځمکې څخه د اوبو او خاورې اخيستل دي. دغه نمونې وروسته د منرالونو د نښو په خاطر تر آزموينې لاندې نيول کېږي. دغه کار جواز نه بلکې د دولت هوکړې ته اړتيا لري.
عامه ګټې: هغه څه چې د خلکو د ژوند د معيارونو په لوړولو کې مرسته کوي، د خدمتونو برابرول او يا هم د خونديتوبونو ساتنه.
عامه ګډون: عامه ګډون په داسې تصميمونو په نيولو کې د خلکو شريکول دي چې هغوي ترې اغېزمن کېږي.
غبرګون کوونکي اقدامات: د ضررونو له پېښېدو وروسته د اقداماتو نيول دي. دغه د مخکې نيوونکو اقداماتو په ضد دي.
د سرچينو راويستل: هر عمل او پروسه چې له طبيعت څخه د سرچينو د را بهر کولو لامل کېږي.
د راټولېدو حق: له هغه حق څخه عبارت دي چې خلکو ته اجازه ورکوي، پرته له دې چې څوک يې مخه ونيسي له يو بل سره په سوله ييزه توګه ووينې.
د بيان د آزادي حق: د معلوماتو د ترلاسه کولو او په خپلواکه توګه د خبرو حق دي. په يوه ټولنه کې د دې لپاره چې سم او په عدالت عمل وکړي د بيان آزادي ډېر ارزښت لري. خلک بايد دا توانايي ولري څه چې فکر او باور لري بايد ووايي، له وېرې پرته که چېرې دولت هم نه غواړي نظر او څرګندونه يې شريکه کړي.
د ټولنيزو اغېزو ارزونه: عبارت له يوه سند څخه دي چې په يوه ټولنه د پروژې ټولې مثبتې او منفي اغېزې ښيي، د نفوسو، کور جوړولو، ښوونې او روزنې، نيونې او فرهنګ په ګډون.
ټولنيز مجوز اجتماعي : کله چې يوه پروژه د خپل کار د ترسره کولو لپاره د سيمې د خلکو هوکړه ترلاسه کوي په دې صورت کې پروژه د اجتماعي جواز لرونکې ده. دا د پروژې د عمر په اوږدوالي کې يوه پرلپسې پروسه ده.
د لاس لرونکو خواوو ګډون: له خلکو سره د يوه ارګان لکه دولت او شرکت له دوه طرفه خبرو (نه يوازې د معلوماتو د خپرېدو له لارې) څخه عبارت دي. هغه خلک چې ژوند او فعاليتونه يې د پروژې له امله اغېزمن کېږي او د دې دوه اړخيزو خبرو هدف، په تصميم نيونه کې د ښکېلو خواوو د واک لرل دي او همدارنګه حساب ورکونې او شفافيت ته پراختيا ورکول دي.
د ژوندانه د چاپېريال ستراتيژيکي ارزونه ( SEA)
د تصميم نيونې يو سېستم دي چې د ژوندانه د چاپېريال په اړه يې اندېښنو ته لومړيتوب ورکول دي. کېداي شي د ژوندانه د چاپېريال ستراتيژيکي ارزونه په EIAs کې هم شامله شي.
وړاندې کوونکي: هغه شرکت چې خپل وسايل او تجهيزات د کانونو په راويستونکي شرکت پلوري.
شفافيت په دولتي يا سوداګريزو ادارو کې په خپلواکه او له هر ډول فساد څخه په پاکه توګه د يو څه ترسره کول دي. د بېلګې په توګه د کانونو د راويستنې په يوه پروسه کې شفافيت ښيي چې شرکت د اجازې د ترلاسه کولو لپاره څومره لګښت کړي دي، څومره ماليه يې ورکړې، دغه پيسې چېرته ځي. معلوماتو ته لاسرسي شفافيت عمده عنصر دي. خلک بايد معلوماتو ته لاسرسي ولري څو ووينې چې آيا شرکت له قانون سره سم عمل کوي او يا دا چې شرکت خپلو دندو ته درناوي لري؟
له کيمياوي او ميخانيکي پروسې څخه عبارت ده چې د کانونو د راويستنې د پروسې له ډېرو موادو څخه نور محصولات توليدوي.
له ځمکې لاندې راويستنه: د منرالونو د راويستلو لپاره په ځمکه کې د تونلونو جوړول او د ځمکې ژورول دي. ځينې وخت د کانونو د راويستنې پروسه په ځمکې کې په ډېر ژور کې ترسره کېږي.
د کليوالو خلکو د حقوقو په اړه د ملګرو ملتونو د سازمان اعلاميه (UNDRIP): دغې اعلاميې د ټولو کليوالو خلکو حقوق په رسميت پېژندلي چې له هر ډول تاوتريخوالي پرته خپل ژوند ته ادامه ورکړي، په خپلو ديني دودونو عمل وکړي، خپلې ځمکې له عرف او دودونو سره سمې اداره کړي او په هغو تصميمونو کې چې د دوي ژوند اغېزمنوي شرکي شي. سره د دې چې دا اعلاميه يو يانون نه دي، دا يوازې يو نړيوال سند دي چې اکثرو ملتونو هوکړه پرې کړې ده چې بومي او اصلي حقوق په رسميت وپېژني.

Acronyms

| | |
|---|---|
| AEITI | Afghanistan Extractive Industries Transparency Initiative |
| AIHRC | Afghan Independent Human Rights Commission |
| ALA | Afghanistan Land Authority |
| ALP | Afghan Local Police |
| AMD | Acid Mine Drainage |
| AREU | Afghanistan Research and Evaluation Unit |
| ASM | Artisanal and Small-Scale Mining |
| CAC | Citizens' Advisory Council |
| CBO | Community-Based Organization |
| CDA | Community Development Agreement |
| CDC | Community Development Council |
| CNPC | China National Petroleum Corporation |
| CSO | Civil Society Organization |
| CSR | Corporate Social Responsibility |
| ESAB | Environmental and Social Advisory Board |
| EIA | Environmental Impact Assessment |
| EITI | Extractive Industries Transparency Initiative |
| EMP | Environmental Management Plan |
| ESIA | Environmental and Social Impact Assessment |
| ESMP | Environmental and Social Mitigation Plan |
| E&P | Exploration and Production |
| FPIC | Free, Prior and Informed Consent |
| GoIRA | Government of the Islamic Republic of Afghanistan |
| IBA | Impact-Benefit Agreements |
| ICC | International Coordinating Committee |
| ICMM | International Council on Mining and Metals |
| IFC | International Finance Corporation |
| IFI | International Financial Institution |
| ILO | International Labour Organization |
| IPIECA | International Petroleum Industry Environmental Conservation Association |
| IWA | Integrity Watch Afghanistan |
| MAIL | Ministry of Agriculture, Irrigation, and Livestock |
| MCC | China Metallurgical Group Corporation |
| MEW | Ministry of Energy and Water |
| MFA | Ministry of Foreign Affairs |
| MIDAS | Mining Investment and Development for Afghan Sustainability, funded by USAID |
| MoCI | Ministry of Commerce and Industry |
| MoE | Ministry of Economy |
| MoF | Ministry of Finance |
| MoLSAMD | Ministry of Labour, Social Affairs, Martyrs and the Disabled |
| MoI | Ministry of the Interior |

MRRD Ministry of Rural Rehabilitation and Development
NEPA National Environmental Protection Agency
NGO Non-Governmental Organization
NHRI National Human Rights Institution
NRMN Natural Resources Monitoring Network
OECD Organization for Economic Cooperation and Development
RAP Resettlement Action Plan
SESA Strategic Environmental and Social Assessment
SIA Social Impact Assessment
SLO Social License to Operate
SME Small- and Medium Enterprises
SOE State-Owned Enterprise
TAPI Turkmenistan-Afghanistan-Pakistan-India natural gas pipeline
TFBSO Task Force for Business and Stability Operations, of the United States Defense Department
TMF Tailings Management Facility
TSF Tailings Storage Facility
UN United Nations
UNDRIP United Nations Declaration on the Rights of Indigenous Peoples
UNICEF United Nations Children's Fund
USAID United States Agency for International Development
USD United States Dollar

**1** -USAID, “Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile” (۲۰۱۰).

**2** -USAID, “Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile” (۲۰۱۰).

3 -Zoi Environment Network, “Cartoon Summary of the Toolkit Companion, Mining, Development and Environment in Central Asia” (۲۰۱۳); United Nations Environment Programme & Zoi Environment Network, “Mercury and Other Toxic Chemicals and Waste: A Cartoon Summary” (۲۰۱۳).

**4** -USAID, “Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile” (۲۰۱۰).

5 -Adam Smith International, “The Strategic Environmental and Social Assessment for the Extractives Industry Sector in Afghanistan (SESA-EI)” Second Draft (Sep ۲۰۱۳).

6 -Adam Smith International, “The Strategic Environmental and Social Assessment for the Extractives Industry Sector in Afghanistan (SESA-EI)” Second Draft (Sep ۲۰۱۳).

7 -Adam Smith International, “The Strategic Environmental and Social Assessment for the Extractives Industry Sector in Afghanistan (SESA-EI)” Second Draft (Sep ۲۰۱۳).

8 -Adam Smith International, “The Strategic Environmental and Social Assessment for the Extractives Industry Sector in Afghanistan (SESA-EI)” Second Draft (Sep ۲۰۱۳).

9 -Adam Smith International, “The Strategic Environmental and Social Assessment for the Extractives Industry Sector in Afghanistan (SESA-EI)” Second Draft (Sep ۲۰۱۳).

10 -United Nations Environment Programme (UNEP), “Natural Resource Management and Peacebuilding in Afghanistan” (۲۰۱۳).

11 -United Nations Environment Programme (UNEP), “Natural Resource Management and Peacebuilding in Afghanistan” (۲۰۱۳).

12 -United Nations Environment Programme (UNEP), “Natural Resource Management and Peacebuilding in Afghanistan” (۲۰۱۳).

13 -United Nations Environment Programme (UNEP), “Natural Resource Management and Peacebuilding in Afghanistan” (۲۰۱۳).

**١٤**- Saleem H. Ali and John F. Shroder, “Afghanistan’s Mineral Fortune: Multinational influence and development in a post-war economy” Institute for Environmental Diplomacy and Security (۲۰۱۱).

**١٥**- Saleem H. Ali and John F. Shroder, “Afghanistan’s Mineral Fortune: Multinational influence and development in a post-war economy” Institute for Environmental Diplomacy and Security (۲۰۱۱).

١٦- Saleem H. Ali and John F. Shroder, "Afghanistan's Mineral Fortune: Multinational influence and development in a post-war economy" Institute for Environmental Diplomacy and Security (٢٠١١).

١٧- Saleem H. Ali and John F. Shroder, "Afghanistan's Mineral Fortune: Multinational influence and development in a post-war economy" Institute for Environmental Diplomacy and Security (٢٠١١).

18 -Benish, Abdul Jalil. "Dawa Ya Bala? Implications of Kilij Coal Mine Closure for Bamiyan's Security Situation" Afghanistan Watch: Kabul (Mar ٢٠١۴).

١٩ -Atiq Sediqi, Presentation on "Mineral Wealth of Afghanistan", CSNRM Training (Nov ٢٠١٣).

٢٠ -Motley Fool, "Eyes on Afghanistan as Next Lithium Motherlode" (٢۵ Mar ٢٠١۴).

٢١ -Motley Fool, "Eyes on Afghanistan as Next Lithium Motherlode" (٢۵ Mar ٢٠١۴).

٢٢ -Motley Fool, "Eyes on Afghanistan as Next Lithium Motherlode" (٢۵ Mar ٢٠١۴).

٢٣ -Motley Fool, "Eyes on Afghanistan as Next Lithium Motherlode" (٢۵ Mar ٢٠١۴).

٢٤ -Motley Fool, "Eyes on Afghanistan as Next Lithium Motherlode" (٢۵ Mar ٢٠١۴).

٢٥ -Dr. Atiq Sediqi, Presentation on "Mineral Wealth of Afghanistan", CSNRM Training (Nov ٢٠١٣).

٢٦ -Dr. Atiq Sediqi, Presentation on "Mineral Wealth of Afghanistan", CSNRM Training (Nov ٢٠١٣).

٢٧ -Dr. Atiq Sediqi, Presentation on "Mineral Wealth of Afghanistan", CSNRM Training (Nov ٢٠١٣).

٢٨- Dr. Atiq Sediqi, Presentation on "Mineral Wealth of Afghanistan", CSNRM Training (Nov ٢٠١٣).

٢٩ -Dr. Atiq Sediqi, Presentation on "Mineral Wealth of Afghanistan", CSNRM Training (Nov ٢٠١٣).

٣٠- Dr. Atiq Sediqi, Presentation on "Mineral Wealth of Afghanistan", CSNRM Training (Nov ٢٠١٣).

٣١ -Dr. Atiq Sediqi, Presentation on "Mineral Wealth of Afghanistan", CSNRM Training (Nov ٢٠١٣).

٣٢- Dr. Atiq Sediqi, Presentation on "Mineral Wealth of Afghanistan", CSNRM Training (Nov ٢٠١٣).

٣٣ -Dr. Atiq Sediqi, Presentation on "Mineral Wealth of Afghanistan", CSNRM Training (Nov ٢٠١٣).

٣٤- Dr. Atiq Sediqi, Presentation on "Mineral Wealth of Afghanistan", CSNRM Training (Nov ٢٠١٣).

٣٥ -Dr. Ibrahim Jafari, Presentation on "General Overview of Mining in Afghanistan", CSNRM Training (Nov ٢٠١٣); Afghanistan Geological Survey, "Precious Stones", http://www.bgs.ac.uk/AfghanMinerals/preciousStone.htm

٣٦- Dr. Atiq Sediqi, Presentation on "Mineral Wealth of Afghanistan", CSNRM Training (Nov ٢٠١٣).

۳۷ -Adam Smith International, "The Strategic Environmental and Social Assessment for the Extractives Industry Sector in Afghanistan (SESA-EI)" Second Draft (Sep ۲۰۱۳).
**۳۸ -**۳۸ MoMP, "Mineral Resources of Afghanistan – Driver for Regional Economic Development", London presentation (Jun ۲۰۱۱).
**۳۹-** South China Morning Post, "Next Afghan President will face a battle for control of nation's mineral wealth" (۴ Apr ۲۰۱۴).
**٤٠ -**Adam Smith International, "The Strategic Environmental and Social Assessment for the Extractives Industry Sector in Afghanistan (SESA-EI)" Second Draft (Sep ۲۰۱۳).
٤١ Tolo News, "Amu Darya Basin Oil Extraction Operation Halted" (۲۰ Aug ۲۰۱۳).
**٤٢ -**٤٢ Adam Smith International, "The Strategic Environmental and Social Assessment for the Extractives Industry Sector in Afghanistan (SESA-EI)" Second Draft (Sep ۲۰۱۳).
**٤٣-** Adam Smith International, "The Strategic Environmental and Social Assessment for the Extractives Industry Sector in Afghanistan (SESA-EI)" Second Draft (Sep ۲۰۱۳).
**٤٤-** Adam Smith International, "The Strategic Environmental and Social Assessment for the Extractives Industry Sector in Afghanistan (SESA-EI)" Second Draft (Sep ۲۰۱۳).
**٤٥ -**United Nations Environment Programme (UNEP), "Natural Resource Management and Peacebuilding in Afghanistan" (۲۰۱۳).
٤٦ -Presentation by Asian Development Bank at Centre for Strategic and International Studies in Washington, DC (Jun ۲۰۱۴).
٤٧ -Bridges Across Borders Cambodia & Development and Partnership in Action, "A Community Guide to Mining: Impacts, Rights and Action" (۲۰۱۲).
48- GoIRA, Constitution (۲۰۰۴), art. ۷۵.
49- GoIRA, National Mining Policy.
50 -MoMP, "Mineral Resources of Afghanistan – Driver for Regional Economic Development", London presentation (Jun ۲۰۱۱).
51 -GoIRA, National Mining Policy.
52 -GoIRA, Constitution (۲۰۰۴), art. ۸۱.
53 -United States Institute of Peace, "Extractive Industries and Peacebuilding in Afghanistan: The Role of Social Accountability" (۲۰۱۳).
54- USAID, "Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile" (۲۰۱۰),
55 -South China Morning Post, "Next Afghan President will face a battle for control of nation's mineral wealth" (۴ Apr ۲۰۱۴)
56 -CSNRM, Press Release, "Civil Society Urges Afghan Government to Stop Looting of Mineral Resources" (۲۱ Dec ۲۰۱۳).

57 -CSNRM, Press Release, “Civil Society Urges Afghan Government to Stop Looting of Mineral Resources” (۲۱ Dec ۲۰۱۳).
58 -Rights & Democracy, “Getting it Right”, Step ۱۱,
http://hria.equalit.ie/en/phases/index.html#/phase/b/etape/۱۱/.

۵۹-Bridges Across Borders Cambodia& Development and Partnership in Action, “A Community Guide to Mining: Impacts, Rights and Action” (۲۰۱۲).
۶۰-CNN, “Global ۵۰۰” (۲۰۱۳).
٦١- Saleem H. Ali and John F. Shroder, “Afghanistan’s Mineral Fortune: Multinational influence and development in a post-war economy” Institute for Environmental Diplomacy and Security (۲۰۱۱).
٦٢-SAIL, “About Us”, http://www.sail.co.in/company/about-us
٦٣- Heinrich Böll Foundation, “Facts and Figures about the Aynak Copper Mine” (Jul ۲۰۱۳).
٦٤- Economic Times, “SAIL-led consortium AFISCO bags ore mining rights in Hajigak, Afghanistan” (۲۹ Nov ۲۰۱۱).
٦٥- Kilo Goldmines, “Afghanistan Hajigak”,
http://www.kilogoldmines.com/?s=afghanistan.
٦٦- ٦٦ Watan Group, Letter to Congressman Rohrabacher (۲۷ Sep ۲۰۱۲).
٦٧- MoM, “Afghan Firm Selected in Second Afghan-Tajik Oil and Gas Tender” News Release (۲۲ Apr ۲۰۱۴).
٦٨-MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (۸ Dec ۲۰۱۲).
٦٩- MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (۸ Dec ۲۰۱۲).
٧٠- MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (۸ Dec ۲۰۱۲).
٧١- MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (۸ Dec ۲۰۱۲).
٧٢- MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (۸ Dec ۲۰۱۲).
٧٣- Kilo Goldmines, “Afghanistan Hajigak”,
http://www.kilogoldmines.com/?s=afghanistan
٧٤ - MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (۸ Dec ۲۰۱۲).
٧٥- MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (۸ Dec ۲۰۱۲).
٧٦- Pajhwok Afghan News, Special Mines Page, http://mines.pajhwok.com/
٧٧- Green Tech Construction & Engineering, http://greentech.af/
٧٨- Green Tech Construction & Engineering, http://greentech.af/environmental-studies-of-amu-darya-basin-oil-tender-۳/.
٧٩- Central Asian Mining Services, http://cams-mining.com/
٨٠- Kilo Goldmines, “Afghanistan Hajigak”,
http://www.kilogoldmines.com/?s=afghanistan
٨١- Afghanite, http://afghanite.net/
٨٢-Bridges Across Borders Cambodia& Development and Partnership in Action, “A Community Guide to Mining: Impacts, Rights and Action” (۲۰۱۲).
٨٣-CNN, “Global ۵۰۰” (۲۰۱۳).

٨٤- Saleem H. Ali and John F. Shroder, “Afghanistan’s Mineral Fortune: Multinational influence and development in a post-war economy” Institute for Environmental Diplomacy and Security (٢٠١١).
٨٥-SAIL, “About Us”, http://www.sail.co.in/company/about-us
٨٦- Heinrich Böll Foundation, “Facts and Figures about the Aynak Copper Mine” (Jul ٢٠١٣).
٨٧- Economic Times, “SAIL-led consortium AFISCO bags ore mining rights in Hajigak, Afghanistan” (٢٩ Nov ٢٠١١).
٨٨- Kilo Goldmines, “Afghanistan Hajigak”, http://www.kilogoldmines.com/?s=afghanistan.
٨٩- ٨٩ Watan Group, Letter to Congressman Rohrabacher (٢٧ Sep ٢٠١٢).
٩٠- MoM, “Afghan Firm Selected in Second Afghan-Tajik Oil and Gas Tender” News Release (٢٢ Apr ٢٠١٤).
٩١-MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (٨ Dec ٢٠١٢).
٩٢- MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (٨ Dec ٢٠١٢).
٩٣- MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (٨ Dec ٢٠١٢).
٩٤- MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (٨ Dec ٢٠١٢).
٩٥- MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (٨ Dec ٢٠١٢).
٩٦- Kilo Goldmines, “Afghanistan Hajigak”, http://www.kilogoldmines.com/?s=afghanistan
٩٧ - MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (٨ Dec ٢٠١٢).
٩٨- MoM, “Preferred Bidder for Current Mineral Tenders” News Release (٨ Dec ٢٠١٢).
٩٩- Pajhwok Afghan News, Special Mines Page, http://mines.pajhwok.com/
١٠٠- Green Tech Construction & Engineering, http://greentech.af/
١٠١- Green Tech Construction & Engineering, http://greentech.af/environmental-studies-of-amu-darya-basin-oil-tender-٣/.
